...امریکا او ناټو کډې باروي...!

شهامت

اووم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې۴۳، ربیع الاول-۱۴۳۵هق، جنوري ۲۰۱۴م

د امریکا او کرزي وروستۍ ناندرۍ په څه...؟

د شهید مولوي محمد جان صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

اوباما بر شکست جنګ در افغانستان اعتراف کرد

طالبان او سنی رژیم پرزولی شي....؟

دسیاکرد غمیزه او له عاملینو یې انتقام

آه!! دهیواد جید او زړور دیني عالم مولوي عبدالله ذاکري...

عملیات جهادی اخیر

دبرتانوي میډیا اعتراف:

افغانان له اسلام پرته بل دین نه مني...

په ۲۰۱۳ کې دمجاهدینو په مطبوعاتي لاسته راوړنو ددښمن اعترافات

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې۴۳ ، ربیع الاول 1435هق، جنوري۲014م

لړلیک

مخ	عنوان	ګڼه
1	سرلیکنه	1
3	سیرت او د پیروۍ څلور اساسات........................	2
5	عملیات جهادي اخیرش..............................	3
۷	په (۲۰۱۳) دمجاهدینو مطبوعاتي لاسته راوړنې............	4
۱۰	طالبان اوسنی رژیم پرزولې شي؟........................	5
۱۲	تیر کال فاریاب ولایت د تحولاتو........................	6
۱۶	آه ! دهیواد جید او نومیالی عالم.......................	7
۱۷	داصول فقه او اجتهاد تاریخ............................	8
۲۰	د شهید مولوي محمدجان صاحب دژوند....................	9
۲۵	د اسلام اساسات....................................	10
۳۲	دبر تانوي میډیا اعتراف................................	11
۳۴	اوباما به اختتام اعلام جنګ در افغانستان..................	12
۳۶	امریکا او ناټو ګډې بار وړی.............................	13
۳۸	مصري دولت ناسمې پریکړي............................	14
۴۵	میدان وردګ ولایت..................................	15
۵۰	اسلامي هیوادو کې داسلامیت............................	16
۵۴	هندوستان ولې پر امریکا تیڼګار کوي......................	17
۵۵	ستاد تور تاریخ توره پاڼه................................	18
۵۷	دمصر وروسته په تریکه کې.............................	19
۶۲	دسیاه ګرد غمیزه له عاملینو یې انتقام.....................	20
۶۸	شام دحدیثو په رڼا کې................................	۲۱
۷۲	سه امراض مهلک....................................	۲۲
۷۵	د ډاکتر زاکر نایک په اړه..............................	2۳
۷۸	موترهای زرهی.....................................	2۴

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد ''حقاني'' لطیف عزم

حسن ''علوي'' بلال ''وحید''

نعیم ''صافي'' عابد مجاهد

قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه 20 افغانۍ او 30

کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په

غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

د امریکا او کرزي وروستۍ ناندرۍ په څه ...؟

د کابل لاسپوڅي رژیم مشر (کرزی) دخپل مجرمانه واک د دورې په وروستیو شیبو کې زیار ګالي څو په جعلي او ناندریز ډول ځان دافغان ستر ملت د ملي ارزښتونو قهرمان او ساتونکی وښيي.

حال داچې دنوموړي نه بښونکي جنایتونه، خیانتونه اود اسلام په ضد جسارتونه هیڅکله له چا پټ نه دي او ټول د تاریخ اوخلکو په یادابنت کې شته.

عجیبه داده چې کرزی په ناځوانمردانه کړو وړو او کړغېړنو خوځښتو د شرم یا عار محسوسولو په ځای دافغانانو په ستر ګو کې دخاورو په اچولو هڅه کوي ځان په افغانیت اووطن مین وښيي.

مثلا: څو ورځې دمخه کابل کې له خبریالانو سره دخبرو پرمهال یې یادونه وکړه چې: "دامنیتي تړون دلاسلیک لپاره دډول ډول اقتصادي، سیاسي او تبلیغاتي فشارونو سره مخامخ دی، هماغسي چې په ۱۸۹۳ز کې دډیورنډ تړون ترمخه امیر عبد الرحمن خان دانګریزانو دفشار سره مخامخ و، که پوره ځیر تیا ونه شي بنایې افغانستان دګندمک او ډیورنډ په څیر معاهدې ته اړ شي اودی داکار نه غواړي..."

دلږې پوهې اوادراک خاوند هم پوهېږي چې اوس دجناب! داډول څرګندونې دمظلومو افغانانو په زخمونو د مالګې دوړولو مرداف عمل دی! کنه له امریکایانوسره په پټو ستر ګودتور کړغېړن سند شرائط بشپړول او بیادلیندۍ په ۳مه دمشورتي لویې جرګې نه تصویبول پخپله دده هغه نه بښونکی تاریخي جنایت اوخیانت دی چې دافغانستان په ټول تاریخ کې بل چاندی کړی ؟ایاله نوموړي پرته بل چاته دېرې ګوته نیول کیدای شي؟؟ هیڅکله نه! که ربنتیا کرزي نه غوښتلی چې افغانستان دې دډیوورنډ او ګندمک په څیر له کومې بلې شرموونکې معاهدې سره مخ نشي، نن به افغانستان او دی له دغه ډول فشارونو سره نه ومخامخ!!

دسیاسي چارو کارپوهان دکرزي نویو څرګندونوته د"هندو سترې خدای ناراض" په بڼه ګوري ،اوبریښي داسي چې دلویې جرګې نه دامنیتي تور سند له تصویب وروسته امریکا ترې دخپل "کرم" نظر بل لورته اړولی!.

ځنګه چې په داوروستیو کې امریکایې پلټونکو خبرداری ورکړی چې دکرزي په شپاړس وزیرانو کې په یوه هم دپیسو دنه ضایع کیدو حساب نه شي کیدای!

یا دامریکایې سرمفتش داوینا:چې افغانستان حکومت ته په مستقیم ډول دمرستو ور کول دامریکاد پیسو ضایع کیدلو امکان زیات کړي!

هم داراز :دامریکایي کانګریس له لوري دروان کال لپاره دافغانستان انکشافي مرستو بودیجه ترنیمایې هم ډېره کمول.

دکتونکو له نظره داهغه مهم ګامونه دي چې پر سرېې کرزی له امریکا دومره خوابدی اوخواشینی شوی چې آن امریکاته په اخطارونو....هم بریک نه نیسي!!

هغه تمه درلوده چې دلویې جرګې نه دامنیتي تړون په تصویبولو به ځان امریکا ته ترپخوا نور ډېر نیږدې حس کړي!! امریکابه یې دهڅو اوستړیاوو قدر داني وکړي، په بښو القابو، شابسیو، غوړو چړبو ډالیو او ډول ډول مډالونو به یې ونازوي!! ددې په ځای هغوئ ورته شاه کړه اوله افغانستانه دوتلو ترڅنګ یې په کوم بل ګوډاګي نظر خښ کړی.

اوښکاره ده چې امریکاهم مجبوریتونه لري هلته په امریکا کې دننه له روان جنګه دخلکو دملاتړ سلنه مخ په کمیدوه ده، دامریکاډېر خلک له خپلو واکمنو بیا بیا پوښتنه کوي چې :افغانستان کې ولې ددوئ سرونه پر ته له کوم دلیل اوګټې له منځه ځي؟وایې مونږ تراوسه ددغه جنګ په سروبر پوی نه یو! اونه یکې دخپل بري تمه لرو! داوجه ده چې داوباما حکومت دیته اړبریښي چې هرڅومره ژر وي افغانستان کې روان جنګ پای ته ورسي!دامریکا دخلکو دنظرپوښتنو وروستي ارقام هم ښیي چې دامریکاپه سلو کې ۵۲ وګړي افغانستان کې له جنګ سره مخالفت لري، اوروانه جګړه دامریکالپاره ستر زیان بولي

خو کرزي ته بیا دهغوئ په تلو کې دخپل ځان اوسر تاوان ښکاري !!هرڅو چې دجګړې دپای شیبې نیږدې کیږي نوموړی دامریکا یې لورینو کمښت احساسوي،چې له رواني لحاظه دې رويي یې په روحیه منفي تاثیر ډیر کړی او دیته اړشوی دی چې په امریکا دخپل زړه بړاس دخبري کانفرانسونو پرمهال په توندو ځرګندونو اوقهرجنو نیوکو وباسي، څو په دې ځانته څه نه څه تسکین ور کړي ،لیکن امریکایان پوهیږي چې کرزی اوس له کاره لویدلې هغه ماشینې پرزې ته ورته دی ،چې هیڅ ارزښت نه لري ، په ولس کې یې اعتبار له لاسه ور کړی، څوک پرې باورنه لري بل که اوس هرڅه وایي! وایې دي ! دوئ ور ته اړتیانه لري...

که څه هم مونږ ته نه ښکاري! بیاهم که ښاغلی ځان اصیل افغان او... بولي ! له افغانستانه سره مینه لري، دافغانستان استقلال ته ژمن وي !او نه غواړي چې افغانستان دډیورنداوګندمک پشان له بل کرغیږن تړون سره مخا مخ شي نو اوس هم دتوبې دروازه بنده نه پرانیستې ده... له امریکاسره دامنیتي قراردادپه لغوه اعلانولودې دخپلو کړو جنایتونو کفاره ادا کړي!خو....!

سیرت

او د

پیروۍ څلور اساسات

بشیر : ----------------------

دهر مسلمان لپاره داسلام د سپېڅلي دین دپیغمبر (ﷺ) د ځلانده اومبارک سیرت لوستل او دهغه په اړه علم درلودل ضروري دی.

له دې پلوه چې مونږ دحضرت محمد (ﷺ) امتیان یو، لازم ده چې درسول الله مبارک د هر، هر سنت اوعمل پیروي وکړو، ددې لپاره باید نبوي سیرت مطالعه کړو،وربانديې ژور غور اوفکر وکړو اوبیا په هغه دعمل کولو کوښښ کړو.

خو داکار ترهغه پورې ممکن ندی، څوچې زمونږ زړونو ته درسول الله (ﷺ) دبې پناه محبت او دبې پایه احترام جذبه یا روحیه بشکته شوې نه وي.

ترهغه وخته زمونږ ایمان کامل نه دی، څو چې زمونږ په زړونو اومغزو کې درسول الله (ﷺ) دمحبت یوه لویه پانګه خوندې شوې نه وي، بشکاره ده چې هر کله مونږ دغه پانګه ومومو بیا درسول الله (ﷺ) دسنت پیروي، او دهغه دمبارک سیرت خپلول، خپل ژوند له هغه سره برابر ول هیڅ ستونزمن کار ندی.

درسول الله (ﷺ) سره دتعلق اومحبت کولو څلور اساسات داسي دي چې دهغو په مضبوطو نیولوپه مبارک سیرت دعمل کولو حق پوره کیدای شي اودهغو څلورو اساساتو په کلکه تو ګه له نیولو پرته په نبوي سیرت باندې دعمل کولو حق به نیمګړی اوبشپړ نه وي.

اوهغه څلوروارړه اساسات عظیم الشان قرآن پخپله ښودلي دي :

پس کومو خلکو چې په تا(رسول الله ﷺ) ایمان راوړ، کومو خلکوستا تعظیم وکړ، کومو ستامرسته وکړه اوکومو دهغه نور اتباع وکړه کوم چې په تا نازل شوی دی هم داخلک کامیاب دي(الاعراف ۱۵۷)په پورته ایت دغور کولو وروسته درسول الله(ﷺ) سره دتعلق چې کوم څلور اساسات دي هغه ترې ماخوذ کېږي کوم چې په لاندې ډول دي:

په رسول الله (ﷺ) ایمان راوړل..

درسول الله (ﷺ) تعظیم کول...

درسول الله (ﷺ) مرسته کول ...

په رسول الله (ﷺ) چې دهدایت لپاره کوم نور نازل شوی دهغه پیروي کول...

په رسول الله (ﷺ) ایمان:

ترهرڅه دمخه ایمان درسول الله (ﷺ) دذات مبارک سره دتعلق جوړولو لومړی اساس دی، په دې ایمان راوړل چې هغه دالله (ﷻ) رسول اونبي دی، او په دې یقین کول چې رسول الله مبارک دټولې نړۍ لپاره دالله (ﷻ) لخوا رسول او نبي لیږل شوی دی.

په کلمه طیبه : لا اله الا الله محمد الرسول الله او شهادت کلمه: اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد عبده ورسوله دواړو کې دالله (ﷻ) په توحید داقرار او اعلان وروسته ددې خبرې تصدیق دی، چې رسول الله (ﷺ) دالله رسول دی،دایواځې په ژبه اقرار نه بلکې په زړه به هم تصدیق کوي، هر کله چې زړه ته داعقیده دننه شي بیا دنړۍ هیڅ انقلاب یې متزلزل کولی نه شي.

درسول الله (ﷺ) تعظیم اوتوقیر :

دویم اساس داچې دهر امتي په زړه کې به درسول الله (ﷺ) په باره کې بې پناه محبت، احترام تعظیم اوتوقیر موجود وي، دیوې ادنی بې ادبی، اوبې توقیرۍ واهمه به یې هم په خیال کې نه تیریږي.

درسول الله (ﷺ) په مجلس کې به ځینو خلکو په لوړ غږ خبرې اولفاظي کوله اوپه دې به یې دخپلې پوهې هنریت ښودو، په دې سره دالله (ﷻ) له لوري تنبیه راغله، چاچې داکار کاوه هغوئ منع کړای شول، دیته په پام دمفسرینو اومحدثینو په نزد درسول الله (ﷺ) داوازنه خپل اواز پورته کول بې ادبي ده، خو ددې ممانعت مخاطبین یواځې هغوئ نه بلکې ټول امت دی، له دې وجې که یوڅوک درسول الله (ﷺ) په حکمونو اوفرمانو نظر جنګې کوي، یا نعوذبالله ور ته ددقیانوسیت نسبت کوي، یا نورې پلمې اوحیلې جوړوي هغه ددې حکم تروعید لاندې دي

دیوه محدث غالبأعبد الله بن مبارک (رحمه الله) په مخ کې یوچاوویل: څما کدو خوښ ندی،عبد الله بن مبارک سملاسي پورته شو اوتوره یې له تیکي وویسته هغه سړي ته یې ویل: ژر دایمان تجدید وکړه، کنه هم دا اوس درنه سر قلموم، دیو شي خوښول اونه خوښول اګر که طبعي امر دی، خو دلته دمحبت او احترام غوښتنه داده چې څوک باید درسول الله (ﷺ) په خوښه دناخوښۍ اظهار ونکړي، که وي کړ، بې ادبي ده، اویکې دتوهین اړخ شته دی، الله (ﷻ) هرنبي اورسول یواځې دمنلو لپاره نه رالیږي، بلکې هغه واجب الاطاعت هم وي، دهغه دحکمونو اوفیصلو په وړاندې سر ښکته کول دهغه دسنتو پیروي لازم ده، دهغه دهر ګام پیروي په "وتوقروه" کې راځي.

درسول الله (ﷺ) سره مرسته :

دریم اساس دی درسول الله (ﷺ) نصرت او مرسته کول، څنګه چې نبوت اورسالت دالله (ﷻ) له لوري یو منصبي فریضه ده، بې لارې خلک په لار کول، دشرک دتورو تپو تیارونه داسنانانو راویستل، دایمان اوتوحید دڼا په لور دهغوئ بیول، بشریت ته دصالحه اعمالو، حسنه اخلاقو تعلیم ور کول، انساني خدایان راپرزول، ټول انسانان دیوه خدای په لور دعوتول او انسان ته ددې خبرې یقین ور کول چې هغه به یوه ورځ له دې نړۍ څخه کوچ کوي، اوبیا به دقبر نه پورته کیږي، دخپل خالق اومالک په مخکې به ددنیا دټول عمر دحساب و کتاب ور کولو لپاره وړاندې کیږي.

ددې ټولو خبرولپاره رسول تبلیغ اوجهاد کوي، دایوه له ستونزو ډکه مرحله ده، چې کله یو انسان دکلو کلو عقیده اورسمونه پریږدي اوپه نیغه لار روانیږي، په دې کار ټول ماحول دهغه دښمن کیږي، کوم خلک چې دالله (ﷻ) رسول مني، په هغوئ لازمه ده چې د الله درسول ملاتړ اوملګر تیا وکړي، درسول الله (ﷺ) ملګرو (صحابه وو) دایمان راوړو وروسته هم دومره لویه فداکارې وکړه په هر محاذ اومیدان درسول الله (ﷺ) په ملاتړ وجنګیدل، جنګونه اوجهادونه یې وکړل په "ونصروه" کې هم دیته اشاره شویده، صحابه وو ډیرې ستونزې وګاللې ترپایه درسول الله (ﷺ) ټینګ ملګري اوملاتړي پاتې ول.

درسول الله (ﷺ) دراوړې نور پیروي:

څلورم اساس دی دراوړې نور پیروي کول، په حجة الوداع کې رسول الله وویل:

زه چې تاسو ته کوڅه پریږدم، که هغه تاسو کلک ونیو هیڅکله به ګمراه نشئ! هغه دی دالله کتاب!

دالله (ﷻ) کتاب کلک نیول په هغه عمل کول درسول الله (ﷺ) په سیرت عمل دی، نن سبا چې مسلمانانو ټول دین ته شاکړځولې، هرځای په هر هېواد اوهر چیرې منکرات ډیر شوي، دالله نه بغاوت داسلام نه بیزارې، ددیني تهذیب نه لریوالی په دیني عقایدو اومسلمانانو پورې ملندې وهل کیږي، په دې وخت کې دیوه مسلمان تن لپاره ضروري ده، چې هغه درسول الله (ﷺ) سیرت پوره مطالعه کړي، څو درسول الله (ﷺ) دمبارک ژوند پیروي وکړي، درسول الله له اخلاقو اوسنتونه ځان خبر کړي، دمغرب نه چې دشیطاني تهذیب کومه سیلۍ راالوتې دهغې نه دخپل ځان اوخپل اولاد ژغورلو په موخه باید هر مسلمان خامخا درسول الله (ﷺ) مبارک سیرت وپیژني او په هغه عمل وکړي څو ددغه شیطاني تهذیب دغوړیدلې جال په لومو کې ونه نښلي...

عملیات جهادی اخیرش

من را سراسیمه ساخته است

ذبیح الله مجاهد

عملیات پی هم ماه گذشته در برابر دشمن ، خصوصا بر مراکز تحت حمایه استخباراتی، قرارگاه ها و افسران دشمن خارجی و داخلی لگام ابتکار کار زار را از دشمن کاملا به تصرف مجاهدین در آورده است.

دشمن میکوشید که سال نو میلادی ۲۰۱۴ را، سال اختتام جنگ و سال به دست آوردن اهداف شوم خود از جنگ و اشغال افغانستان جلوه دهد، ولی تقدیر چیزی دیگری بر سر دشمن آورد، عملیات گسترده، پی هم ، پیچیده و نیرومند علیه دشمن در ماه جنوری سال نو میلادی، عقل را از نظامیان دشمن ربود،آنها را سراسیمه ساخت و سیاسیون کاخ سفید را نیز در برابر نظامیان و عساکر اشغالگر خود بی باور ساخته است،به نظر آگاهان امور نظامی، حالت کنونی دشمن در افغانستان کاملابه ورشکستگی می ماند و عقیم نمودن همه پلانهای دشمن در میدان نبرد را نشان میدهد.

به نظر آگاهان هر نیرو نظامی که در زمان اعلان پایان جنگ برحالت کنترول نه داشته باشد، علمیات جانب مقابل را در برابر خود به صفر کاهش نه داده باشد، پلانهای مهمی را که بخاطر آن درگیر نبرد بود عملی نه کرده باشد و حلقه محکمی را دور اهداف خود بنا نه نموده باشد، آن نیرو در واقعت امر، شکست خورده و ادعاهای برد جنگ، اعلانهای بهبود وضعیت و کنترول بر حالت، کاملا بی اساس است و نه میتوان به ادعاهای محض خود را برنده معرفی کرد.

نیروهای اشغالگر امریکایی اکنون در افغانستان در همین حالت قرار دارند.

ـ ادعا می نمایند که حالت به نفع آنها بهبود یافته ، ولی در عمل حملات کوبندهء بر حریم استخباراتی و قرارگاهای مهم نظامی دشمن کماکان ادامه دارد، که خود خط بطلان را بر دعوا دشمن می کشد!!؟

ـ جنرالان امریکایی ادعای منظم نمودن نیروهای مزدور را می کنند، ولی در عمل آنها آنقدر در حالت ضعف وناتوانی قرار دارند که مجاهدین تا حلق آنها میرسند و ضربهء را از نزدیک برپیکر آنها واشغالگران وارد می نمایند!!؟

ـ امریکا ادعا دارد که دیگر نیاز به ادامه جنگ دیده نه میشود(یعنی همه چیز طورعادی به پیش میرود و اهداف به دست آمده) ولی در عمل مینگریم که همه دسیسه ومکر های دشمن پی هم ناکام شده، و کنون راه نجات از گیرماندن در جنگ را می جستجو دارند.

ـ دشمن مدعی است که باید تعدادی کمی از عساکر آنها بخاطر کنترول دراز مدت

وضعیت در افغانستان باقی بمانند، بخاطر همین هدف سعی دارند اداره مزدور کابل را مجبور نماید که خلاف میل اکثریت مطلق ملت گام بردارد و دشمنی زیاتر ملت را به دوش گیرد، تا نیروه نظامی امریکا در افغانستان جایگاه دراز مدتی داشته باشد، ولی متوجه نیستند که آیا زیادتر از پنج لک نیروه خارجی و داخلی اعم از ناتو، ایساف، اردوی اداره کابل، پولیس، استخبارات،شرکتهای امنیتی و قراردادیها که در مدت دوازده سال مصروف کار زار علیه مجاهدین وملت غیور افغان بودندکدام دست آوردی دارند؟ آیا ان وسائل نظامی و تخنیک پیشرفته ترین جهان کنونی که در جن[redacted]گ افغانستان از آن استفاده شد نتیجه دلخواهی داشت؟ آیا همه ارگانهای استخباراتی زیادتر از ۴۹ کشور جهان غرب وهم پیمانان آنها توانستند که مجاهدین راازطریق کانالهای مخفی و دسیسوی محو نمایند و آنها رادر شرائطی دشوار از کنون به سرخمی آمریکا وادارند؟ آیا آمریکا به مصرف ملیاردها دالر پول توانست که مجاهدین را از اهداف جهادی و مقدس اسلامی خود به عقب راند؟

پاسخ هم سوالها منفی است، ما به اطمنان کامل گفته میتوانیم که آمریکا دیگر کدام ابر قدرت جهانی باقی نه مانده و نه باید ملتهای مسلمان از این هیولاءیی محض ترس داشته باشند، افغانها به اتکاء وتوکل کامل به پروردگار خود مقاومت را در برابر نیم ملیون نیروه دشمن، مجهز به مدرن ترین اسلحهء زمان دوازده سال ادامه داده اند وتاریخ را به خون خود بار دیگر در قرن بیست ویکم رقم زدند.

راه سهل و نجات اصلی برای نیروهـای غربـی و اشغالگر همین است که دیگر دست از پولیسـی جهان بردارد، زخمهای را که از برکت جهاد مردم غیور افغانستان در دوازده سـال در عرصـه هـای نظـامی، سیاســی، اقتصــادي و اجتمــاعی برداشته اند دیگر بایـد در فکـر التیـام آن باشـند، مسلمانها را بگذارند که طبق رهنمودهای دینی وارزشهای اعتقادی خود نظام هـای دارای ارزش و عزت را برای خود درممالک خود بـه پـا اسـتاده نمایند وجهان را باری دیگر به طرف خیر و امنیت واقعی سوق دهند، افغانهـا روی عـادت دینـی و فرهنگی خود نه میخواهند به هیچ ملت وکشـور جهـان مایـه ضـرر و زیـان باشـند ونـه میخواهنـد جهان ومنطقه در حالت ناامن و بـی عـدالتی بـه سر برد، مانیازمند ارامش و صلح باعزت هسـتیم و ما نیازمند به سکون و آرام در زندگی هسـتیم،

بدبختیهای کنونی، زحمات ورنجی که میکشـیم این همه تحمیلی بوده و ما قربانی به جا آوردنـد میـل ناسـالم ابرقـدردهای مسـتکبر شـده ایـم، ورنه ما بعد از شکسـت اتحاد شوروی نیـازی بـه بازسازی واقعی داشـتم، نیاز به زنـدگی مرفـه و پر عزت داشـتیم ومسـتحق آرام و صـلح بـودیم ، ولی امریکا و شرکای جرمـی انهـا بودنـد کـه نـه گذاشـتند این ملت رنج دیده نفـس ارام بکشـد و مطـابق معتقـدات خـود نظـام واقعـی اسـلامی داشــته باشــند کــه الگــوی بــرای تمـام ملـل مستضـعف شــوند و راه نجـات اصـلی را بـرای بشریت ترسیم نمایندقاري صلاح الدين:

په (۲۰۱۳) کې

ترتیب - خبیراحمد(م)

دمجاهدینو په مطبوعاتي لاسته راوړونو ددښمن اعترافات!

دمشرق ورځپاڼي په راپورد(اسوشیتد) خبري اژانس په هغه تحلیلي راپورپه اساس چې څه موده وړاندې یې دغربي اوامریکایي چارواکواوسیاستوالو له اعترافاتواوویناڅخه برابرکړې ویلي: که څه هم امریکااوملاتړو قوتونویې سخت زیاروکښ چې په افغانستان کې دطالبانوغږاومقاومت څه دزور، څه دډالرو اوڅه هم دپراخو تبلیغاتواوډله ییزو رسنیو په مټ خاموشه اوله ورځیزه وغورځوي اوپه ۲۰۱۳ کال کې خو تردېره ځایه دغه اتکل هم شوی وو چې همدغې موخې ته به بهرنی قواوې ځانونه رسوي؛ خو طالبانو دکال په اوږدوکې نه داچې په پوځي ډګر کې ځان کلک اومستحکم وساته اوسخته جګړه یې وکړه، په تبلیغاتي میدان کې یې هم ګټې لاسته راوړنې درلودې.

جولیان ناپ، چې په افغانستان کې څوکاله دامریکااواروپادتبلیغاتي وسایلو دتوزیع اوچمتو کولو دچارومشرتیرشوی وایی: مونږ په دې علاوه چې په افغانستان کې دګنو تلویزونو اوتصویري رسنیو مالي تمویل کوو، دلیرې پرتو برخو لپاره مو هم په لکونو هغه راډیوګاني په وړیادول ویشلي چې له لمر څخه انرژي اخلي، ترڅو دطالبانودتبلیغاتومخه ډب کړل شي، خودناپ په وینا په هغه سربیره هم طالبانو په تبلیغاتي میدان کې دافغانانو په منځ کې دځان په ګټه کاراو حلول کړي.

اسوشیتدخبري اژانس زیاتوي: زیاتره غربي سیاستوال چې دافغانستان پیښې څاري په دې باور رسیدلي چې غرب په دغه هیوادکې تبلیغاتي جګړه بایللې ده.

دبحران نړیواله ټولنه، چې دبروکسل په ښارکې اوسي اویو مطالعاتي مرکزدی د۲۰۱۳ کال په په ورستیوشپوورځوکې یې ویلي چې طالبانو دخپلو تبلیغاتو اوپرمختیااو دخپرولولپاره یوه پیچلي، خوپه عین حال کې بریالی دستګاه په کاراچولي چې که له یوې زاوي ورته وکتل شي زیاته خوندي ده اوچلونکي یې زیات میلان نلري چې په اسانی ځان ښکاره کړي، ولې له بل لوري بیا دومره چټکه اوسریعه ده چې یوه پیښه هم له شاربلو اوتیتولو په ارام نه پریږدي اوله هغومهمونقطوڅخه په موثره توګه

استفاده کوي چې له امله يې ملي اومذهبي احساسات راپارول کيږي اوپه عام ولس کې ځای پیداکوي.

تبليغاتي جنګ دطالبانو موثره وسله ده :

امریکاغږراډیو ،په خپل راپورکې د(رنډ) دتحقیقاتي غربي مرکزديوه تن کارپوه (ارتورو مونوز) له قوله وايي چې دطالبانو تبليغاتي جنګ په داسې حال کې پرمخ ځي چې ۲۰۱۴ کال هم خپلې وزرې وغوړولې او ددې امکان شته چې خارجي قواوي له افغانستان څخه ووځي ، دهغه په قول د۲۰۱۳ کال په اوږدوکې طالبانو دخپلو ویډویي تبلیغاتو له لارې بې شمیره هغه سیمي اوځایونو ښکاره کړل چې خارجي قواوو دهوايي بمباريوله لارې متضرر کړي وو ، دغه ډول يې دملکي خلکودتلفاتو راپورونه هم په ډاګه کړل چې دامریکا اوناټو اوياملي اردو دعسکروله لورې عامو افغانانو ته اوښتي وو ، چې دکارپوه په اند طالبانو په دغو کارسره له يوې خوا په ولس کې خپل ملاتړ زيات کړ اوله بل لورې يې دخارجي قواوو په خلاف دافغانانو په کرکې اونفرت کې ځوبرابره زیاتوالی راوست.

سرچينه وايي شک نشته چې په ۲۰۱۰ کال کې په کندهار کې د(کیمک) په نامه یو خبري مرکز صرف په دې موخه جوړ شو چې دطالبانو هرډول ادعاوي رد اوبې اهمیته وګرځوي اودخبریالانو چمتوکړي راپورونه سانسورکړي ، خو داسې ښکاري چې نوموړي مرکز هم چنداني بریالی نه وو ، سرچینه مثال راوړي چې دوه اونۍ وړاندې په کندهارکې طالبانویوه هلیکوپتر نسکوره کړه، نوموړي مرکز هلې ځلې پیل کړې چې هلیکوپتردطالبانو په ډزو نه بلکې دهوا دخرابۍ له وجې سقوط وښیي ، ولې دکیمک هڅې هغه وخت بې خونده وګرځیدې چې طالبانو دهوا دخرابوالي دلیل ردکړاوي ويل چې په ۲۴ ساته کې دنوموړي ساحې هوانورماله اوهيڅ ډول ستونزه اوالودګي يې نلرله اوعاموخلکوهم دغه استدلال ومانه .

دمجاهدينو میډيا غښتلي ده :

دکندهار داجیري اداري دوالي ويندوی ، جاويدفيصل وايي چې دطالبانو ميډيازمونږ له رسنيواوتبليغاتي دستګاه څخه غښتلي اومخ په وړاندې ده ، هغه وايي ، طالبان هره پيښه له مونږ څخه مخکې خلکوته رسوي اواذهان دځان په ګټه ګرځوي.

دوالي ! ویندوي اعتراف کوي چې طالبان دانټرنیټ، فیسبوک اوټویټر له لارې په سریع اوعاجل ډول خپل خبرونه ، اعلامیې ، پيغامونه اوغبرګونونه خپروي ، په داسې حال کې چې دولتي سرچيني او هڅې دومره پڅې او کمزوري دي ، چې حتی موظف کسان هم په ډیرمشکل پیداکیږي ترڅوخبریالانوته معلومات ورکړي ، نو په دغه صورت کې خبریالان اړ دي چې دطالبانوخبرونوته پام واړوي او ډیرڅه له هغوترلاسه کړي.

دنیویارک تایمز خبریال ، تیمور شاه وايي چې طالبان په مطبوعاتي میدان کې له سختې ځیرکتیااوهوښیارۍ څخه استفاده کوي ، هغه وايي طالبان دايميلونو ، تلیفوني میسجونو ، برښنايي ډله ییزو رسنیواومهالنیومجلوپه مټ خپل پيغامونه اوپرمختګونه په مختصرو جملو اوټکوکي په داخل اوبهرکې خلکوته رسوي

دطالبانو په خبروافغانان باور کوي:

د مفکرة الاسلام ویب پاڼه د واشنګټن پوست په استنادوايي ، طالبانودامريکااوغرب په وړاندې

دخپلو کمو تبلیغاتي وسایلو په مټ نه ستوماني کیدونکي جګړه شروع کړي ، هم له خپلو پوځي بریاوو په کلکه ساتنه اودفاع کوي اوهم دبهرنیو قواوو هره وړه ناکامي په لوړه کچه تعبیروي اونړۍ او افغانانو ته په مسلسل ډول داذهنیت ورکوي چې نورپه افغانستان کې بهرنیوقوتونو ماته اوشکست لیدلی.

واشنګټن پوست وایي ، دطالبانو تبلیغاتي مبارزې په امریکایي اوغربي واکمنو اوسیاستوالو هم کلکه اغیزکړې اوتردې چې دافغانستان دجګړې په باب یې دهغوی واحد تمرکزاولیدلوری له منځه وړي ،څکه دغه سیاستوال اوچارواکي دطالبانو هغه ویناوي اوغبرګونونه لولي چې په افغانستان کې جګړه خارجي یرغل بولي ،خپل مخالفت په ځای شمیري اوغرب ته په واضحو ټکو وایي چې ددوی قواوي دافغانستان جګړه نشي ګټلای اوښه داده چې ژرترژره عسکروباسي ، دسرچینې په اند همدغه علتونه دي چې زیاتره غربي اوامریکایي سیاستوال اوپوځي ماهرین دافغانستان جنګ بې نتیجې شمیري.

دکابل رژیم چارواکوهم ومنله چې دمجاهدینوروان فرهنګي اومطبوعاتي بهیرمنسجم اوهره پیښه اوتحول په موثراواغیزمن ډول تبلیغوي اوپه دې کارکې لدوی څخه زیات سرعت لري.

دویندویانودارتباطاتوپه اړه په یومهم کنفرانس کې ،چې دچارواداري په لوی تالارکې جوړشوی وو دکابل رژیم ځینومهمو چارواکو ، دملي امنیت ، دفاع اوکورنیو چارو وزارتونو ویندویانو اوددوی کارپوهانو په خپلو خبرواوویناوو کې دمجاهدینو میدیااورسنۍ موثرې وبللې اواعتراف یې وکړ چې که څه هم وسایل اوامکانات ددوی په اختیارکې دي ولې بیاهم طالبان په لوړ کیفیت او اغیزمنه محتوا ګڼې خپروني اونشرات لري

دوی ومنله چې دمجاهدینوچاپي خپرونې ، بریښنایي رسنۍ اوویډیویي جهادي فلمونه اوترانې په داخل اوخارج کې بې شمیره لوستونکي اومینه وال لري اوپه خاص ډول یې دځوانانو ذهنونه دځان په ګټه اړولي ، همدارنګه ډیره وړه پیښه هم په لږ وخت دخپلو رسنیو په مټ دخلکوغوږونو ته رسوي ، اعلامیې. غبرګونونه اودمشرتابه پیغامونه په ټاکلي اوموثرډول خپروي اوهغه ټکي پکې راوړي چې ولسي اودیني رنګ پرې غالب وي ترڅو یې په عام ولس کې ښه هرکلی وشي.

په رښتیاهم چې داسلامي امارت مطبوعاتي اوفرهنګي سنګر دمجاهدینو له پوځي اوجهادي پرمختیااو پیښوسره اوږه پراوږه پرمخ روان دی اوددغه سنګر اتلان دادځان لپاره لوی افتخار اوویاړبولي چې الله تعالی دغه موثراوسترخدمت له دوی نه اخلي؛ خودهغه ترڅنګ ډیرې خوښې ټکی دادی چې داخلي اوخارجي دښمن اوس په دې خبره کې په یوه خوله دي چې داسلامي امارت مطبوعاتي معرکه خوراچټکه اوانګازویې ددوی نړیوال اوسیمه ییزتبلیغاتي ماشین چې بې خرته لګښت هم پرې کوي چلینج اوبې اثره ګرځولی.

دخارجي اوداخلي غلیمانو پورته اعترافاتو ته په کتوله شک پرته دابرداشت اخیستل کیږي چې ۲۰۱۳ کال که په پوځي میدان کې دښمن له پښو وغورځاوه په فرهنګي میدان کې هم لله الحمد مجاهدینو ستري لاسته راوړنې درلودې ، الله تعالی دې دټولو مجاهدینو هرډول ستړیاوې اوستوماني دخپلې رضاوړ وګرځوي اویرغلګرو دې نورهم سرټیټي اوله رسواییو سره لاس اوګریوان ولري.

طالبان اوسنی رژیم

پرزولی شي....؟

فرهاد

خبرې منابع وايي :دروان کال (۲۰۱۴)ز ترپایه له افغانستانه میشت امریکایې او برتانوي پوځونه دوتلو لپاره چمتوالی نیسي!! په دې سره له ډیرو خلکو سره دا پوښتنه را پیدا شوي، چې ایا اوسنی رژیم به نسکور شي... طالبان به بری ترلاسه کړای شي؟

ایا دبهرنیو پر متو ولاړ دولت به وکړای شي چې هغو تولو ننګونو ته ځواب ووايي، چې دبهرنیوپوځیانو له وتلو وروسته حتمي اويقيني دي؟ او طالبان به هغسي بری ترلاسه کړای شي، څنګه چې هغوئ د۱۹۹۶ز څخه تر ۲۰۰۱ز پورې واکمن وو؟

غربي تحلیلګران چې زیاتره دامریکا اوغربي هېوادونو اهداف تبلیغوي، دهغوئ له منځه لوی شمیر دامریکا او نورو خارجي قواوو له وتلو وروسته دطالبانو دبري امکانات زیات بولي!! هغوئ داهم مني چې طالبان دپخوا په نسبت ښه روزل شوي، چې څرګنده بېلګه يې دامريکا اوبرتانيې مجهزو ځواکونوته شکست ورکول دي، دا داسي نمونه ده چې دطالبانو په ښې پخې جنګي تجربې اوورتیا باندې له پوهیدو سره مرسته کوي اوجوتوي چې طالبان پخپلو عزایمو او بریاوو به ترډېره حده باور ولري.

او په مقابل کې دکرزي داردو او پولیسو روزنه سربیره په دې چې بیدریغه لګښتونه ورباندې شوي اوورته ګڼې اسانتیاوي اسباب هم برابر دي، آن داچې دعیاشیو مستیو اوفحشاوو لړ کې یې هم ورته فرصتونه برابر کړي دي، ددې باوجود دهغوئ جنګي روحیه هغسي تانده نه بریښي. څنګه چې دطالب جنګیالیوده دکرزي داردو اوپولیسو په لیکو کې زیاتره جنګیالي پر نشه يې توکو هم معتاد ګرځیدلي، دهغوئ ترشا چې دامریکا اوناټو ملاتړ نه وي ډېر مقاومت نشي کولی اکثریت کوښښ کوي دجنګ له ګرمو شیبو ځانونه په یوه اوبله بهانه وباسي

هر چې طالبان دي هغوئ ته دجنګ له ډګره تیښته داسلامي لارښوونو له مخي جرم اوګناه بریښي، هغوئ مونږ وینو چې تر بدنونو پورې بارود اوبمونه تړي... له بارودو ډک موټر ته داسي ورپورته کېږي لکه دخپل واده په ډولی پسي چې درومي ... درژیم په قواوو کې بیا دومره زړورتیا لیدل څه چې که هغوئ ترشا دامریکا اوناټو له سرتیرو ونه ډار شي ځانونه دجنګ له ځایه لري باسي. هغوئ به څنګه او په کومه روحیه دطالب جنګیالیو دبریدونو په وړاندې مقاومت ته دوام ورکړای شي؟

دیته په پام له اوس نه غربیان له اوس نه لالهاند او اندېښمن دي، هغوئ له دې نه تشویش لري، چې هسي نه طالبان واک ته ورسي... که دا کار وشي غرب حکومتونه به ټکان وخوري، ولې هغوئ له افغانستانه چې وځي زيارګالي چې دخپلو هېوادو وګړو ته له ځانو سره دخپل بري پيغام یوسي،بل غواړي په نړیواله توګه په افغانستان دیرغل په اړه ددوئ ددریغ پزیرایې وشي او وستایل شي...

چې دوئ دومره بشرپال دي ، ګورئ! افغانان ددوئ په په وتلو خفه دي اددې لپاره پرلپسي دمیډیا له لارې د سروې ګانوراپورونه خپروي چې ګوندې لوی شمیر افغانان دبهرنیانو په وتلو ځانونه ډاډمن نه بولي! ددې لپاره مختنفې حربې کاروي څو بیرون ته څرګنده کړي چې

افغان وګړي ددوئ پـه تلو ناخوښی دي حقيقت دادی چې دغسي نظر پوښتنو او اوسروې ګانو زيات ارقام ددې ښکارندويه دي چې دافغانانو غوڅ اکثريت دبهرنيانو په وتلو خوشال او راضي دي، دهمدوئ لخوا پـه شوېو نظر پوښتنو کې لوی شمير افغانانو په ډاګه دبهرنيانو له وتلو ملاتړ کړی دهغوئ دنور تم کيدو سره يې کلک مخالفت ښودلی. اوپه کلکه يې دا انديښنې ردکړي چې دبهرنيو دوتلو وروسته دوئ ډاډ من ندي افغانان پوهيږي چې خارجيان لـه جګړې پرتـه ددوئ دترقی فکر نـه لري، پـه خاصه توګه ددوئ دستونزو دکمولو لپاره هيڅکلکه بنسټيز پلانونه نه لري او باورلري چې هر کله بهر نيان ووځي ددوئ دسوداګری اکارونه به وغوړيږي، دغه وجه ده چې ډيرولږو افغانانو ويلي چې دبهرنيانو وتـل به په دوئ منفي تاثير ولري نورو په زغرده څر ګنده کړي چې دبهر نيانو وتل په دوئ هيڅ منفي اغيز نلري. هغوئ دا هم ويلې چې دوئ غواړي چې بهرنيان له افغانستانه لاړشي، ځکه دهغوئ په شتون کې دوئ هيڅ ډول ډاډ نه حسوي، هرسړی په دې بيم اوډار کې وي چې هسي نـه بهرنيا ن يې په کور داړه وانه چوي

دځينـو پـه انـد: دا خبـره کـول چې بهرنيـان ددوئ راتلـونکی تضمينولی شي درواغ دي، ددوئ راتلونکی يوازې خدای پاک تضمينولی شي نه بهرنيان!! اودبهرنيانو وتل به ددوئ په ژوند ان شاء الله ښـه تـاثير ولري، سربيره پردې چې ډېری افغانان بې وزلی. ځپلي اوکړولي دي خو غيرتمن او خودار دي. پخپل هېواد اوخاوره کې دبهرنيـانو لـه موجوديتـه کر که اونفرت ورزي، دبهرنيانو وتل دځانو لپاره ښه زيری بولي

چې په ټوله کې دادرسنيو دې پروپاګند تـه ښـه ځواب دی چې دا انديښنې بې ځايـه دي چې دبهرنيـانو لـه وتلو وروسته افغانـان لـه طالبـانو ډارلري البته دامريکا دپاټې شونو ډار په ځای دی هغوئ تـه تنهـا طالبـان نه بلکې ملت غابښونه چيچي نورملـت پـوهيږي چې دوئ لـه طالبـانو سـره دښمني نه لري، طالبانو وړاندې هم اسلامي نظام پلې کړی چې بيا واک تـه ورسي بيا به هم اسلامي نظام راولي اودا دافغان ملت غوښتنه ده، ددې لپاره يې جهادونه کړي ټولې تودې اوسړې يې دهمدې نظام لپاره ګاللې.

او ښکاره ده طالبانو اومجاهدينو چې څنګه په تيرو ديارلس کلو کې دامريکا اوناټو مجهز ځواکونه کلابند کړل او پـه وړانـدې ټېنګ مقاومت وکـړ، درژيـم پـه اردو اوپوليسـو کې هيڅکلـه ورتيانشـته چې دطالبـانو دبريـدونو اوپـه ځانګړې تـوګـه دتهجمـي فـدايي عمليـاتو پـه وړانـدې مقاومت وکړي

بله داچې هرڅـوک پـوهيږي چې پـه طالبـانو کې د۱۹۹٦ز کـال پـه نسبت زيات جوش او جذبه ليدل کيږي، هم د۱۹۹٦ز کال په نسبت زيات منظم اومنسجم شوي، پـه ليکو کې يې ددسپلين روحيـه ډېره راغلي اوپخپل داخلي نظم وضبط کې بې ساري هوښيار بريښي، دافغـان ولـس دننه يې هم پراخه خواخوږي جلب کړي.

اوپه دې ټولو کې حيرانوونکې دا چې طالبان هغه چارې چې نورې د ډېر لوی پرسونل باوجود نشي پـرمخ بيـولی، طالبـان هغـه پـه ډېـر کم پرسونل سرته رسوي مثلاً: پـه وروستيو کې دبې بې سي خبريـال .... افغانستان ته راغلی واودلته يې دتليفون لـه لارې دطالبـانو دويانـد ذبيح الله مجاهد سره مر که کړې وايې: امريکايان ګومان کوي چې "مجاهد" يو نه بلکې په دې نوم ګڼ کسان دي!!! ليکن ماچې له کوم يوه تـن سره مـر که وکړه هغه ته دا هم په ياد وه، چې څلور کاله وړاندې هم ما ورسـره مـر که کړې وه!! هغه ته دا هم په زړه وه چې څلور کالـه وړانـدې دمـر کې پـه دروان کې دامريکا يوه ډارونکې الوتکه دهغه دسر له بره تيره شوه!!

دا ديـو داسي چا شـهادت دی چې هغـه دطالبـانو مـداح نـه بلکې دامريکا اوناټو دجګړه مارو سره خواخوږي لري!! هغـه وايې کلـه چې ما داخل له مجاهد نه دا وپوښتل: ايا باورلري چې بيا بـه دوئ بـری ترلاسـه کړي دهغه ځواب داو: کـه تاسي دافغانستان دعـامو خلکوسـره وګورئ، دافغانانو داصلي استازو په خاصه توګه له ښارونو دباندې ولس پوښتئ هغوئ درته هم دا ووايي: چې واقعاً زمونږ پرمهال يو اسلامي نظام واکمن و، کوم چې دټولو دحقوقو مدافع اوساتونکی و.

دا يو کوچنی مثال دی چې طالبان تر بـرهر چا زيات منظم او پخپلو چـارو برلاسي دي، نـو هـر کلـه چې افغانستان لـه بهرنـي اشغاله ووځـي، حتمي ده واک بـه دهغـه چا حق وي چا چې ددې وطـن لويشت لويشت خاوره پخپلو وينو سمسور کړه چا چې دعصر مغرور او کبرجن ځواکونه په شا وتمبول نه دهغه چا چې افغانستان امر يکا اوناټو يې را وسته او افغانانو ته يې دتاريخ بې ساري اونه جبيره کيدونکي ناخوالي واړولي ....

تیر کال

فاریاب ولایت دبنسټیزو تحولاتو شاهد وو

مرکه کوونکی: حبیب مجاهد

د روان هجري قمري کال د ربیع الاول دمیاشتې اولسم سهار وو ، چې دوړ اندیني وعدې په بنسټ د فاریاب ولایت دجهادي مسؤل سره دمر کې په نیت وخوځیدم . دفاریاب جهاد مسؤل قاري صلاح الدین نومیږي ، چې دهمدې ولایت دالمار ولسوالۍ اوسیدونکی دی . له نوموړي سره مې په تیر جولای کې یوځل ملاقات شوی وو ، او اوس مې یوځل بیاغوښتل دفاریاب دوروستیو تحولاتو په اړه ورسره مر که وکړم . دقاري صاحب ځای ته په رسیدو مې ولیدل چې ګڼ نور مجاهدین یې هم میلمانه دي ، له دود سره سم یې میلمه پالنه وکړه او دچایو او ناشتې ست یې راته وکړ . د چایو په سر یوه شیبه له مجاهدینو سره چې دشمال او شمال غربي ولایاتو وو . په مختلفو مسائلو وغږیدو ، او وروسته مو مجلس راټول او دقاري صاحب صلاح الدین سره مې مصاحبه پیل کړه . دقاري صاحب سره یې دخپل ولایت څو تنه نور مجاهدین او مسؤلین هم وو ، چې د ځینو معلوماتو په یاداښت کې یې ورسره همکاري کوله .

له قاري صاحب څخه مې په پیل کې وپوښتل :

که لومړی دا راته ووایاست چې د تیر کال په اوږدو کې په فاریاب کې ستاسو لویه جهادي بریا څه وه ؟

قاري صلاح الدین :

ستاسو د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې د تیر کال په اوږدو کې مجاهدینو په فاریاب کې خورا سترې بریاوې او لاسته راوړنې درلودې . له هغې جملې د پام وړ بریا دګڼو سیمو فتحه او ددښمن د ځایي تشکیلاتو ، پوستو او ملیشو له منځه وړل دي . په تیرو څو میاشتو کې دخالد بن ولید عملیاتو له پیل وروسته دفاریاب په قیصار ، المار ، خواجه موسی ، دولت اباد او چهلګزي ولسوالیو کې ددښمن داربکیانو پروسه په بشپړ ډول له منځه وړل شوې ده . په دې ولسوالیو کې مجاهدینو په ډله ایزه توګه ددښمن په پوستو او تړواک لاندې سیمو باندې ستر ستر تهاجمي عملیات ترسره کړي دي . چې په نتیجه کې یې اربکیان ، پولیس او نور محلي اجیر چارواکي یا له سیمو تښتیدلي ، یاتسلیم شوي او یا هم وژل شوي دي . اوس دیادو شویو ولسوالیو تر ۹۰ فیصده ډیره خاوره زموږ تړواک لاندې راغلې ده . په داسې حال کې چې پخوا دغه سیمې ددښمن دمحلي ملیشو او اربکیانو په تصرف کې وې .

که ووایو چې د۲۰۱۳ م کال په اوږدو کې په فاریاب کې جهادي اوښتون راغلی دا به مبالغه نه وي . ځکه خورا ستر ستر فتوحات شوي ګڼې سیمې ازادې شوې دي . تر دې چې موږ همدا اوس دفاریاب د ۱۰ ولسوالیو تر ۹۰ فیصده ډیره ساحه تړواک لاندې لرو . دغه راز دمجاهدینو شمیر او تشکیلات په هره سیمه کې خورازیات شوي دي . تر دې چې په ۲۰۱۳ م کال چې کله موږ په قیصار او چلګزي کې په یوه وخت تهاجمي عملیات پیل کړل ، په همدې یوځل عملیاتو کې ۱۱۰۰ مجاهدینو په یوه ځل برخه درلوده ، چې له دې څخه تاسو دجهادي جبهو دقوت اندازه معلومولای شئ . بله داچې داولس همکاري بیخي زیاته شوې ده .

کومې سیمې چې زموږ تر نفوذلاندې دي اولس يې په بشپړ ډول له موږ سره ولاړ دی، او موږ دغه فتوحات د اولس په مستقیم ملاتړ ترلاسه کړي دي.

حبیب مجاهد :

تاسو وويل چې دفارياب دلسو ولسواليو ۹۰ فيصده ساحه فتحه شوې ده، دغه کومې ولسوالۍ دي؟

قاري صلاح الدين :

المار، قيصار، چلگزي، خواجه موسى، شيرين تګاب، دولت اباد، پشتون کوټ، لولاش، بندر او گورزيوان هغه ولسوالۍ دي چې دښمن په کې يوازې سمبوليک شتون لري او تر ۹۰ فيصده ساحه يې دمجاهدينو تر تسلط لاندې دي، له دې پر ته دمرکزي اندخوی تقریبا نیمایي ساحه فتحه شوې ده او یوازې خان چارباغ، بلچراغ او قرمقل هغه سيمې ده چې اکثره سيمې يې ددښمن تر تسلط لاندې دي.

حبیب مجاهد :

تاسو دسږ کال د جهادي عملياتو دبريا خبره وکړه که په دې اړه معلومات راکړئ چې سږ کال کوم مهم جهادي عمليات ترسره شول؟

قاري صلاح الدين :

د رسمي احصايې له مخې په تير کال کې زموږ د جهادي عملياتو او بريدونو مجموعي ۲۱۳ ته رسيږي، خو له دې جملې په زه دخالد بن وليد دعملياتو له اعلان وروسته دځو مهمو او بريالیو عملياتو يادونه وکړم.

له دې جملې يوځل ستر عمليات دقيصار او چلگزي ولسواليو په مربوطاتو کې په هغه سيمو پيل شول چې دښمن په کې اربکيان جوړ کړي وو، په دې عملياتو کې يو زر او سل تنو مجاهدينو شرکت درلود، ددې عملياتو په نتيجه کې ددښمن ۱۹ پوستې فتحه شوې، دقيصار ولسوالۍ د سنجيتک، بورغان، يکه باغ، قوچقار، چينار او کاکري سيمې فتحه شوې دغه راز دچلگزي ولسوالۍ د اصحاب کهف سيمه او نور ډيرې قريې دمجاهدينو لاسته ورغلې، دا خوراستر او بريالي عمليات وو چې په دښمن مورال يې سخت وځاپه، له دې عملياتو وروسته په سيمه کې ددښمن تر ۱۰۰ ډيرو عسکرو او اربکيانو خپلې وسلې وغورځولې وتښتيدل او له مخالفته يې لاس واخيست.

دغه راز د تير کال د نومبر په لومړۍ نيټه دالمار په ولسوالۍ کې هم خوراستر عمليات ترسره شول دالمار په عملياتو کې ۷۰۰ تنه مجاهدينو برخه درلوده، دلته چې ددښمن لويه قوه راغلې وه، داخلي او خارجي ځواکونو په کې شرکت درلود او دعملياتو اراده يې وه، مجاهدينو په متقابل بريد کې دښمن ته سخت شکست ورکړ، دالمار جګړې دوه ورځې دوام وکړ چې په نتيجه کې يې دشاهين قول اردو يو قوماندان جنرال امان ووژل شو، ددښمن ۸ ټانګونه له منځه لاړل، او ۲۲ تنه يې ووژل شول، دالمار په عملياتو کې ۳ تنه مجاهدين هم شهيدان او ۴ تنه ټپيان شول.

دتير کال دمهمو عملياتو څخه دخواجه موسى ولسوالۍ ستر عمليات وو چې ددې ولسوالۍ دعطاخان خواجه په سيمه کې دسرحدي قواوو په پوستو ترسره شول، په دې عملياتو کې ۶۰۰ تنه مجاهدين برخوال وو چې په نتيجه کې يې دغه سيمه په بشپړه توګه ددښمن له شتون څخه پاکه شوه، دسرحدي قواوو قرارګاه فتحه شوه، دقوماندان صمد په نوم يو مشر يې ووژل شول او نور له سيمې وتښتيدل.

د تېر کال دنومبر په ۱۹ نيټه دالمار ولسوالۍ په شاخ سيمه هم ستر عمليات ترسره شول. شاخ ديوې ولسوالۍ په اندازه پراخه علاقه چې ځانګړی بازار لري، داسيمه پخوا ددښمن ترولکه لاندې وو خو مجاهدينو چې شمير يې ۸۰۰تنو ته رسيده په ياده نيټه په همدې سيمه عمليات پيل کړ چې ديوې ورځې سخت

جنګ په نتیجه کې دښمن شکست وخوړ، دغه سیمه په بشپړ ډول فتحه شوه ددښمن ۸ ټانکونه له منځه لاړل ددښمن ۳۹ تنه عسکر او اربکیان ووژل شول، او دمجاهدینو په خوا کې یو تن شهید او ۴ نور ټپیان شول.

یاد شوي عملیات دفاریاب په سطحه دخالدبن ولید کلنیو عملیاتو له اعلان وروسته ستر عملیات وو چې لله الحمد تول بریالي وو او په نتیجه کې یې ډېرې سیمې ازادې شوې.

د خالدبن ولید عملیاتو له پیل وروسته په فاریاب کې ددښمن ګڼ شمیر قومندانان، سر ګروپان او مضر اشخاص هم ووژل شوي دي، چې دټولو شمیر ۳۷ تنو رسیږي او مشهور یې جنرال امان دشاهین قول اردو، عبدالغفار د کوماندو قومندان، جنرال سرور دپشتون کوټ داربکیانو مشر، غلام محمد دالمار، اولیاء قل او خال ضابط دشیرین تګاب، محمدظاهر دبلچراغ او قومندان کمال دالمار ولسوالۍ دیادولو وړ دي.

حبیب مجاهد:

قاري صاحب تاسو ووېل چې دفاریاب ډېرې سیمې اوس دمجاهدینو تر کنترول لاندې دي آیا په دې سیمو کې ستاسو لخوا امن او استقرار قائم شوی دی، او خلکو ته مو خدمات وړاندې کړي دي ؟

قاري صلاح الدین:

موږ تر خپلې وسې په مفتوحه سیمو کې حکومتي سیستم فعال کړی دی، هغه خدمات چې وطنوال ور ته اولیه ضرورت لري، حکومتي ملکي چارې، قضاء، تعلیم او تربیت او داسې نور خدمات. دتعلیم او تربیې په باره کې که ووایو، ماته دالمار ولسوالۍ په باره کې دقیق معلومات شته. چې هلته ۱۵ مدرسې ۲ دارلحفاظونه او ۲ دارالایتامونه جوړ شوي دي، چې د ولس بچیان په کې زده کړې کوي. د ټول ولایت په سطحه دمعارف پوره معلومات زموږ دمعارف له مسؤل سره شته که تاسو غواړئ در سره شریک به یې کړو.

له دې وروسته قاري صاحب د ولایتي کمیسیون دچارو لنډ ګزارش راوسپاره، په دې ګزارش کې معلومیږي چې دفاریاب په مفتوحه سیمو کې دمجاهدینو حکومتي اداره په منظم ډول فعاله ده، او محلي ادارات یې خپلې چارې له نظم سره سم په مخ وړي ،مجاهدینو په سیمه کې امنیت راوستی، دتجاوزاتو مخه یې نیولې ، او حق یې حقدار ته رسولی دی.

دا راپور چې دمحلي مجاهدینو په بنه فعالیت دلالت کوي په یوه برخه کې یې لولو، یک زن بنام . . . بنت . . . . درولسوالي دولت اباد ساعت ۲ بجه شب بتوسط تفنګچه کشته شده بود، حادثه در قریه سرنیګ صورت ګرفته بود، مجاهدین ساعت پنج صبح به محل حادثه رفتند، محل قتل را دیدند، درمحل حادثه ۲ پوچک مرمی تفنګچه پیدا کردند، وهمچنین درمحل حادثه نقش پای قاتل را دریافتند، از نقش پای قاتل عکس ګرفتند وتپ تلاش کردند تا جای آمد ورفت قاتل شناسایي شود، بعد از تلاش مجاهدین واهل قریه انها خانه ای دریافتند که صاحب نقش پای به آن امدورفت داشته است، ازین خانه شخصی بنام . . . ویک تفنګچه به دست آمد، بعد از ګرفتاری شخص معهود بدون جبر واکراه به جرم خویش اقرار کرد، اما شخص معهود به معاون ولسوال دولت اباد سپرده شد تا بعدا قضیه به محکمه تحویل ګردد.

دفاریاب ولایت په دې راپور کې دخلکو ددعواوو خلاصولو، دمجاهدینو دصنوفو د تصفیې، مکافات او مجازات او داسې ډیرې نورو قضیو ته اشاره شوې ده چې په سیمه کې دمجاهدینو په بنه اداري نظم او دسپلین باندې دلالت کوي.

قاري صلاح الدین ووېل چې همدا اوس په فاریاب کې ۹۵ فیصده حقوقي دعوې زموږ په محاکمو کې حل او فصل کیږي، ځکه زموږ په محاکمو کې فساد نشته، او یوازې دشریعت په بنیاد احکام جاري کوي.

قاري صلاح الدين وويل :

موږ دمجاهدينو د تثقيف او اصلاح لپاره هم پروګرامونه ترلاس لاندې لرو ، داسلامي امارت په عمومي هداياتو او لوائحو سربيره دمجاهدينو داصلاح لپاره په محلي سطحه برنامې لرو ، نوموړې په دې لړ کې هغه ۱۸ ماده ييزه ورقه رابنکاره کړه چې دسيمې دمجاهدينو د تربيې او اصلاح لپاره يې ابلاغ کړې .

په دې ورقه کې لولو ، مجاهدين بايد اخلاص نيت ، اطاعت ، تقوا او خپل منځي وحدت ولري ، دالله تعالى ذکر له ياده ونه باسي ، نظامي امورو ته متوجه وي ، دجنګ په وخت تدبير او هوښياري ولري ، دملکي تلفاتو په ټينګه مخنيوی وکړي ، دغنيمت مال په امانتدارۍ وساتي ، له خلکو سره ښه اخلاق وکړي ، دخپلو ملګرو خپل منځي تعليم او تربيې ته متوجه وي ، عام مجاهدين دې دخلکو په حقوقي قضاياوو او عرايضو کې مداخله نه کوي ، داسلامي امارت په لائحه عمل کول په هر مجاهد لازم دي او مخالفت کوونکي ته يې سزا ور کول کيږي ، مجاهدين بايد قومي ، لساني او سمتي تعصب ونلري او داسې نورې ګڼې لارښوونې .

حبيب مجاهد :

قاري صاحب په پای کې که څه ويل غواړئ ، ترڅو يې لوستونکو ته ور سوو!

قاري صلاح الدين :

غواړم خپلو هيوادوالو او دمنطقې خلکو ته خپل پيغام ورسوم ، دوی ته بايد ووايم چې تاسو هغه مجاهدين چې څو کاله يې په اړه غلط تبليغات در ته شوي وو په خپلو سترګومو وليدل ، چې هغوی نه پردي وو او نه دنورو ګوډاګيان بلکې همدا ستاسو زامن او ورونه وو ، نو له دې څخه بايد تاسو داعبرت اخيستی وي چې ددښمن ټول نبليغات دروغ دي ، ددښمن په تبليغاتو بايد هيڅکله باور ونه شي ، موږ وينو چې تاسو دحقيقت په روښانيدلو سره له مجاهدينو سره همکاري زياته کړې ده ، موږ هيله لرو چې له مجاهدينو سره نوره هم همکاري اضافه کړی ، خپل زامن او ورونه ددښمن له صفوفو څخه راوباسئ ، ځکه تاسو وليدل چې دښمن څومره ظالم او خونخوار دی چې په مسلمانانو هيڅ رحم نه کوي .

تاسو د المار په قره غوايلو سيمه کې وليدل چې دښمن دعملياتو په بهانه په څومره ظلم ښځې او ماشومان په شهادت ورسول ، ۱۳ کورنه يې وسوځول ، په نجار قلعه کې يې ۴۲ کورونه چور کړل اوددښمن وحشي اربکيانو او عسکرو دعام او غريب ولس ورو ستې پاته شتمني هم ترې لوټ کړه .

دغه وحشي عسکر د کفارو اجيران دي چې غواړي د کفارو اهداف سر ته ورسوي ، ددوی په تبليغاتو بايد ونه غوليږئ او اعمالو ته يې بايد وګورئ .

زه تاسو ته اطمينان در کوم چې دمجاهدينو لخوا به له تاسو سره هيڅ غير شرعي چلند ونه شي دهيچا سر او مال ته به لاس اوږد نه کړای شي ، تاسو وليدل چې موږ په پښتون کوټ ، المار ، قيصار ، چلګزی ، لولاش ، شرين تګاب ، جمعه بازار او دولت اباد کې هغه کسان بنديان کړل او سخته سزا مو ور کړه چې دمجاهدينو له نامه يې غلطه استفاده کوله ، يايي عام خلک ځورولي وي ، که تاسو له هرچا شکايت لرئ بايد موږ ته عريضه وکړئ ، ترڅو مو غږ واوريدل شي .

دسيمې له علماء کرامو مې غوښتنه ده ، چې دخپلو مجاهدينو ورونو ترخنګ په اخلاص ودريږي ، مجاهدين ددوی رهنمايي ته ډيره اړتيا لري ، چې بايد ورسره همکاري وکړي ، ځکه که له جهاد سره دعلم رڼا ملګرې نه وي ، نو مجاهدين بې لارې کيږي او په غلطه لار برابريږي ، نوځکه بايد زموږ علماء کرام له مجاهدينو سره هميشني تعلق او رابطه ولري ، هغوی ته سمه لار وښيي دهغوی به تربيه او اصلاح کې کوشش وکړي ، تر څو دبې لاريو مخه ونيول شي .

آه ! دهيواد

ليكوال: حامد ک ل

جيد او نوميالی ديني عالم مولوي عبدالله ذاكري هم شهيد شو...

څو ورځې وړاندې دګاونډي هېواد پاكستان بلوچستان ايالت په مركزي ښار كوټه كې زموږ دهېواد يو ډېر مشهور علمي او جهادي شخصيت او دافغانستان دعلماوو داتحاد زړ ور مشر مولوي عبد الله (ذاكري) داسلام دسخت زړو دښمنانو لـه لورې پـه ډېره ناځوانمردۍ شهيد كړای شو. انا لله وانا اليه راجعون

بې له شكه دا نړۍ فاني ده ، هرڅو ک ورنه داخرت په لور كوچ كولو لپاره راغلی، دايو داسې حقيقت دی چې ترې هيڅ يو مسلمان انكار كولی نشي، بلكې دټولو اسماني اديانو پيروان هم داحقيقت مني ، نړۍ كې هرڅوک ژوند تيروي كه هغه شتمن دی كه غريب، كه واكمن دی او كه بې واكه، كه ځواكمن دی او كه كمزوری هريو دخپل ذوق او صلاحيت سره سم ژوند كوي ،دهغه خوښه وي او كه ناخوښه د نړۍ نه به داخرت پـه لور رحلت او كوچ كوي كومو ظالمانو چې مولانا عبدالله ذاكري شهيد كړ، هغوئ دې پوه شي چې دنياكې دڅه وخت لپاره بـه داسلام ددښمنانو سيوري تـه ځانونـه خونـدي كـړي . خـو اخـر يـوه ورځ بـه دوئ هـم خامخاددنيا څخه ځي او دخدای (ﷻ) په محكې به ددې نه ښښونكي كافرانه جنايت تراخه وڅكي ، هيڅكله به خلاص نشي.

دمولانا عبد الله (ذاكري) شهيد ټول ژوند داسلام دسرلوړۍ او دهېواد دازادۍ لپاره تير شو، ټول عمر يې داسلامي ښې دښېرازۍ اوسمسورتيا تـه وقف كـړی و، هميش يې دهر باطل پـه وړانـدې دحق ويلو فريضه سرته رسوله ، دادالله (ﷻ) انتخاب دی چې ديوسړي نه كوم كار پـه څه ډول اخلي، مولانا عبد الله (ذاكري) په رښتني تو ګه ددين مبلغ او داعي و او په دې لاره كې دهر ډا درعب اودبدبې نه بې پروا و نوموړی دومره شجاع او دستر همت څښتن و ، چې نه يې ژبه دكمونزم رژيم وحشت پالو ګوډاګيانو له حق ويلو بنده كړه اونه دجهادي رهبرانو دخپلمنځي رقـابتونو اوجنګونـو پـه دوران كې پـه حـق وينـا سـتړې اوستومانه شو.

دروسانو دتيري او اشغاله رانيولي دامريكا تر يرغله په هر پړاو اوهـره دوره كې حق ويناله حق نه پلوي دنوموړي ځانګړتياوه اوپه ډېر اخلاص او زړورتيا يې له هر منكر اوباطل سره ډغره ووهله

نوموړی څنګه چې پـه افغانستان دشوروي دتيري او يرغل مخالف او دروسانوپه ضد جهاد فرض ګڼانه هم داسې كله چې امريكايې ښكېلاک زمـوږ پـه خـاوره د دظالمانـه يرغـل اراده وكـړه شـهيد مولانـا عبـد الله (ذاكري) دهغـو لومړيـو جيـدو علمـاوو لـه ډلې څخـه وو چې دامريكـايې يرغل په وړاندې يې دجهاد فتوه وركړه ، اووخت په وخت يې هرځای په ډاګه دامريكا دتيري په وړاندې جهاد فرض ګڼانه او هم يې دروان جهاد او مقاومت نـه پـه كلكـه دفـاع كولـه او دا پـه اصل كې دالله (ﷻ) دسترو لورينو څخه يوه لورينه ده چې هر چاته وغواړي دټول عمر لپاره هغـه دخپـل حقاني دين داعي وګرځوي اوترپايه هغه تـه پخپل دريځ اوموقف باندې دصبر اواستقامت وياړ وربـه برخـه كـړي اوټول ژوند دالله (ﷻ)ددين پـه دفاع او ساتنه كې تير وي لكه حديث كې رسول الله (ﷺ) فرمايلي:

لايزال الله يغرس فی هذا الدين غرساً يستعملهم فی طاعته (ابن ماجه)

الله(ﷻ) په دې دين كې ونې نيالوي، هغوئ پخپل اطاعت اوبندګۍ كې استعمالوي .يقيناً : شهيد مولانا عبد الله (ذاكري) هم د داسې غـوره بنده ګـانو لـه ډلې څخـه و چې الله (ﷻ) دخپـل ديـن دفـاع او داعلی كلمـة الله ددعوت لپاره غوره كړی وو

الله (ﷻ دې نوموړي ته فردوس جنت نصيب كړي اوداروابشاد پاتې كورنۍ، اولادونو، شاګردانو اوملګروته ته دې صبر اواستقامت نصيب كړي امين

داصول فقه او اجتهاد تاریخ

دویمه برخه: داسلامي نړۍ فقه عالم دوکتور محمد حمید الله (رح)

ژ: شهاب منصور

غالباً په هغه (کتاب الرایي دامام ابوحنیفه ﷫) کې داصول فقه اوسنی مفهوم بشپړ نه و، لیکن د رایې څخه په استفاده قانون بدلول، دقانون مفهوم معلومول، پکې تاویل کول اوداسي نور... غالباً په هغه (کتاب) کې څېړل شوي وو، داترټولو ړومبنی کتاب دی، چې په اصول فقه لیکل شوی دی، کیدای شي پخوا بل څاهم پر دې موضوع په لیکلي اوعملي بڼه کار کړی و، یعني دامام ابوحنیفه (﷫) استادانو به هم داصول فقه موضوع په اړه کار کړی وي اوپه دې اړه یې ځیني سوالونه ځواب کړي وي، خوداچې هغوئ په دې کوم کتاب لیکلی وي، تراوسه مونږ په اړه یې معلومات ندي موندلي. له دې وجې مونږ وایو چې په داصول فقه په موضوع ترټولو ړومبنی کتاب (کتاب الرایی) دامام ابوحنیفه(﷫) دی

له شک پرته امام ابوحنیفه دقانون په لړ کې لوی خدمتونه کړي، ترټولو لوی خدمت یې دکتاب الرایي لیکل دي،له دې څخه علاوه زه یو ه بل څېز ته هم اشاره کوم او هغه دا چې په نړیوال قانون یې هم یو ځانګړی کتاب لیکلی، کوم ته چې زه وروسته په تفصیل سره نغوته وکړم، نړیواله قانونپوهنه هم یوه داسي موضوع ده، چې وړاندې داسلامه یې عملاً شتون نه لاره، علمي نړۍ ته یې دقانون په توګه وړاندې کول دمسلمانانو کارنامه ده، چې په دې اړه هم تر نورو ړومبنی کتاب د امام حنیفه (﷫) "کتاب السیر" دی، یوبل شی چې زه دهغه یادونه کوم هغه پخپلو شاګردانو کې دعلم ذوق پیدا کاوه، دذوق مطلب دانه دی چې استاد هرڅه وایي، نکه طوطي ته هم هغه وایه، چې کله ورته اړتیا پیښه شي تکرار یې کړه، دامام ابوحنیفه(﷫) ددرس طرز داسي نه وو، هغه پخپلو شاګردانو کې داجتهادي وړتیا ترڅنګ د تفکر او رایې دازادۍ توانمندۍ هم پیدا کوله، دنوموړي په وړاندې هر شاګرد په آزادانه ډول خپله رایه څرګندوله، دبحث اوتمحیص وروسته دمعقولو دلایلو په رڼا کې داړوند مسئلې دلایلو ردو قبولیت کیده، استاد اوشاګرد پخپلو رایو ټینګار او ضد نه کاوه، ویلی کېږي په حنفي فقه کې دامام ابوحنیفه (﷫) په رایه پنځلس فیصده اپنځه اتیا فیصده دصاحبینو په رایه یعنې دامام ابویوسف او دامام محمد بن حسن شیباني په متفقه رایه فتوا ورکول کېږي، دا هرڅه دهغه روزنې نتیجه وه، کومه چې امام صاحب خپلو شاګردانو ته ورکړې وه، چې ړوند تقلید مه کوئ، د خپلې رایې دڅرګندولو حق لرئ اوله حق پرته بل هیڅ مه قبلوئ. ابن خلکان لیکلي چې امام ابویوسف (﷫) یو کتاب لیکلی وه، دهغه نوم "کتاب الاصول" و، فکر کېږي چې هغه هم داصول فقه په اړه و، یا غالباً دکتاب الرایي شرحه وه، ممکن امام ابوحنیفه (﷫) کتاب الرایه دلیکلو وروسته خپله تدریس کړی هم وي، د تدریس دوران کې یې دنیو کو په ځواب کې پخپله دهغه شرحه هم کړې وه او بیا دهغه بحث حاصل امام ابو یوسف (﷫) په کتاب الاصول کې راټول کړی وو، افسوس! چې دا کتاب ترمونږ رسیدلی ندی، په نورو شاګردانو کې یې ډېر ممتاز اونومیالی شاګرد دامام محمد (﷫) دی، له یوه تازه چاپ شوي کتاب نه معلومیږي چې هغه هم په دې موضوع یو کتاب لیکلی وه، په تازه چاپ کتاب کې دامام محمد (﷫) دکتاب الاصول ځینې حوالې هم رااخستل شوي، داتازه چاپ شوی کتاب د معتزلي مذهب دامام ابو الحسین البصري کتاب (المعتمد في اصول الفقه) دی، دمعتزله فرقې کتابونه

ډېر کم موندل کېږي . اتفاقاً د المعتمد څلور پنځه نسخې شتون لري ، چې دهغونه دوه يې په استنبول کې شته ، ديمن يوې نسخې فوتو کاپي په مصر کې ده ، دويمه مخطوطه ما سره ده ، کومه چې دبيت الفقيه (يمن) ښار قاضي دخپلې لوريني له مخې ما عاجز ته ډالۍ کړي ، يو بله نامکمله نسخه په ميلانو (اټالي) کې ده ، ددې ټولو نسخو په مر سته ياد کتاب چاپ ته چمتو شوی دی ، چې دمعتزلي فرقې داصول فقه په موضوع يو مهم کتاب دی ، خو زه دته ستاسو توجه دهغه کتاب دې جملې تـه را ګرځوم ، هغه داده چې معتزلي امام ابوالحسين البصری وايي :امام محمد الشيباني ويلي :اصول فقه څلور شيان دي ، قرآن ، حديث ، اجماع ، اوقياس ، دا دهغه کتاب خلاصه ده ، چې ورته ابو الحسين البصري پخپل کتاب کې اشاره کړي ،په دې اساس زه ويلی شم چې دامام ابوحنيفه (ؒ) يواځې يوه شاګرد د نه بلکې څو شاګردانو دکتاب الرايي دشرحې لړ کې د اصول فقه په موضوع کتابونه ليکلي اوددې دريځ غوره کولو يوه وجه دا هم ده چې اوس لږ وړاندې ما تاسو ته وويل :چې دامام ابو حنيفه (ؒ) ته کتاب السير هم منسوب دی ، يعنې د نړيوال قانون په اړه يې هم يو کتاب ليکلی و ، اګر که مونږ ته دڅو اقتباسونو پرته هغه کتاب بشپړ ندی رسيدلی ، خو په همدې نوم دهغه درې څلورو شاګردانو کتابونه ليکلي دي ، ابراهيم الفزاري چې دامام صاحب يو شاګرد دی دهغه ليکلی "کتاب السير" دمخطوطو په شکلاوس هم شته ، دامام محمد بن حسن شيباني "کتاب السير الصغير" او "کتاب السير الکبير" په نومونو دوه جلا لوی کتابونه ليکلي چې هغه دواړه تر مونږ رسيدلي ، هم داشان دامام ابو حنيفه (ؒ) يوبل شاګرد امام زفر هم "کتاب السير" ليکلی ، دامام ابوحنيفه (ؒ) په معاصرينو کې امام مالک (ؒ) او امام اوزعي (ؒ) هم د"کتاب السير" په نوم جلا ، جلا کتاب ليکلی ، يوبل معاصر واقدي څوک چې مشهور مؤرخ وه ، هغه هم په نړيوال قانون باندې په همدې نوم کتاب ليکلی دی ، څنګه چې دامام ابو حنيفه (ؒ) د"کتاب السير" څخه په تأثر اوپه نړيوال قانون دنوموړي د درسونو په اساس دهغه څوتنو شاګردانو دکتاب السير په نوم څو جلا کتابونه ليکلي دي ، هم داسې شايد دکتاب الرايي دتدريس لړ کې هم هغه صورت پېښ شوی وي ، او دنوموړي شاګردانو په دې موضوع هم ګڼ کتابونه ليکلي وي ، ممکن داصولو نوم هم ورته امام ابو حنيفه (ؒ) غوره کړی وي ، دکتاب الرايي دتدريس په لړ کې ددې ذکر کولو وروسته داښودل دي ، چې کتاب الاصول يعنې علم الاصول کوم کتابونه چې په مسلمانانو موندل کېږي ، دهغو درې ړومبنې کتابونه يعنې دامام ابو حنيفه (ؒ) کتاب الرايي او دامام ابو يوسف (ؒ) او دامام محمد (ؒ) کتاب الاصول مونږ ته ندي رسيدلي ، کوم کتاب چې مونږ ته رسيدلی هغه دامام محمد شيباني (ؒ) دشاګرد امام شافعي (ؒ) کتاب دی ، امام شافعي (ؒ) په يوه وخت کې ترڅو روايتونو پورې تړلی دی ، نوموړی دهجرت په ۱۵۰ کال زيږيدلی ، په همدې کال امام ابو حنيفه (ؒ) له دنيا څخه رحلت شوی ، له دې وجې هغه مخامخ دامام ابوحنيفه (ؒ) نه استفاده نده کړي البته کلونه کلونه دامام ابوحنيفه دنوميالي اوممتاز شاګرد د امام محمد (ؒ) شاګردي اوله هغه نه يې زده کړې کړې دي ، هم يې په مدينه منوره کې کلونه کلونه دامام مالک (ؒ) نه زده کړې کړې دي ، نوموړي فلسفه ، منطق اوعلم الکلام هم لوستي وو ، هغه زمانه کې دمعتزله فرقې راج وو ، له هغوئ سره يې مباحثې هم وکړې ، له دې وجې دامام شافعي (ؒ) په شخصيت کې څو داسې صفات وو چې په وجه يې نوموړي هم داسلام ډېر ستر خدمتونه کړي ، چې دهغو له جملې څخه ځنې په لاندې ډول دي :

په مسلمانانو کې څنګه چې اوس ځيني قدامت پال اوځيني جدت پال دي پخوا زمانه کې هم داسې وو ، دادوه متضاد فکرونه په هره ټولنه او هر قوم کې شتون لري ، په هر صورت هغه مهال ځيني خلک دحديثو په زده کړه او دهغو په راټولو لو مشغول وو ، ځينو خلکو له نورو علومو سره علاقمندي زياته وه ،په نتيجه کې هغو فقهاوو چې دقانون علم په لوري يې ميلان ډېر وو ، دمنطقي او فلسفي استدلال په لهجه غوښتل اسلامي قانون ته وده ورکړي ، په دې وجه دحديث په لوري دهغوئ ميلان کم وو ، دامام شافعي (ؒ) په زمانه کې ددې دواړو لوريو ترمنځ شديد کشمکش راغی ،دهغو خلکو چې درسول الله (ﷺ) د حکمونو ، افعالو او اقوالو په راټولولو لګياول ،او دهغو ترمنځ چې داسلامي قانون تدوين يې دقياس او استنباط په مرسته فاصله او واټن زيات شو ، له نيکمرغه چې په دې وخت کې دامام شافعي (ؒ) په شان امام پيداشو ، دهغه ستر خصوصيت دا و چې له محدثينو اوفقهاوو دواړو نه يې زده کړې کړې وې ، ، هم يې فلسفي او کلام ته لاس رسی درلود ، په دې وجه نوموړی ددومره ښه عالم په توګه څرګند شو ، چې ددواړو لوريو ترمنځ داتصال او يووالي راوستو مرکزي نقطه شو ، په دې توګه دامام

شافعي تر ټولو لويه کار نامه داده چې اهل حديث يې او د امت فقهاء سره يو کړل، داچې نوموړی په حديث او فقه دواړو پوهيدو نو چې هرڅه يې بيانول په هغو به دواړه لوري خوښ وو ، دادامام شافعي (رحمه الله) لامثالا کار نامه ده چې په برکت يې مسلمانانو کې اتفاق راغی، ددې لپاره نوموړي "کتاب الرساله" تاليف کړه ،ما مخکې دا خبره وکړه چې اوس مهال نړۍ کې په اصول فقه کوم تر ټولو پخوانی کتاب موندل کيږي هغه "کتاب الرساله" دی ،چې دنړۍ ګڼو ژبوته ژباړل شوې ، په دې کتاب ليکلو ګويا امام شافعي (رحمه الله) ديوه نوي علم بنسټ کيښود، ياداچې ديوه وړاندې جوړ علم بنسټونه يې نور قوي کړل ، نوموړي په رساله کې کوم څه راوړي ، هغه نن د پيړيو پيړيو وروسته هم په هغه بڼه پاتې دي ، حتی هم هغه اصطلاحات چې امام شافعي کارولي من او عن څوارلس سوه کاله وروسته هم کارول کيږي ، درساله معنی ده، ليک، ددې شاليد دادی چې امام شافعي (رحمه الله) د خپل يوه شاګرد په غوښتنه چې استاد !که مونږ ته ددې موضوع يعنې اصول فقه په اړه يوڅه وليکې . څو دهغو نه په استفاده دافن بنه ياد کړو ! امام شافعي دهغه لپاره په يونيم سل مخو کې يو ليک وليکه او خپل شاګر دته يې هغه ورواستاوه ، په بڼه تفصيل يې دا وليکل چې قانون څه ته وايي ؟ قانون څنګه جوړيږي؟ پخوانی قانون څنګه منسوخ کيږي؟ په الفاظو باندې دپوهيدو لپاره څه ته اړتياده ؟ په هغه کې دلغت ، دژبې په قواعدو ، بلاغت ، او دعروض علم په قواعدو هم رڼا اچولې ، او مثالونه يې هم راوړي ، اوددې ترڅنګ يې په زيات دقيق ډول خپلو مخالفينو ته ځوابونه هم ويلي ، دامام شافعي په زمانه کې چې دمعتزله فرقې اثر ډېر و ، دهغې په اند: په حديث باندې په اسانه باور ګران دی، داويل چې معتزله يومخ حديث ردوي ، افتراء ده ، حقيقت داسې ندی. دابو الحسين البصري دکوم کتاب يادونه چې ما وکړه، هغه دغه فرقې دمؤلف کتاب ب دی، هغه په تفصيل سره ليکلي چې په حديث باور څنګه راتلاس شي؟ دحديث په باره کې دهغه له رايې سره يو سني سړی په مشکله اختلاف کولی شي، داچې څه وجه ده چې له امله يې په هغوئ (معتزله وو) د حديث نه منلو طعن کيږي ؟ غواړم په دې اړه چې امام شافعي (رحمه الله) کوم څه کړي دي ، هغوته اشاره وکړم:

دمعتزله فرقې دعلماوو رايه دا وه ، که په يو حديث کې يو حکم راغلی وي ، يا دهغه نه کوم قانون جوړيږي، ددې لپاره ضروري ده چې هغه حديث به له يو نه زياتو کسانو روايت کړی وي ، په "خبر واحد" يعنې ديوه راوي په روايت او حديث عمل نشي کيدای او ناسم دی ، ولې دقانون غوښتنه داده چې دهرې دعوې دثبوت لپاره دوه تتنه شاهدان ضروري دي ، فقهاوو او محدثينو دمعتزله وو دا رايه په کلکه رد کړه ، امام شافعي (رحمه الله) ددې ځواب په محققانه لهجه ورکړ ،چې ورسره دمعتزله وو نيوکه چې "خبر واحد" دباور وړندی بې اثره پاتې شو او ديوه راوي په روايت ټولو خلکو عمل پيل کړ ، امام شافعي (رحمه الله) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له مبارک سيرت نه ګڼ واقعات وړاندې کړل، چې په کې ديوه تن په شهادت ديوه حکم دتعميل حکم شوی، لکه يوه ورځ دسهار لمانځه په وخت کې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يو سړی واستاو، هغه په مختلفو ناحيو کې په لوړ ستوني دا اعلان وکړ :چې قبله نور دبيت المقدس په ځای دکعبې په لور ده دکومو خلکو چې په سهار لمانځه مخونه بيت المقدس ته وو هغوئ ديوسړي په غږ دکعبې لورته وګرځول ، ټولو خلکو دهغه په خبره عمل وکړ ، ددې معنی داده چې په نبوي دوره کې هم ديوه سړي په شهادت باندې عمل کيده ، او هيڅکله داسې ندي ويل شوي چې که دوه کسانو درسول الله (صلی الله عليه وسلم) دحکم اطلاع دروړه وې منئ او کنه، نه ، په همدې توګه يې بل مثال وړاندې کړ : يوه ورځ مدينه منوره کې درسول الله (صلی الله عليه وسلم) لخوا يو ګومارل شوی سړی درومي او په تلو تلو کې دا اعلانوي مسلمانانو! دشرابو دمنعې حکم راغلی ! شراب مه څکئ! يو سړی دی ، حضرت انس (رضي الله عنه) وايي (په صحيح بخاري کې روايت دی دادهغه دکوچنيوالي واقعه ده) کله چې هغه سړي منډې وهلې او همدا اعلان يې په خوله و او ددوئ تر کوره رسي ، دغه مهال يې والدينو ميلمنو ته شراب وړاندې کړي ، دشرابو دحرمت حکم په اوريدو ، پلار ورته امر کوي: يه ژر پورته شه ، شراب وغورځوه، هغه وايي زه پورته شوم ، تبر مې واخست دشرابو ټول منګي مې مات کړل، کومو خلکو چې شراب څکل هغوئ دکې پيالې وتوغولې، ټولو خلک ديوه سړي په خبر عمل وکړ ، امام شافعي (رحمه الله) دګڼو مثالونو په وړاندې کولو ثابته کړه ، چې درسول الله (صلی الله عليه وسلم) په حديث باندې دعمل کولو لپاره ديوه سړي شهادت هم کافي دی، دا دامام شافعي ستره کار نامه وه ، هم دا راز دفقهاوو او محدثينو يوځای کول دامام شافعي (رحمه الله) داسلامي قانون او فقهې دتدوين لار کې نه هيريدونکې خدمتونه دي .

نور بيا ....

شهامت

عبدالرؤف حکمت

د شهيد مولوي محمد جان صاحب

ژوند او کارنامو ته کتنه

پيدايښت او د ژوند ابتدائي حالات

مولوي محمد جان (مخلص) چې په مولوي احمدجان يې هم شهرت درلود د حاجي عبدالرؤف زوی له نن څخه ۴۳ کاله پخوا په ۱۳۹۲ هـ ق کال چې ۱۳۴۹ هجري شمسي سره سمون خوري ، په خپل اصلي ټاټوبي د غزني ولايت دقره باغ ولسوالۍ دبرلې په کلي کې په يوه ديندار او جهادپاله کورنۍ کې دنيا ته سترګې وغړولې .

نوموړی چې په يوه دين پالونکي خاندان کې زيږېدلی وو ، له ډېر کوچنيوالي دخپلې کورنۍ له خوا ديني زده کړو ته سوق کړای شو ، او دخپل کلي دمسجد له ملاامام څخه يې ابتدائي ديني تعليمات پيل کړل .

نوموړي چې په خپله سيمه کې يې ابتدايي زده کړې له خپل استاذ مولوي عبدالحی يزداني صاحب څخه ترسره کړې د پنځلس کلنۍ عمر ته په رسيدو دعلم دترلاسه کولو په تکل دپاکستان قبايلي سيمې ته په سفر لاړ ، او دجنوبي وزيرستان د وانه د کړيکوټ په سيمه کې په تعليم القرآن مدرسه کې يې ديني زده کړې پيل کړې ، په دې مدرسه کې له څه مهال درس ويلو وروسته دجنوبي وزيرستان په اعظم ورسک سيمه کې د شهيد قاري آقا محمد غزنوي مدرسې دارالعلوم المجاهد ته لاړ ، ۱۳۶۶ هـ ش کال کې د ډيره اسماعيل خان مظهر العلوم مدرسې ته لاړ چې له مغه وروسته يې دهنګو ضلعې په توره وړۍ سيمه کې تعليم القران مدرسه کې څه مهال درس وو ايه ، په همدې مدرسه کې له څه مهال درس ويلو وروسته په ۱۳۶۷ هـ ش کال کې په شمالي وزيرستان ميرانشا کې دستر جهادي قائد مولوی جلال الدين حقاني صاحب مدرسې جامعه منبع العلوم ته داخل شو ، او له همدې ځايه يې جهادي ژوند هم پيل شو .

د کمونيزم په خلاف جهاد

د کمونيزم په خلاف دجهاد په مهال مولوي محمدجان چې دغه وخت نوی ځوان وو ، په لوموړي ځل دخوست په ولايت کې په جهادي تعرضونو کې برخه واخيسته ، نوموړی به دحقاني صاحب له مدرسې څخه له نورو مجاهدو طالبانو سره يوځای دخوست ولايت مختلفو جبهاتو ته تلو او په جهادي عملياتو کې يې برخه اخيسته ، چې له عملياتو وروسته به د خوست ولايت مربوط د بړې په سيمه کې دحقاني صاحب په مشهور جهادي غونډ کې ميشت وو .

دحقاني صاحب په مشرۍ دخوست ولايت د فتحې ۱۷ ورځنۍ معرکه چې دکمونيزم ضد جهاد دمهال مهمه کارنامه بلل کيږي ، مولوي محمدجان صاحب په دې معرکه کې ګډون درلود او کله چې خوست ښار فتحه شو او حقاني صاحب د پکتيا په مرکز ګرديز باندې تعرضونه پيل کړل ، مولوي محمدجان صاحب د ګرديز ښار ته څيرمه دمهلن په سيمه

کې دحقاني صاحب په جهادي قرارګاه کې میشت شو ، نوموړي دحقاني صاحب په جهادي تشکیلاتو کې ترمغه مهاله جهاد ته ادامه ورکړه ، ترڅو په بشپړه توګه دکمونیزم کمپله ټوله شوه او کمونیستي رژیم وپرځیده .

تنظیمي دوره او له بیت المال څخه دفاع

د مولوي محمدجان صاحب یو نږدې ملګری قاري ضعیف وایي چې دګردیز له نیولو وروسته مولوي محمدجان صاحب سره له خپلو ملګرو دګردیز ښار دبریښنا په ریاست کې میشت شو ، دا مهال دخپلسرو وسله والو او تنظیمي تالانګرو لخوا په عامه تاسیساتو چور ګډ وو ، او ټول دولتي تاسیسات او امکانات یې له مخې چور کول او ولجه کول ، په دې مهال دبې جلبه ټوپکوالو او مسلحو غلو وضعیت داسې وو چې په اسانۍ یې هیڅا مخ نه شوای نیولی ، خو مولوي محمدجان صاحب دخپل جرأت او میړانې په برکت وتوانید چې دخپلې ورسپارل شوې او شاوخوا ودانیو امنیت وساتي او له چورچپاول څخه یې بچ کړي .

قاري ضعیف وایي په ګردیز کې زموږ دریاست له څنګ سره د ګردیز دفوائد عامې ریاست وو چې ګڼ شمیر حکومتي موټر او وسایط په کې ولاړ وو ، چې تردې مهاله دچپاولګرو لاس نه وو ورته رسیدلی ، یوه ورځ څه ګورو چې د بې جلبه وسلوالو له ډلې څخه یو تن دې ودانۍ ته راغلی دی ، او غوښتل یې چې دغه ودانۍ قبضه او وسایط یې لوټ کړي ، کله چې مولوي محمدجان صاحب دغه ټوپکمار لیدلی ، نو ورغلی دی او له ترټلو وروسته یې له دې ځایه پسې اخیستی دی .

لږ شیبه وروسته په ګڼ شمیر کې ټوپکماران چې په غلا او لوټ کې یې شهرت درلود زموږ دریاست مخې ته راغلل ، او غوښتل یې چې له موږ سره خبره سپینه کړي .

قاري ضعیف وایي زه داسې مهال له بریښنا ریاست نه ورووتلم ، چې مولوي محمد جان په داسې حال کې چې راکټ ته یې مرمۍ ورتېره کړې ده ، له یوه ډله ټوپکمارو سره په جنجال اخته دی ، او ورته وایي چې که بیرته لاړ نه شي نو له خطر سره به مخامخ شي ، ددغو کسان مشر ویل چې موږ ته نورو خلکو وویل چې په دې ریاست کې طالبان اوسي طالبان ډیر ښه خلک دي او ورشئ په نرمه خبره ورسره خلاصه کړئ ، خو مولوي محمدجان خبره ورغبرګه کړه او ورته ویې ویل چې هرڅا درته ویلي چې طالبان ښه خلک دي بد یې کړي دي ، موږ دبیت المال دساتنې په مسئله کې ډیر بې لحاظه خلک یو ، او هیڅا ته اجازه نه شو ورکولای چې عامه شتمنۍ لوټ کړي.

دغه کسان چې له شکل او کردار څخه غله او لوټماران ښکاریدل ویل یې چې دملي محاذ له تنظیم سره تعلق لرو او غواړو د فوایدعامې په ریاست کې پوسته جوړه کړو ، مولوي محمدجان ورته وویل چې په کومه لار راغلي یئ بیرته په مماغه لار لاړ شئ ، او اجازه نشته چې د نورو سیمو غونډې دغه محفوظ پاته ځای هم لوټ کړئ ، کله چې دې شوکمارانو دمولوي محمدجان صاحب جدیت ولید ، نو بیرته لاړل او په دې توګه مولوي صاحب په خپل جرأت سره دبیت المال له سرمایې څخه دفاع وکړه .

د طالبانو په تحریک کې شمولیت او خدمت

د کمونیزم په خلاف دجهاد له انتهاء وروسته مولوي صاحب یوځل بیا خپلو دیني زده کړو ته اوږه ورکړه او مغه مهال چې دطالبانو اسلامي تحریک دکابل څنډو ته رسیده نوموړی دخیبر پښتونخوا دهنګو ضلعې د زرګري په مدرسه جامعه اسلامیه کې دنبوي احادیثو په دوره بوخت وو ، نوموړي په همدې کال دهمدې مدرسې له شیخ الحدیث دحسین احمدمدني صاحب شاګرد (مرحوم شیخ بهره مند

صاحب) څخه داحاديثو اجازه ترلاسه کړه ، او هيواد ته په ستنيدو يې داسلامي تحريک په صفوفو کې خدمت پيل کړ .

مولوي محمدجان له فراغت وروسته څه موده دخوست ولايت په مټاچينه سيمه کې دمشهورې ديني مدرسې دنظامت دنده ترسر کړه او بيا دطالبانو داسلامي تحريک جهادي صفوفو ته لاړ چې په دې جهادي ژوند کې دکابل او دشمال دفتوحاتو غونډې په سترو فتحو کې يې شرکت وکړ، دبلخ ولايت له فتحې وروسته يې څه موده دبلخ ولسوالۍ د ولسوال په حيث دنده اجراء کړه ، او وروسته يې دلغمان ولايت دکفيل په حيث دندې ته ادامه ورکړه ، چې په لغمان کې د وظيفې په مهال به ډيره موده د دولت شاه په ولسوالۍ کې په جهادي دنده بوخت وو ، چې په دې سيمه کې يې خورا تاريخي استقامت وکړ او ددښمن ګڼې حملې يې په شا وتمبولې .

دکابل دشمال په جنګي خطوطو کې مولوي محمدجان صاحب ډيره موده دحقاني صاحب دملګرو مجاهدينو سرپرستي هم کوله او ترهغه مهاله يې په جهادي عملياتو کې برخه واخيسته ترڅو دامريکا په مشرۍ غربي کفارو دافغانستان په پاکه خاوره يرغل وکړ .

دامريکا په خلاف جهاد

دامريکايانو له يرغل وروسته کله چې په پلازمينه کابل دطالبانو واکمني پای ته ورسيد مولوي محمدجان صاحب هم دنورو طالبانو غونډې خپلې اصلي سيمې د غزني قره باغ ته لاړ ، هغه مهال چې امريکايي يرغل تازه دمې وو ، نوموړي څو ځله پکتيا او کندهار ته سفرونه وکړل ، دغه مهال په مسلسله توګه له ستر جهادي قائد حقاني صاحب سره په رابطه کې وو ، او هدايات يې ترې اخيستل دغه راز يې دحقاني صاحب يو مهم پيغام هم په کندهار کې دامارت نورو مشرانو ته ورساوو .

ديرغل په لومړي کال له سقوط نه څه موده وروسته چې د افغانستان دنورو سيمو غونډې دغزني قره باغ ولسوالي هم د ټوپکيانو تر واک لاندې راغلې وه ، مولوي صاحب په لومړي ځل خپل نږدې ملګري راټول کړل ، او دجهادي عملياتو دپروګرام جوړولو په اړه يې ورسره مشورې پيل کړې ، ددې غونډې په سبا دمولوي صاحب يو نږدې ملګری معاون حقمل صاحب دمحلي حکومتي ټوپکيانو لخوا ونيول شو ، خو مولوي صاحب په ډير جر أت سره د ټوپکيانو قرارګاه ته ورغی او خپل ملګری يې ترې راخلاص کړ .

له دې وروسته مولوي صاحب له خپلې سيمې لاړ او دحقاني صاحب په جهادي تشکيلاتو کې يې خدمت پيل کړ ، نوموړي دامهال دپکتيا ، پکتيکا او خوست په سرحدي سيمو کې په ډيرو مغو جهادي عملياتو کې برخه واخيسته ، چې دروان جهاد لومړني تعرضي عمليات بلل کيږي ، ددې عملياتو په مهال دامريکايانو سرحدي قرارګاوې بيا بيا دمجاهدينو تر درنو بريدونو لاندې راغلې ، او هميشه ورته درانه تلفات اوښتل .

مولوي طلحه او مولوي نويد چې له مولوی صاحب سره يې په همدې مرحله کې جهادي ملګرتيا کړې ده وايي (دامريکايي يرغل په لومړيو کلونو کې موږ چې ۲۵ تنه ملګري وو دمولوي صاحب محمدجان په مشرۍ مو دخوست په سرحدي سيمه پين او بيا په ببره خوله سيمه کې خفيه مرکزونه درلودل ، او له همدې ځايه مو دخوست په ولايت کې په مختلفو سيمو کې په امريکايي قرارګاوو باندې عمليات ترسره کول ، له دې جملې هغه دسکربيست عمليات ديادولو وړ دي چې وخت په وخت دخوست دصحراباغ په هوايي مرکز ترسره کيدل ، دغه راز دمولوي صاحب محمدجان په مشرۍ ملګرو له نورو مجاهدينو سره يوځای د ترخوبي ، ژوره ، کاريزګي ، لواړه او په ځينو نورو امريکايي قرارګاوو هم بريدونه ترسره کول .

مولوي صاحب محمدجان له هغه مهاله بيا دشهادت ترنيټي پورې ديوه وفادار او نه ستړي كيدونكي مجاهد په حيث دجناب حقاني صاحب سره دهيواد په جنوب ختيځ زون كې جهادي خدمت ته ادامه وركړه ، نوموړی دحقاني صاحب له لوړرتبه او اعتمادی مشرانو ملګرو څخه وو ، چې نه يوازې يې نظامي كارونه سمبالول ، بلكې ملكي ، اداري ، دعوت او ارشاد د اولسي مشكلاتو دحل او فصل په چارو كې يې هم فعاله ونډه اخيستله ، او حتی ډير ځله يې په غونډو او ليدنو كتنو كې دحقاني صاحب په نمايندګی برخه اخيستله ، په ۲۰۱۱ م كال كې نوموړي دحج مبارك فريضه هم ترسره كړه

شهيد مولوي صاحب محمدجان كه له يوې خوا دحقاني صاحب به جهادي جبهاتو كې دنده ترسره كوله ، بله خوا يې په خپله سيمه دغزني په قره باغ كې هم يوه فعاله جهادي دلګی درلوده ، چې اوس هم په پوره متانت خپل جهادي خدمت ته ادامه وركوي .

مولوي محمدجان صاحب دخپل دې جهادي ژوندپه مهال دری ځله ددښمن لخوا ونيول شو ، چې په لومړي ځل يې شپږ مياشتې ، په دوهم ځل دوه مياشتې او په دريم ځل يې اتلس مياشتې بنديخانه تېره كړه .

مولوي محمد جان په دې وروستيو كې دخوست ولايت دجهادي مسؤل په حيث ټاكل شوي وو ، نوموړی د ۲۰۱۳ م كال د نومبر په شلمه چې د ۱۴۳۵ هـ ق كال د محرم له ۱۷ مې سره سمون خوري ، هغه مهال په شهادت ورسيده ، كله چې قبايلي سيمې ته څيرمه د كورمې دسيند په غاړه د ټنډورو په نامه كلي كې په يوه مدرسه كې په ارام خوب ويده وو ، او ددښمن دبې پيلوټه الوتكې دبريد ښكار شو .

د نوموړي جسد دشمالي وزيرستان په ميرانشاه دفدايي مجاهدينو په هديره كې خاورو ته وسپارل شو .

انا لله وانا اليه راجعون

څرنګه چې مولوي صاحب دخپلې سيمې په عامو خلكو كې ژور محبوبيت درلود دغزني په قره باغ كې ولسي خلكو دنوموړي روح ته د دعاء په مناسبت ستر مراسم جوړ كړل او دنوموړي ياد يې ولمانځه .

له شهيد مولوي محمدجان څخه د كشرورور اوخوږې مور په شمول يوه ميرمن او شپږ اولادونه پاته دي ، چې دزامنو نومونه يې محمد رفيق ، محمد ، احمد او محمد عمر دي

دمولوي محمدجان صاحب دشخصيت په اړه

مخكې له دې چې د شهيد مولوي محمدجان صاحب دشخصيت په اړه دنوموړي دنږدې ملګرو تأثرات درسره شريک كړم ددې ژوندليک مرتب غواړم دمولوي صاحب سره دخپلې لومړنۍ او وروستنۍ ليدنې خاطره درسره شريكه كړم .

څلور پنځه كاله وړاندې هغه مهال چې دامريكايانو په يوه ظالمانه بمبار كې د مولوي جلال الدين حقاني صاحب دكورنۍ ځينې كسان شهيدان شوي وو ، له څو تنو مجاهدينو سره دهمدې شهيدانو دفاتحه خوانۍ لپاره لاړم ، كله چې دحقاني صاحب د ملګرو ځای ته ورسيدم ، نو دفاتحې په مجلس كې خپله دحقاني صاحب دكورنۍ څوک نه وو ، خو په مجلس كې يو دقوي مټو خاوند ځوان ناست وو ، چې دميلمنو ميزباني يې كوله .

ملګرو رامعرفي كړ ، چې همدا مولوي محمدجان صاحب دی ، چې دحقاني صاحب له نږدې او مشرانو ملګرو څخه دی ، دهمدې مجلس ملګري چې دحقاني صاحب دكورنۍ په شهيدانو يې ډير زړونه غمجن وو ، لږ شيبه وروسته دمولوي صاحب محمدجان په احساس پارونكو خبرو او وعظ باندې داسې مطمئن شول ، چې د ټولو له زړونو څخه غمونه وځنډل شول .

مولوي صاحب په خپلو ټولو خبرو کې چې دټول مجلس توجه يې جلب کړه ، د شهادت فلسفه بيان کړه او ويې ويل بايدپه دې شهادتونو سره دالله تعالى شکر اداء کړو چې دالله ددين دساتنې لپاره دومره قرباني ته اماده مجاهدين لرو ، ده وويل دامريکاخلاف دجهاد په لومړيو شپو کې موږ دومره مجاهدين نلرل لکه اوس چې شهيدان لرو ، معلومه خبره ده چې الله تعالى دشهيدانو وينه نه ده ضايعه کړې بلکې هميشه يې دهمدې وينو په برکت دجهاد صف قوي کړى او د مجاهدينو شمير زيات شوى دى ، په هماغه مجلس کې ما وليدل چې مولوي صاحب يو له ايمانه ډک ، باعزمه او متوکل على الله مجاهد دى ، چې الله تعالى له امتحاني حالاتو سره دمقابلې لوى استعداد ورکړى وو .

مغه مجاهدين چې له مولوي صاحب سره يې نږدې وخت تير کړى وايي ، چې مولوي صاحب ته الله تعالى په ښه علم سربيره تقوى ، ديانت ، زړه ورتيا او جرأت هم ورکړى وو ، او په هيڅ حالاتو کې يې عزم نه ماتيده .

داسلامي امارت دفرهنګي چارو دکميسيون مرستيال وايي (ما يوازې څو ځله مولوي صاحب محمدجان په ځينو غونډو او مجالسو کې ليدلى وو ، خو په نوموړي کې مې دهوښيارى ، تدبر ، پاخه عزم او اخلاص خورا ډير اثار ليدلي وو ، نوموړي په جهادي صف کې خورا ستر کردار اداء کاوو الله تعالى دې دده شهادت قبول کړي .

داسلامي امارت وتلى ترانه خوان او مجاهد شخصيت ملافقير محمد درويش دمولوي صاحب محمدجان په اړه وايي : مولوي صاحب چې ما ورسره نږدې تعارف درلود خورا مخلص او مشفق جهادي مشر وو ، دخوشطبعى خورا ښه مزاج يې درلود ، او که به يې نصيحت يا غوسه کوله هم دخوشطبعى رنګ به په کې ظاهر وو ، نوموړي له حقاني صاحب سره اوږده جهادي ملګرتيا درلود او د مغه دخورا نږدې او اعتمادي ملګرو څخه وو.

نوموړي دژوند ترپايه دجهاد لاره په خورا لوړه حوصله وپالله ، دده ملګري وايي چې مولوي صاحب دشهادت خورا ارمانجن وو او تل يې دشهادت دعاګانې کولې ، څه موده وړاندې چې دنوموړي يو مشر جهادي ملګرى مولوي محمدسنګين فاتح په امريکايي بريد کې په شهادت ورسيد ، مولوي صاحب محمد جان به ويل چې دشهادت وار زما وو ، خو مولوي سنګين راڅخه وار مخکې کړ ، چې له دې څخه شهادت ته دنوموړي تلوسه معلوميدله .

مولوي صاحب دمجاهدينو په منځ کې په خيرخواهى مشهور وو او له اختلاف او نزاع نه يې خورا کرکه کيدله ، نوموړي لکه څرنګه چې داولسي شخړو او قومي جنجالونو په حل او فصل کې رول درلود دمجاهدينو نيکه تربيه او توجيه ته يې هم هميشه توجه کوله .

دشهيد مولوي صاحب ورور حاجي محمد رحيم وايي : مولوي صاحب محمدجان په جهادي شوق سربيره له ديني علومو سره هم ژوره علاقه درلوده ، نوموړي په خپله سيمه دقره باغ په برله کې د نصرت العلوم په نامه ددينې علومو يوه مدرسه جوړه کړه چې همدا اوس په کې ۵۵ تنه ليليه او سلګونه تنه نهاري طالب العلمان زده کړې کوي .

سره له دې چې مولوي صاحب په شهادت سره جسما زموږ له منځه تللى دى ، خو دنوموړي خوږې خاطرې ، کارنامې او يادونه به ترډيره دمجاهدينو په زړونو او دتاريخ په پاڼو کې خوندى وي ، نوموړي دصدقه جاريه په توګه دطالبانو او مجاهدينو يو داسې صف ترشا پرې ايښى چې دنوموړي لاره تعقيبوي او په دې توګه دنوموړي په شهادت سره په جهادى صف کې خلا نه محسوسيږي .

رحمه الله تعالى



داسلام اساسات

داسلامي او وضعي فقهې تر منځ تفاوت

"دریمه برخه"

مفتي شاهد "حقاني"

داسلامي فقه مختلفې دورې :
داسلامي فقه لومړۍ مرحله یا دنبوت مبارک دور :
دعلم فقه دویمه مرحله یا دحضرت شیخینو رضی الله عنهما دوره
دعلم فقه دریمه مرحله یاتابعینو دور
دعلم فقه څلورمه مرحله یا دکبارو تابعینو دوروستنو او صغارو تابعینودلومړنیو عصر :
. دعلم فقه پنځمه مرحله یاداجتهادزمانه

پروضعي فقه ځیني تنقید کوونکي وایي ،چې ګوندي اسلامي فقه هم یوازې دعلماوونظریات او آراء دي ،چې ددوئ له نظره خدای ج مکړه اسلامي فقه کوم شرعي اصل او بنسټ نلري، نو ځکه یې ددوئ په آند پر خلاف خروج هم داسلامي شریعت پر خلاف خروج ندی ،ددي په څېرداسې ناپوهه خلک یوه بله پاروونکې خبره هم کوي ، او وایي چې اسلامي فقه ددې عصر حاضردغوښتنو ځواب نشي ویلای ،اونه ګوندي دنویو پیښنو احداث معالجه کولای شي ،ځیني نور خو بیا داسې یو قبیح جرأت هم کوي اودخپل ګمان له تنګې محوطې څخه داسې اټکل کوي، چې ګوندې ددوئ په آند اسلامي فقه اوس دیخوانیو مصریانو او آشوریانودتشریع غوندې دتاریخ حافظې ته سپارل شوي، اوځیني خلک اسلامي فقه پر عقل اومحض قیاس باندې مبتني مسایل بولي، اودعامو ناخبره خلکوذهنیتونوته داسې القاء کوي ،چې فقه کوم شرعي اصالت نلري، صرف عقلي او استخراجي مسئلې دي او .....او.....او......

(يَقُولبَعْضُالمُتَعَصِّبِينَللفقْهِالوَضْعِيِّ: إِنَّالفقْهَالإِسْلامِيَّمَاهُوَإِلاَّآرَاءُلِبَعْضِالعُلَمَاءِوَلاَيُعْتَبَرُالخُرُوجُعَلَيْهخُرُوجًاعَلَىالشَّرِيعَة،كَمَايَقُولونَ: إِنَّالفقْهَالإِسْلامِيَلمْيُعَالِجْمَشَاكِلالعَصْرِوَمَاجَدَّمِنْأَحْدَاثٍ .)(المكتبة الشاملة /الموسوعة الفقهية)

خو حقیقت بل دول دی او دا هسې تېرایستونکې نظریات او دولسې خلکو په تردد کې داچولوهڅه ده ،واقعیت دادی چې اسلامي فقه که څه هم دعلماوو دآراوو او نظریاتو ټولګه یا مجموعه ده، خودا داسې آراء ندي ،چې له ځانه تلقي شوي، بلکې دکتاب الله ﷻ

قواعدیا دپارلمانیانوپه رایو تصویب شوي قوانین دي ،چې تولوسیموته یې سرایت ونه کړای شو، کومه پیړیه نیمه وچلیږي او بیا په تلپاتې خوب ویده شي ، دځینو خلکودنفسي غوښتنواو رزوی ګټلو لپاره رامنځته شوي وي ، چې بالاخره په همیشني خوب ویده شي، خو اسلامي فقه به تلپاتې بهیروي ،اوهمدا اسلامي فقه به دټولومسلمانوولسونودمسایلو دحل معقوله لاره وي ،چې دې سره په ډاګه داسلامي اووضعي فقهي تر منځ دبیلوالي کرښه راکښیلای شو ،هغه داسې چې اسلامي فقه هغه ده ،چې هم ددنیوي سزا او هم داخروي سزا سره اړه لري ،ددنیوي سزا نه دچا انفلات یا لیرې کول، به یې دا معنی ونلري، چې هغه دې له اخروي سزا څخه هم معاف شي ،بل مونږه ګوروچې فقهاوو ،دفقه په هره تکلیفي مسئله دا څرګنده کړې ده، چې دا حلال دی یا حرام ،دا فرض دی او دا مندوب.....لکه چې دوضعي احکامو په باب دوئ داسې وایې: چې دا صحیح دی او یا غیر صحیح ،دا نافذالتصرف دی یا غیر نافذ دی ،پداسې حال کې چې ډیرداسې خلک په مختلفوحیلو ،بهانو دوضعي قوانینوپه تصویب کې بوخت دي ،چې آن شریعت سره په ټکرکې وي اودخپلو دنیوي مفادو لپاره داسې قواعد جوړوي.

داسلامي فقه مختلفې دورې :

اګرکه داسلامي فقه مختلف پړاوونه تشریح کول د(تاریخ التشریع)اړوندمباحث دي ،دلته یې راوړل مناسب نه بریښي ،خوددې لپاره چې دلوستونکیو لپاره لاره روښانه نور تبیین هم وشي ،همداسې ددې فقه استقلالیت دتیرو امتونو له فقهو څخه راته ښه جوت شي ،څه رڼا به پرې واچوو ،داهم دیادولوده ،چې پر اسلامي فقه مختلف پړاوونه یا اطوار تیرشوي اومونږ نشو کولای ،چې یویې له بله دزمان په حیث متمایزکړو ،البته دفقه دلومړي پړاووخت چې هغه دنبوت مبارک دور دی، چې رفیق اعلی ته دحضرت محمدρدانتقال په وجه تر نورو غوره دی ،دا ربښتیا هم له نورو وروستیو فقهي مراحلوڅخه متمایز او غوره وخت دی، اودې کې کوم شک او شبه هم نشته.

داسلامي فقه لومړی مرحله یا دنبوت مبارک دور:

حضرت رسول الله ρپه خپلو دواړومکي او مدني وختونوکې پر وحې اعتماد اواتکا درلوده ،تردې چې هغه مسایل چې رسول الله ρپکې پخپله اجتهاد کاوه ،یا به صحابوو دده ρپه حضور یا غیاب اجتهاد کاوه، او دا ρبه پرې خبرشو، نوکه به یې پر خپل ځای پریښود او یا به یې پر انکار وکړ،نوبه یې هم اعتماد پر الهي وحې و ،ځینې خلک دده ρپه اجتهادکې داثبات او ځینې دنفی خبرې کوي ،حق دادی ،چې حضرت رسول اکرم ρپه هغو مسایلوکې اجتهادکړی ،چې وحی پکې نه وه ،نوکله خو اللهΨ په همدې اجتهادثابت پریښی، اوکله یې ورته داسې څرګنده کړې، چې دده ρذهاب خلاف اولی دی .

ددې څخه جوته شوه، چې دغه زمانه دیو اوبل په فقه نه وه اغیزمنه شوې ،داځکه چې حضرت محمد ρامي وو ،او له کوم معلم څخه یې زده کړه نه وه کړې ،نوهرڅه پر وحی بناء وو ،هوهغه مهال ځینې عرفونه اوعادات وو ،چې خلکوبه کول ،ځینې داسې وو ،چې شارع پر ځای پریښودل اوکله ګوروځینې چې داسې رسمونه اورواجونه یې باطل کړل ،لکه دتبنی عرف ،دظهار عرف،ځینې هغه نکاح ګانې چې عربوکې هغه وخت دود درلود ،یا لکه دسود رواج چې دهغه وخت عربانوکې یې عرف درلود اوداسې نور.......................

په الموسوعة الفقهیة کې لیکي: چې پدې دوره کې یوازې قرآن کریم تدوین شو ،اودنورو له تدوین څخه نهی

لدې امله وشوه، چې په خلکو د قرآن کريم او د رسول الله ρ د احاديثو تر منځ د نه تفکيک له کبله التباس رانشي ،چې همدا کار تيرو امتونو کې شوی و ،هغه داسې چې دوئ د الله Ψ کلام له انبياوو ،علماوو او صوفيانو د هغې سره ګډ کړی و ،او دې ټولو ته به يې کتاب مقدس وايه.

ليکن د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص τ او حضرت علي τ غوندې صحابه ووته ،د احاديثو دليکلو اجازه وه ،عبد الله بن عمرو بن العاص τ ته د احاديثو د تدوين اجازه ورکړل شوې وه ،چې د(الصادقة) په نوم يې خپله صحيفه کې هغه احاديث وليکل ،چې له رسول الله ρ څخه يې اوريدلي وو ،او حضرت علي τ ته ددې اجازه شوې وه، چې ځينې هغه مسايل وليکي ،چې د دماء (وينو) او دياتو سره اړه



لري ،لکه په دې عبارت کې :ولم يدونوا فيه هذا العهد إلا القرآن الكريم. وقد نهي عن تدوين غيره خشية أن يختلط على الناس كلام الله بكلام الرسول صلى الله عليه وسلم كما وقع للأمم السابقة، حيث خلطوا بين كلام الله ورسله وأخبارهم ورهبانهم، واعتبروها كلها كتبا مقدسة عند الله. ولكن أذن لبعض الصحابة أن يدونوا أحاديثها الشريفة، كعبد الله بن عمرو بن العاص، فقد كتب ما سمعه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وسمى صحيفته بهذا "الصادقة" ،وأذن لعلي كرم الله وجهه أن يكتب بعض المسائل التي تتصل بالدماء والديات.

حضرت رسول ρ د نبوت د (۲۳) عمر څخه پس رفيق اعلى ته رحلت وکړ ،خو دده ρ لومړنی کار داو ،چې دخلکو عقايد اصلاح کړي ،هغه که د الله Ψ ته سره يې تعلق درلود ،يا د رسول الله ρ د تصديق په اړه و ،او که د قيامت دورځې سره يې اړه درلوده ،همداسې د مکارم الاخلاق خواته بلنه يا د رذايلو له اصولو نه څخه نهی ددې عهد له کارنامو څخه وو ،او په مکي عهد کې چې د ذبايحو په شان کوم احکام تشريع شوي ،هغه هم د توحيد سره مرتبط وو ،خو په مدني دورکې عملي تشريعات پر له پسې راغلل او خلکو ته شرح شول ،تر هغې پورې رسول الله ρ رفيق اعلى ته ندی منتقل شوی، تر څو چې يې تشريع تکميل کړه او په اکثرو امورکې يې عملا تطبيق کړه، که هغه معاملات ،مناکحات ،عبادات ،عقوبات او داسې نورو و.......الله Ψ ربنا فرمايلي چې: { اليوم أكملت لكم دينكم وأتممت عليكم نعمتي ورضيت لكم الإسلام دينا } (سورة المائدة / 3)

د علم فقه دويمه مرحله يا د حضرت شيخينو رضی الله عنهما دوره

دا هغه مرحله ده، چې له نبوت څخه وروسته پيليږي ،دا دوره پدې سره بيله ده، چې ډيرې نوې پيښې پکې له نبوي ρ عهد څخه وروسته رامنځته شوي ،ډير فتوحات وشول، د مسلمانانو له نامسلمانو هغو سره اختلاط پيل شو ،چې خپل جلا عادات او رسومات يې درلودل، هغه چې عربو کې نه وو ؛او پدې نويو پيښو کې د الله

Ψدحکمپیژندنه اړینه وه ،لکه چې مخکې مو وویل هیڅ داسې موضوع به نه وه ،چې هلته پکې کوم شرعي حکم نه و ،اودازمانه دهغوصحابه وو ص دشتون له امله متمایزه وه، چې هغوئ فقاهت درلود ،نوچې کله به کومه نوې پیښه رامنځته شوه، رجوع به همدوئ ته کیده ،پدې صحابه کرامو کې ځینې داسې وو ،چې ډیرې فتواوې به یې ورکولې، چې ددوئ شمیربه (۱۳) ته رسیده ،لکه حضرت عمر τ ،حضرت علیτ ،زیدبن ثابتτ ،حضرت عایشه صدیقه رضی الله تعالی عنها ،حضرت عبدالله بن عمرτ ،حضرت عبدالله بن عباسτ ،حضرت معاذبن جبل τاودحضرت عبدالله بن مسعودτپه ځیرشخصیتونه پکې شامل وو ،که چیرته ددوئ ټولې فتواوې راټولې شوې وی، نوتر اوسه به دهریوه څخه یو لوی کتاب جوړ شوی و........

دحضرت ابوبکرصدیق τپه شان صحابه کرام، پکې دفتوی له حیثه متوسط وو ،چې دده فتواوې له مابعد شخصیتونو څخه کمې پدې وې ،هغه چې دحضرت رسول الله τله رحلت څخه وروسته یې ژوند اوږدنه و ،ځکه دا په(۱۳)هجري کال کې وفات شوی ،دده له خورا مهمو کارنامو څخه داوه ،چې دمرتدینو او دزکات دمانعینو فتنې یې ختمې کړې ،چې ددې نه وروسته یې روم او فارس ته داسلامي لښکرو سوق الجیشي وکړه ،همداسې حضرت عثمان τاو حضرت ابوموسی اشعري τدي، که چیرته ددوئ فتواوې هم راجمع شي ،نو رسالې به پرې ډکې شي.

ځینې مجتهدصحابه داسې وو ،چې داجتهادپروخت به یې دتشریع په روح هغه وخت اعتماد کاوه، چې نصوصوبه یې تایید وکړ ،چې ددوئ امام ،حضرت عمر τاو بیا حضرت عبدالله بن مسعود τو ،اوځینې بیا داسې وو ،چې په حرفیت یې التزام کاوه، چې هغوئ کې حضرت عبدالله بن عمرτشامل و.

ددې دور په لومړیو اومخصوصاد حضرت شیخینو(حضرت ابوبکرτاو حضرت عمرτ)دخلافت په دوران کې دکتاب او سنت څخه وروسته داجماع په نوم دریم مصدر هم رامنځ ته شو ،چې ددې دواړونه ،وروسته چې څوک راغلل هغوئ ته دمسایلو دحل ښکلې مرجع شوه ،کله به چې کوم پیښه رامنځ ته شوه ،نوخلیفه به فقهاء راوغوښتل ،هغوئ چې په علم وفضل کې خورا معلومې او مشهورې ځیرې وې،نودوئ ته به دا پیښه مخکې کښیښودل شوه ،که به یې په یوه رأیه اتفاق راغی ،نواجماع به وبلل شوه اوبیا به یې دمخالفت جواز نه و، په الموسوعة الفقهیة کې لیکي (وَفیصَدْرِهَذَاالعَهْد ،وَبِالتَحْدِیدفیعَهْدِالشَیْخَیْنأَبِيبَکْرٍوَعُمَرَرَضِيَاللهُعَنْهُمَاجَدَمَصْدَرٌثَالِثسِوَيالکتَابوَالسُنَةکَانَ مَرْجِعً لِمَنْجَاءَبَعْدَهُمَا ،أَلَاوَهُوَالإجْمَاعُ) ،لکه دجدې (نیا) دوراثت مسئله کې ،چې سدس به اخلې او یوهنه بلکې ډیرې به پکې شریکانې وي ،همداسې دقرآن کریم جمع کول او لیکل چې دا هم داجماع له مخې شوي دي، خوشرعي حجت ګرځیدلی دی .

دعلم فقه دریمه مرحله یاتابعینو دور

ددې دورې امتدادتر صغارو صحابه وو پورې رسیده ،دعلم فقه ددې دورې دوه ستر امتیازات دادي، چې پکې دعلم فقه دوه لویې مدرسې جوړې شوې ،یوه مدرسه په حجاز او بله په عراق کې وه ،البته ددې دواړو مدرسو مشران او منتظمین صحابه کرام وو ،ځکه حجاز کې دمکې مکرمې دمدرسې زعیم او مشر ترجمان القرآن حضرت عبدالله بن عباس τ ،اوبیا ددې نه وروسته دده مولی(عکرمه او ابن جریج)وو ، دمدینې منورې دفقهې مدرسې ستر مهتمم او مشرحضرت عبدالله بن

عمر τ اووده څخه وروسته له تابعينو نه(سعيد بن مسيب رح) و ،دعراق دمدرسې داهتمام اوزعامت چارې لومړی دجليل القدرصحابي حضرت عبدالله بن مسعود τ پر غاړه اوبيا ددې نه وروسته دده دشاګردانو چې يو پکې (حضرت علقمه رح) اوبيا(ابراهيم النخعي رح) بيا (حمادرح) او بيا حضرت امام ابوحنيفه رح وو ،المکتبة الشاملة کې دتاريخ التشريع او نوروپه حواله ليکي ،چې دحجاز دفقهي مدرسې داجتهادپر وخت اعتماد زيات وخت پر کتاب او سنت اوډيرکم په رأيه باندې ځکه و ،چې يو خو حجاز کې محدثين ډيروو ، اوبل دا درسالت کورو ،نودحديث په سند کې به يې ايله يوه واسطه له حضرت پيغمبرρ سره راتله .

دعراق دفقهي مدرسې په باب چې حضرت عبدالله بن مسعود τ يې زعامت کاوه او دا يې مؤسس و ، دوئ داسې ليکي چې(أَمَّا المَدْرَسَةُ الأُخْرَى - وَهِيَ مَدْرَسَةُ العِرَاقِ فكانَتْ تَلْجَأُ إلى الرَّأْيِ كثيراً و الرَّأْيُ عِنْدَهُمْ يَرْجِعُ إمّا إلى القِيَاسِ الأُصُولِيِّ، وَهُوَ إلْحَاقُ مَسْأَلَةٍ لا نَصَّ فيها بمَسْأَلَةٍ فيها نَصٌّ شَرْعِيٌّ، لِعِلَّةٍ جَامِعَةٍ بَيْنَهُمَا ،وإمّا رَدُّ المَسَائِلِ المُسْتَحْدَثَةِ إلى قَوَاعِدِ الشَّرِيعَةِ العَامَّةِ؛.........يعنې عراق کې غاليه شيعه ګان چې آن کله به يې حضرت علي τ العياذ بالله خدای Ψ او کله به يې له خدای Ψ سره مشابه کاوه ،همداسې به ملحدانو ،خوارجو او نوروفتنه ګروډلوچې شميريې ډيروو، کوشش يې داو ،چې دين کې تلبيس اوخلط پيدا کړي ،نومجبوراً ورته ددې مدرسې استاذانو درروايت دقبوليت شروط سخت کړل ،اوددط لپاره يې غښتلې قيودات ولګول ،درروايت په قبوليت کې به فقهاوو ډير تفکرکوه، اوپاخه شرطونه يې ورته کښيښودل ،چې له امله يې دفتنو دروازې بندې شوې ،دانو داسې شرطونه وو ،چې دحجاز فقهاوو ،درروايت دقبلولو لپاره نه وو ايښې، او نه يې ددې التزام کړی و ،نوچې به روايت الحديث پدې شرطونو پوره نه و ،نو نه به يې مانه، ځکه يې دنويو او مستحدثو فقهي مسايلو حل دشريعت په عامو قواعدو کاوه او يا به يې زيات وخت پداسې رايه کاوه ،چې له اصولي قياس سره به يې پيوند درلود ،چې دااول قياس دادی چې يوه داسې موضوع چې نص پکې نه وي ،دکوم مشترکه علت يا جامع په بنسټ دداسې مسئلې سره په حکم کې مرتبط کړي ،چې په هغې کې نص راغلی وي، نودمقيس او مقيس عليه حکم سره يو شي.

دعراق فقهاووبه دصحابي عمل معتبر باله ،خو کله به چې دده له منقول روايت سره به په تصادم کې و ،نو دوئ به ويل ،چې دده راويت يا منسوخ شوی او يا مؤل دی ،همداسې به دوئ ويل چې کوم ثقه راوي ،چې ديوې عامه بلوی خلاف روايت وکړي، دا يا منسوخ دی او يا تيروتی دی چې دا دده قصدي کار نه وي ،هوکه به کوم قوي روايت پيدا شو ،او يا به پکې دتيروتنې احتمال کم و ،نو به يې دمسئلې داثبات لپاره مانه .

داهم بايد ومنو ،چې حجاز کې هم د(ربيعه بن عبد الرحمن)چې په ربيعة الرأی باندې مشهور و ،اوامام مالک رح استاذ هم و ، داسې فقهاء وو ،چې رأيه به يې دنويو مسايلو په حل کې معتمده بلله، او همداسې په عراق کې داسې فقهاء وو ،چې اخذ بالرأی به يې بد باله ،لکه (عامر بن شراحيل) چې په (الشعبي) مشهور و.

(فَقَدْ عُرِفَ فِيْ هذَا العَهْدِ مِنَ الحِجَازِيِّيْنَ رَبِيعَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، المَشْهُورُ بِرَبِيعَةِ الرَّأْيِ، وَهُوَ شَيْخُ الإمَامِ مَالِك.
كما كانَ في العِرَاقِ مَنْ يَكْرَهُ الأَخْذَ بِالرَّأْيِ كَعَامِرِ بْنِ شَرَاحِيلَ المَشْهُورِ بِالشَّعْبِيِّ.)

دفقه ددې دريمې مرحلې زيات علماء او حملة العلم موالي يا آزادشوي غلامان وو ،لکه په مدينه کې د(عبدالله بن عمر τ)مولی (نافع)،په مکه مکرمه کې دعبدالله بن عباس مولی (عکرمه)په کوفه کې دبني

والبه مولی (سعید بن جبیر)، په بصره کې امام حسن بصري رح او ابن سیرین رح، په شام کې دامام اوزاعی) استاد (مکحول بن عبد الله)، په مصر کې (یزید بن ابي حبیب) چې دا دامام اهل مصر (لیث بن سعد) استاد هم و، اوداسې نور. البته د(حضرت سعید بن مسیب، عامر الشعبي او علقمه بن قیس النخعي) غوندې سوچه عرب توکمه هم پدې دورکې وو، چې ځانونه یې علم ته وقف کړي وو، دفقه دا عصر اوزمان داموي خلافت سره مصادف و، خو دامهال فتنې یوازې په دار الخلافه کې محدودې وې، بهر یې لا پوره سرایت نه وکړی، همدا مهال به فقهاوو او علماوو، یوله بل سره مناظرې او مناقشې کولې او دحق په درک سره به یې یوبل ته تنازل هم کاوه، خو مجموع کې دا دور هم دخیر دور فقاهت و، او رسول الله ρ یې هم په باب دخیر او صلاح شهادت ورکړی: (فَقَدْ صَحَّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ") رواه الشیخین)

دعلم فقه څلورمه مرحله یا دکبارو تابعینو دوروستنو او صغارو تابعینو دلومړنیو عصر:

داهغه مرحله ده، چې دکبارو تابعینو وروستني علماء او دصغارو تابعینو لومړنیو علماوو پکې ژوند کاوه، یا په بل عبارت دادعادل امام (عمر بن عبد العزیز رحمه الله تعالی) دخلافت دور دی، یوه یادونه ضروري ده، چې دلته دمرحلو او پړاوونو څخه چورلټه زماني انقطاع نه دهمراد، مراد بلکې یوه زمانه بله کې متداخله ده......ددې څلورمې مرحلې خصوصیت دادی، چې پدې زمانې کې دسنة الرسول ρ یا احادیثو دتدوین چارې ترسره شوې او داهغه وخت و، چې کله قرآن کریم سینو او صحیفو کې محفوظ شو، او هرداسې کوربه نه و، چې له قرآنه به خالي و، نو همداسې مهال دامیر المؤمنین عمر بن العزیز رح شرح الصدر پدې وشوه چې هسې نه چې درسول الله ρ روایات او سنت ضایع شي، نو علماوو ته یې امر وکړ، چې احادیث دې مدون کړي، دانو داسې مهال دی، چې احادیث دصحابه وو او تابعینو له فتواوو سره مختلط شوي وو، او ددې ویره وه، چې خدای Ψ امکړه ضایع به شي نو علماوو په پوره جهد او کوښښ سره دا کار وکړ او سنت یې له فتاو څخه جلا او تنقیح کړل.

علماوو دامهال ډېرې علمي لاسته راوړنې درلودې، او په لغت، ادبیاتو، تفسیر........کې یې تخصصونه کړي وو، تولود علم فقه او سنت تدوین ته ملاوتړله، او دا چاره ښه انجام شوه، چې اوس دادی هرڅه صفا او له ګډوډیو خلاص دي، دهمدې مرحلې په وروستیو کې داسې انتظامات وشول، چې مذاهبو ظهور وکړ، او دپنځمې مرحلې په لومړیو کې دمذاهبو دائمه وو لپاره دا یو تمهید شو، او دیوې مدرسې په ښه کارپیل شو. یعنې ددې مرحلې په لومړیو کې داحادیثو تدوین او دفتاوو تنقیح وشوه او په وروستۍ مرحله کې یې دمذاهبو ظهور وشو.

. دعلم فقه پنځمه مرحله یا داجتهاد زمانه

داپړاو دهغې علمي نهضت سره مل پیل شو، چې ګرد اسلامي دولت ته شامل و، دا دوره داموییانو دوروستیو څخه پیل او نږدې دڅلورم هجري قرن تر آخره پورې یې جریان وموند، خو هیڅ یوه تاریخ پوه لکه مخکې مو چې وویل، ددې زماني مراحلو لپاره دقیقه اندازه نشي ټاکلی، خو دا به وو ایو چې همدې زمانه کې دمذاهبو لوی لوی امامان راڅرګند شول او دامت سترو مجتهدینو پکې ظهور وکړ، چې همهاله ورسره فقهي مذاهبو هم ظهور او بروز وکړ، مخکې ددې څخه چې دې قرن کې دفقهاوو طبقات وڅیړو، غوره به دا وي، چې دې عهد کې دیوه نوي علم هغه چې دعلم فقه سره اړه لري (علم اصول فقه) په تدوین بحث وکړو نوربیا..

دبرتانوي میډیا اعتراف:

اسلم امید

افغانان له اسلام پرته بل دین نه مني...

وروستیو کې برتانوي میډیا اعتراف وکړ، چې افغانستان کې میشت قومونه او خلک په ریښتني تو ګه داسلام سپېڅلي دین ته وفادار او له زړونه داسلام سره مینه لري!! دامریکا په مشرۍ دلویدیځ دګډ یرغل وروسته ډېره تمه وه چې لوی شمېر افغانان به دحالاتو جبر دیته اړباسي، چې (نعوذ بالله) اسلام ته په شاګرخولو نور ادیان اومني، لیکن د یوې نیمې لسیزې راهیسي هلته لویدیځ وال پوځیان شتون لري، ولیدل شول چې افغانان داسلام پرته بل دین نه مني، ددغه خپرنې له مخې:دنورو آسیائي هېوادو برعکس افغانستان هغه هېواددی چې پکې دعیسوي دین پیروان دنشت په حساب دي اوس جوته شوه چې افغانستان کې دعیسویت په ګډون دبل هر دین لپاره تبلیغ او کوښښونه په بشپړډول ناکامه شوي.

برتش خبري اژانس: پخپله عربي ویب پاڼه کاري:افغانستان کې دطالبانو پرضد جنګ ددولس کلن جنګ وروسته دامریکا او ناټوځواکونه دشکست سره مخ دي،هلته دعیسویت دتبلیغ لړکې کارکوونکې اداري او تنظیمونه دبې دریغه لګښتونو وروسته هم دافغانانو په مرتدولو کې دناهیلۍ ښکاردي.

دخبري رسنیو له مخې:روانه میاشت کې برتانیې یوه داسي افغان ته پناه ورکړه، څوک چې په ۱۲کلنۍ کې په کال ۲۰۰۷ز کې له خپل هېواده دجنګونو له امله برتانیې ته لاړو، هلته څه وخت پس یې دملحد کیدو دعوه وکړه او برتانویانو ته یې ددې دباور ورکولو هڅه وکړه: که دی بیرته افغانستان ته لاړشي، نو هلته به ووژل شي، په دې سره برتانوي حکومت لخوا ورته مؤقته پناه ورکړل شوه، کاتولیک عیسوي فرقې هغه ته په پناه ورکولو نیوکه درلوده، هغوئ غوښتنه کوله چې هغه باید دالحادي نظریاتو منلو په ځای دعیسویت دین قبول کړي، خو هغه ددې څخه ډډه کوله

کاتولیکانو ویلي:ددغه سړي پالنه چې دیوه مسلمان په توګه شوي، هغه دلته یواځي دتابعیت ترلاسه کولو په لالچ ملحدانه نظریات قبول کړي، له دې وجې دوئ ورته دشک په نظر ګوري، ولې د الحادي نظریاتو ښبتن په توبه ویستو دویم وار بیا مسلمان کیدای شي، دخبري منابعو له قوله:دبرتانوي دولت ادارو لپاره دیوه افغان له لوري، دملحدانه نظریاتو قبلول له دې پلوه اهمیت لاره، چې دهغه په نوازش اوپالنه به ډېری افغان ځوانان دعیسویت لورته مات

کړي، سربېره په دې چې کاتولیک مذهبي فرقې هغه ته دتابعیت ورکولو مخالفت کاوه، چې په سبب یې هغه سره خواخوږي لرونکې اداري او چارواکي له سختو ستونزو سره مخ شول قانونپوهانو او حقوق پوهانو چې دبرتانوي حکومت څخه دهغه لپاره دپناه ورکولو غوښتنه کوله او دلیل یې دا و چې افغانستان کې دمرتد پشان ملحد هم په مرګ محکومیدای شي، له دې وجې ښه قوي امکان شته که دغه ملحد افغان له برتانیې وشړل شي هلته په افغان ټولنه کې به خامخا دمرګ له ګواښ سره مخ شي، دخبرې سرچینو په وینا: دحقو پوهانو او کاتولیک فرقې پاپانو ترمنځ داوږدو بحثونو او مباحثو وروسته دبرتانیې کورنیو چارو وزارت هغه ملحد افغان ته د۱۹۵۱ ز کنوانسیون دپریکړې لاندې پناه ورکړه، البته اوس په دې اړه بحثونه دوام لري، هغه ته دپناه ورکولو په سر دکاتولیکانو او قانونپوهانو ترمنځ په یو بل نیوکو زور موندلی، دافغان ملحد قانوني وکیل: (شیبو پارک) وايي: پناه ورکوونکي چارواکي اوس په دې اړه دتردد ښکار دي چې یوه ملحد ته یې څنګه پناه ورکړه؟ ولې دهغوئ په اند دملحد دجرم درجه دمرتد په پرتله کمه ده او دالحادي نظرونو خاوندانو ته دمرتدانو په پرتله ډیر ګواښ نه وي متوجه. دراپورونو له مخې: داسلامي لارښوونو څخه دبغاوت کولو له امله یوه ملحد افغان ته دپنا ورکولو پېښه لومړی ده دبرتانوي رسنیو له قوله: ددې پیښې څخه وړاندې دافغانانو دمرتدولو پیښو نه څرګندیدل ددې ښکارندویه کړي چې دافغانستان دننه دټولنیزو اقدارو اونظریاتو دتغیرولو لپاره هرڅومره هڅې وشي، مثبتې پایلې نلري، اوس یا وړاندې چې هر څومره کوښښونه شوي، هغه ټول ناکام شوي، دیادې سرچینې په وینا: افغانستان کې اوس مهال دامریکا او اروپا ګڼ تنظیمونه دعیسویت په تبلیغ لګیادي، یو امریکایي سرتیری (براین بکس) چې درې کاله وړاندې کله له افغانستانه امریکا ته ستون شو، هغه هلته اعتراف وکړ، چې دوئ افغانستان کې دعیسویت دتبلیغ لپاره په افغانانو دبایبل پښتو اوفارسي نسخې ویشلې، هم دا راز څه موده دمخه یو امریکایي تلویزون داسې انځورونه خپاره کړل په کومو کې چې لوی شمیر امریکایي عسکر دعیسویت په تبلیغ لګیادي، اوهم په ځینو کې لیدل کېږي چې امریکا یې عسکرو ته دعیسویت دتبلیغ ځانګړې روزنه ورکوي.

په دې سربېره دعامه رسنیو په راپورونو افغانستان کې دامریکا اوبرتانیې عسکر دعیسویت دتبلیغ لپاره کوښښونه کوي، دهغوئ په اند: ددې ټولو کوښښونو باوجود دافغانانو دمرتد کولو پیښې، په نشت حساب دي، عربي رسنیو هم اعتراف کړی دی چې په افغان ټولنه کې خلک داسلام سره بې پایه محبت لري او داسلام ریښې پکې ښې کلکې دي، بي بي سي عربي منلې چې افغانان په دې ویاړي چې هغوئ ازاد اوخپلواک پاتې دي، هغوئ دجهاد اوجنګ دلارې پرته دتصوف دلارې هم داسلام دپراختیا لر کې ستر خدمتونه کړي، افغانستان چې همیش ازاد پاتې دی، تل یې دبهرنیو عقاید اونظریات ندي قبول کړي

هغوئ تل دغیر اسلامي افکارو سره جنګیدلي، په کوم چې نن هم افغان وګړي ویاړي.

بي بي سي عربي دا هم وايي: اوس دافغانانو په دې باور او اعتماد کې څو زیاتوالی راغلی کمی نه، دنورو آسیایي هیوادو په نسبت له دې پلوه هغوئ پخپل تاریخ ویاړ او ناز لري، چې تل یې بهرني ځواکونه له خپلې خاورې شړلي، برتانوي میډیا په دې راپور کې دشوروي لښکرو په ضد دافغانانو مقاومت، دطالبانو په لاس داسلامي حکومت قیام ته هم اشاره کړي، چې په ټولیزه توګه پخپلو اقدارو ټینګ ولاړ دي او دبرتری احساس لري

اوباما به اعلام اختتام جنگ

بر شکست امریکا در افغانستان اعتراف کرد

نوسینده. مجاهد

روزی قبل رئیس جمهور امریکا بارک اوباما در پنجمین سخنرانی خویش به ملت امریکا، صراحتا اظهار داشت که امریکا امسال 2014م جنگ افغانستان را خاتمه می بخشد و نیروهای خویش را از آن کشور به امریکا بر می گرداند.

اوباما استثنائی در اظهارات خود نیز داشت که اگر اداره کابل با امریکا پیمان امنیتی را عقد نماید درآن صورت تعدادی کمی از نیروهای امریکا و ناتو در افغانستان باقی خواهد ماندند. تا به اصطلاح اوباما، به هراس افگنان موقع باز گشت به افغانستان و تهدید به امریکا را نه دهد.

سخنان اوباما از زاویه های مختلف قابل برسی و دقت است، ولی اینجا سعی خواهیم نمود که این سخنان را روی اعلام اختتام جنگ در افغانستان و تاکید بر باقی ماندن شماری از اشغالگران امریکایی تحت برسی و تحلیل قرار دهیم:

اعلام اختتام جنگ از طرف امریکا خصوصا به زبان اوباما رئیس جمهور وسر قوماندان اعلی تمام نیروهای آمریکای، صراحت بر اعلام شکست امریکا درجنگ افغانستان است.

درحالیکه سر قوماندان اعلی نیروهای امریکایی بر شکست در جنگ اعتراف می نماید. پس ادعای باقی گذاشتن شماری محدودی از نیروها به امید حفظ وضیعت اشغالی افغانستان، کاملا نقیض اعتراف قبلی و نمایانگر ادامه پالیسی جنگ طلبانه امریکا درجهان اسلام است. جنگی که اکنون برای ملت امریکا هرگز مفهومی ندارد جز تحمل تلفات جانی و زیانهای پی هم اقتصادی. زمانی که جنگ در

تاریخ بشریت ازجانب نیروی یورش گر آغاز میشود، اختتام نبرد و جنگ حتما دارای پنج حالت می باشد:

۱ـ اختتام جنگ زمانی اعلام میشود که جانب مقابل جنگ، با شکست مواجه شده و نابود گردد.

۲ـ درصورت عدم نابودی جانب مقابل، باید در اثر فشارهای نظامی سر تسلیم خم نماید واسلحه بر زمین بگذارد.

۳ـ به میان آمدن سازگاری باهم، یعنی هر دو جانب بدون اینکه یکی بر دیگر برتری حاصل نموده باشند بایدروی مذاکرات به یک توافق سومی دست یابند.

۴ـ به اثر فشارهای نظامی و کوبیش، جانب مقابل مایوس شده فرار رابر قرار ترجیح دهد وصحنه را ترکی نماید.

۵ـ اینکه جانب آغازگر جنگ بدون اینکه کدام دست آورد داشته باشد، اعلان اختتام جنگ نماید وعقب نشینی کند، در این صورت معلوم است که جانب یورشگر حوصله جنگی را از دست داده وبه شکست مواجه گردید.

بدون در نظر داشت موارد فوق، تصور بیرون رفت از جنگ و اعلان اختتام آن هرگزممکن نیست.

پس بر میگردیم به اعلام یک جانبه اختتام جنگ از طرف اوباما:

ـ آیا نیروهای امریکایی تحت فرماندهی اوباما توانسته اند جانب مقابل جنگ یعنی مجاهدین افغانستان را نابود کنند؟

ـ آیا جانب مقابل امریکا (امارت اسلامی افغانستان) روی فشارهای دوازده ساله نیروهای اشغالگر آمده اند تا اسلحه به زمین نهند وسر تسلیم به اهداف آمریکایی خم نمایند؟

ـ آیا روی کدام نشست و توافق مستقیم یا غیر مستقیم هر دو جانب (امریکا و امارت اسلامی افغانستان) به کدام توافق سومی دست یافته اند تا روی آن جنگ خاتمه یابد؟

ـ آیا به اثر استعمال نیرو امریکایی (با استفاده از تمام امکانات جنگی عصر کنونی) مجاهدین از صحنه جنگ فرار نموده اند، تا میدان جنگ خالی بماند و نیاز به اعلام اختتام جنگ باشد؟

ـ آتش اخیر در صورتیکه جانب مقابل جنگ (امارت اسلامی افغانستان) نابود نه شده، بلکی نیرومند تر شده باشد، به فشارها هم تسلیم نه شده است، روی کدام توافق با امریکا متارکه جنگ هم نه کرده و نیز پا به فرار هم نه گذاشته است، بلکی برعکس دوازده سال است که با ۴۹ کشور مجهز ونیرومند جهانی در گیر است، پس اعلام اختتام جنگ از طرف جانب آغاز گر جنگ چه مفهومی را افاده میکند؟

پاسخ واضح است، امریکا اعتراف نمود که دیگر نه میتواند جنگ افغانستان را با حجم وثقلی که دارد تحمل کند، بلکی از موقف خود عقب نشینی می کند و به اعلام اختتام جنگ، دیگر این جنگ پر مصرف را باخت ومیدان را ترک می نماید، این اعلام اگرچه در لفافه صورت گرفت ولی تمام جهان و بشریت شاهد است که امریکا در ظرف دوازده سال بدون اینکه تلفات دیده باشد، مردم ملکی را به شهادت رسانیده باشد، ظلم و وحشت را بر افغانهای بی دفاع روا داشته باشد چیزی بیشتری انجام نه داده است.

نتیجتا اقتصاد خود را از دست داد، به تریلیونها دالر ضایع شد. دها هزار عسکر امریکایی که بدون شک آرمان ها، اهداف و نیز حق زندگی در دنیا داشتند روی پالیسی جنگ طلبانه امریکا به هلاکت رسیدند، معیوب شدند، دوچار مشکلات روانی شدند و رنجهای جنگ فلاکت بار، بی هدف و بی نتیجه را تحمل نمودند.

با در نظر داشت اعتراف شکست، جزء دومی سخنرانی اوباما یعنی حرف از باقی گذاشتن چند هزار عسکر در افغانستان، انسان را متوجه می سازد که سیاسیون امریکای با موجودیت تجربه های دوازده ساله هنوز هم وضیعت را در افغانستان دقیق پی نه بورده اند و هنوز هم میخواهند ناکامی های پی هم را به آزمایش گیرند.

پسوند باقی گذاشتن عساکر اشغالگر، میتوان دو هدف از خود داشته باشد:

۱ـ امریکا نه میخواهد و حاضر نیست جهانیان شکست امریکا را اشکارا مشاهده کنند و آن را پی برند، بخاطر جلو گیری از اعلام آشکار شکست که واضحا تمام منافع امریکا را که من حیث ابر قدرت جهانی از آن بهره می بورد به مشکلات جدی و عملی مواجه می سازد، امریکایها هنوز هم از باقی گذاشتن عساکر در افغانستان حرف میزنند و به گونه وانمود می کنند که بر وضیعت کنترول دارند.

۲ـ علت دومی حرف از باقی گذاشتن نیروها در افغانستان، هنوز هم امید کاذب سطیره بر منطقه است، که امریکایها آنرا از موقیعت افغانستان در سر می پرورانند. در عمل هر دو علت فاقد صلاحیت تضمین اهداف امریکایها می باشند.

اولا: جهانیان چشم دارند و می دانند، زمانی که زیاتر از یک صدهزار نیروی مجهز به همه تجهیزات لازمه، نه توانست جلو عملیات های مجاهدین را بگیرد و آنها را شکست دهد، پس ده هزار الی بیست هزار نیرو چیطور میتواند هدف مذکور را بدست آرد؟ در حالی که اکثریت مطلق آفغانها از نیروهای خارجی نفرت دارند و در مقابل انها از برادران مجاهد خود حمایت عملی و علینی کرده اند و خواهد نمودند.

ثانیا: خیال سطیره بر منطقه از موقیعت جیوپولیتکی افغانستان بعد از جنگ دوازده ساله باید اکنون دیگر در سر پرورانیده نه شود، بازهم به همان دلیل که زیادتر از یک صد هزار نیرو نه توانست بخاطر هدف مذکور بسنده باشند، بیست هزار نیرو چیطور خواهد توانست به آن نایل آید.

از تحلیل فوق واضح میگردد که اعلام اختتام جنگ به زبان اوباما بدون اعلام شکست امریکا در افغانستان چیزی بیشتری نه بود، و ادعای باقی گذاشتن چند هزار نیرو هم دلالت بر خام خیالی و عدم دانستگی از وضیعت به گونه دقیق را اشکار می سازد که در هر دو صورت امریکا با ناکامی مطلق مواجه شده هرگز اهدافی را که میخواست از طریق جنگ وایجاد وحشت به دست آرد آنرا نصیب نه خواهد شد.

.... اتل........

...امریکا اوناټو کدې باروي...!

هغه وخت تیر شو چې نړیوالې میډیا به په جګ ستوني ساعت په ساعت زموږ دمرعوبولو پخاطر ګران هېواد (افغانستان) ته دامریکا اوناټو دنویو ځواکونو دراتلو تاوده راپورونه خپرول، غوښتل یې میړني افغانان وډاروي، دجهاد اومقاومت له لیکو یې کینوي. ورپسي به : دسیاسي شنناندو اوکتونکو په نوم به یې دسي ای اې معاش خواره ځانګړو مرکوته اوتبصروته دعوتول. هغوئ به دسي ای اې دپلان سره دنویو ځواکونو راتګ داسي تشریحاو چې په دې سره دامریکا اوناټو ځواکونه نورهم قوي شي، یوموټی طالبان کله ددومره ابرقدرت سره مقابله یا دغره وهلی شي، ډېرو جنابانو به داهم ویل: دامریکا اوناټو سره په مات ټوپک اوشلیدلې چاټته جنګیدل له غره سره سر جنګول دي، باید افغانان له دې کاره تیر شي، امریکا دنړۍ یو داسي قدرت دی چې دزمکې په سر دلویشتې برابر شی ترې نه خطاء کېږي، ډېر به ژر به دا څو په شمار طالبان مالبان مړه یا ژوندي ونیسي، ښه داده چې هغوئ وسلې کېږدي او بیر ته خپل عادي ژوند ته ستانه شي

دهغو خلکو لپاره چې دازاد ضمیر خاوندان اوخپلواک احساس لري یقیناً دمیډیا له لارې دغه تبلیغ او پروپاګند اوریدل خواشینوونکی اوځورونکی کاروو، ډېری کسانو له همدې وجې خبرونه او ریدل اولوستل بند کړل



اوځیني دپاخه ایمان اوباور خاوندان په دې باور وو امریکا اوناټونه بلکې که دټولې نړۍ ځواکونه هم افغانستان ته راوستل شي بیا به دخدای (ﷻ) داسنت چې زبرځواکان په مظلومانو ځملوي بدل نکړي او خامخا به امریکا اوناټو په خجلو ستر ګو اوماتو سرونو له افغانستانه وتلو ته اړ کېږي

نن ربښتیا هغه مبارکې شیبې رالنډې او راغلې ښکارې چې د۱۳کلن تاریخ جوړونکي جهاد له برکته امریکا اوناټو دومره بدشکست خوړلی چې په نااعلان شوي توګه دخپلو ګډوپه تړلو لګیادي او نړیوالې خبرې رسنۍ کوښښ کوي چې داسي راپورونه ومومي چې امریکا او ناټو څنګه؟ په کومه؟ اوکله له افغانستانه ځانونه تیښتې ته جوړوي؟

درسنيو د راپورونو په بنسټ، افغانستان کې دجنګ ترڅنګ د امريکا او ناټو ځواکونه په دې هم لګيادي چې دپوځي توکيو اووسايلو دانتقال پروسه په خوراچټکۍ سره بشپړه کړي ددې لپاره دزمکې او هوا دواړو لارو نه کار اخلي.

هم داراز امريکا اوناټو د انخلاء بشپړولو په موخه خپلې اماده ګې او تياري ته پام ډېر کړی دی، ددې لپاره لاوخت په سر سلګونه پوځي مرکزونه اوهدې يې تخليه کړي او ترې کډلاړ دي.هم په زرګونو زره ټنه وسلې اووسايل يې تيار بسته ترلې څو هغه وخت په سر خپلو هيوادونو ته وليږدوي.يوشمير وسايل غواړي دلته وپلورې او ديوشمير نورو په اړه اراده لري چې کباړ اوخنثايې وګرځوي. بريښې چې د۲۰۱۴ز دسمبرپورې له افغانستانه دبشپړې انخلاء مطلب تنها الوتکو ته دپوځيانو پورته کول نه:بلکې دا يوه خورالويه دقيقه پروژه ده.

دبي بي سي خبريال "ډومينګ بيلې" وايي:اټکل دادی چې سږ کال به دمارچ اودسمبر ترمنځ نيږدې دپوځي موټرو، پوځي توکيو اووسايلونه ډک دوه لکه اتلس زره کانټينرونه له افغانستانه وويستل شي. تراوسه ناټوله افغانستانه اتيازره کانټينر ويستلي دي.

برتانيا ددسمبر تر ۲۰مې نيټې پورې کوښښ کوي چې له درې زره نه زيات موټر ، هليکوپترونه او نور وسايل له افغانستانه بيرته خپل هيوادته وليږدوي، دبرتانيې دفاع وزارت ويلې :چې دوۀ ځينې پوځي توکې پلورې اودهغو بيرته وړل نه غواړي، ددغو توکيو دپلورلو کمپنۍ په وينا: تراوسه دوۀ د دوه زره لاريو برابر وسايل اوتوکي پلورلي دي.

په بيرته منده کې امريکا تر نورو هيوادو وړاندې ده، تراوسه يې له افغانستانه نيږدې درې سوه زره ټنه توکي اووسايل ويستلي، البته هغه هم دبرتانيې پشان ټول وسايل خپل هيوادته نه وړي، ځينې غواړي دلته وپلوري او دځينو په کباړولو لګياده کار کوي.

دبي بي سي خبريال زياتوي:ناټو چې کوم مرکزونه ترې او په ځای افغان پوليس او عسکر هلته ورځي، هغوۍ هلته پاتې اجناس لکه څوکۍ ، ميزونه، ټلويزونونه، کمپيوټرونه اونور ډول ډول څيزونه په غلا خپلو کورونو ته وړي.

مشهوره ورځپانه "ډيفنس اناليس" بياکاړې چې :دعراق په پرتله له افغانستانه انخلاء خورازياته پيچلې اوله ستونزو ډکه پروسه ده. دیادې ورځپانې مدير "فرانسيس ټوسا" په قول:دناټو ځواکونه له يوه داسي هيواده دوتلو چمتوالی نيسي چې هلته هيڅ سمندرې لاره نشته، هم دعادي ټک راټک اسانتياوي دنشت برابرې دي، هغه وايي: له عراق سره دافغانستان پرتله کول ناپوهې ده. ولې عراق کې دامريکا سره دکويت مجهزه بندرګاوه وه، هم داشان دټک راټک اسانتياوي پريمانه وي ، له دې وچې له افغانستانه پوځي انخلاء يو داړونکی خوب دی.

په هر صورت داهر څه ددې ښکارندوي کوي چې که خدای کول ډېر ژر به دګران افغانستان دازادۍ سپين سباوون راپورته شي، دافغانستان دخاورې دښمن له بشپړې ماتې اوشکست سره مخامخ دی، دتيښتې اومنډې په حال کې قرار لري، نور داتوان نه لري چې له خپل ناولې شتونه دفاع وکړي، که هرڅو هم له ځان وروسته دامنيتي تړون لاسليکولو په بهانه خپل هرڅو زره عسکر هم پاتې کړي ، خپلې شومې ارادې به په افغان ولس تحميل نکړای شي اونه به يې له ټندې څخه دشکست بد داغ محوه شي اوپاتې شونې به يې هم وړپسې ټيټ اوزوړند سرونه وزي له دې پرته کوم بل چانس نه لري.

شهید زوی

د مصري دولت ناسمې پرېکړې

او د مصر خطرناک راتلونکی

د مصر ولس تېره ورځ یانې د جنورۍ ۲۵ مه نېټه دخپل پاڅون دریمه کلیزه په داسې حال کې ولمانځله چې د مصر په پلازمېنې قاهرې کې بیاد ګنو بې ګناه انسانانو وینې توی شوې د فوځي دیکتاتو؛ دفوځ په لاس درامنځته شوي رژیم مخالفین دتحریر میدان ته نه پرېښودل کېدل خود دولت پلویان دفوځ او امنیتي ځوکونو په ساتنه دتحریر میدان ته راټول شوي وو امنیتي ځواکونو دنوي رژیم په مخالفینو ګولۍ ووروڵې چې په نتیجه کې ۲۹ ځوانان مړه او ګڼ نور ټپیان شول ر؛ پرون یانې د جنورۍ په ۲۴ مې نېټې په دې هېواد کې ۴ چاودنې وشوې چې له دې جملې نه د پولیسو یو مرکز مخې ته په تر شوې یوې چاودنې کې ۵ پولیس مړه او ۴ ټپیان وو

د مصر په ګډوډیو چې وړاندې موږ څو مره لیکنې کړې دي په دې خبره مو پکې رڼا اچولې ده چې دا دلوی اسرائیلي دولت د رامنځته کولو او د منځني ختیځ د ټولې نقشې د بدلولو د پلان مهمه برخه ده چې تازه بدلونونه دهمدې پلان پر لور یو ستر عملي ګام ښکاري.

پر عربي هېوادونو د لویدیځ پلوو دیکتاتورانو پرضد د تیونس نه ۳کلونه وړاندې پیل شویو ولسي پاڅونونو ته چې د عرب بهار نوم ورکړل شو هغه مهال ټولو هغو نامتو مسلمانو څېرونکو او پوهانو چې په جوړ نظر حالات څاري ویلي وو چې؛ د جابرو دیکتاتورانو لرې کېدل په خپل ذات کې خوشالونکې خبره ده ځکه چې د دیکتاتوري نظام په پرتله په حقیقي معنی جمهوري نظام هم د مسلمانانو لپاره ګټور دی خو دا چې لویدیځ نه غواړي چې عام مسلمانان په خپلو هېوادونو کې د جمهوري آزادیو نه ګټه پورته کړي نو ددیکتاتورانو دتللو نه پس به هم دلته په حقیقي معنو جمهوري نظامونه و نه زغمل شي او هڅې به وشي په هرهېواد کې ګډوډي رامنځته ، ولس او دولت او ولس په خپل منځ کې په جنګونو اخته او دا بدلون چې د بهار نوم ورته ورکړ شوی په خزان بدل کړای شي.

د عراق او لیبیا او بیا ورپسې د شام او مصر روانو حالاتو ته چې وګورو نو رښتیا هم چې درې کلونه وړاندې د بهار نه بلکې د خزان د ډېره لویه سیلۍ وه چې په

منځني ختيځ راوالوته، شام کې يې ډېر لوي خزان رامنځته کړ او د مصر برخليک هم د شام نه بدل نه ښکاري.

د مصري ديکتاتور حسني مبارک دلرې کېدلو لپاره د تحرير څلورلارې کې د خورا اوږدو لاريونونو په نتيجه کې چې حسني مبارک معزول او عبوري اداره رامنځته شوه نو امريکا او نور لويديځ پدې هيله دازادو انتخاباتو حمايت او غوښتنه کوله چې دحسني مبارک د پاتې شونو او نورو سيکولرستانو اتحاد به په قاطع اکثريت بريالی شي؛ داګومان هم نه کېدلو چې په مالي لحاظ خورا ډېر زيات کمزوری او د ديکتاتورانو په لاس سخت ځپل شوی دالاخوان المسلمون ګوند به ګټنې په انتخاباتو له هغو سيکولرډلو زياتې رايې واخلي د کومو شاته چې ټول لويديځ ولاړ و خو د تمې خلاف د ۲۰۱۲م کال دجون په مياشت کې په ترسره شويو انتخاباتو کې د الاخون المسلمون له لورې ولسمشرۍ ته کانديد محمد مرسي دولس د ۵۲ سلنې رايو په اخستلو دمصر په تاريخ کې رومبنی منتخب ولسمشر وګرځېد او مصري ولس د ۴۲ کلن ديکتاتورۍ نه نجات وموند خوله بده مرغه چې دهماغه رومبۍ ورځ نه د غرب په لمسون سيکولر فوځ او سيکولر ګوندونو د محمد مرسي د اداري رنګولو لپاره توطئ پيل کړې اولا کال نه وپوره چې داتبليغات يې پيل کړل چې دمحمد مرسي اداره ناکامه ده او په خپلو کړو ژمنو يې وفا ونکړ ، دې خبرې ته غربي مطبوعاتو ښه هوا ورکړه چې له امله يې د لويديځو اين جی او ګانو لبرال تنخوا خواره ، د حسني مبارک پاتې شوني ، قبطي عيسويان او د سيکولر ګوندونو اسلام دښمنه عناصر د تحرير څلور لارې ته راووتل او له کوم دليل او وجې وړاندې کولو پرته يې دمحمد مرسي داستعفی ورکولو غوښتنې پيل کړې؛ ددې سره سم د مرسي په پلوۍ کې په سونو زره مسلمانان د پلازمېنې قاهرې په شمول د هېواد په نېږدې ټولو ښارونو کې واټونو ته راووتل؛ داچې مخالفين مسلح شوي او د ګډوډۍ رامنځته کولو دستور ورکړل شوی و نو دالاخوان المسلمون څو دفترونه يې هم وسوځول او د دواړو اړخونو ترمنځ په رامنځته شوي اخ ودب کې يې د محمد مرسي په لسګونو پلويان هم ووژل.

د فوځ دامسئوليت و چې د مخالفينو دوحشت مخه يې نيولې وای خو داچې اصل پلان د فوځ و نو هماغه فوځ چې د ديکتاتور حسني مبارک د لرې کېدلو لپاره د مصر د ټولو خلکو په راوتو يې ترڅلو ښتو ورځو دحسني مبارک دلرې کولو اقدام نه وکړی دلته يې يواځې دمحمد مرسي داداري پرضد دڅلورو ورځو مظاهرو او په تمامه معنی دنامعقولې مطالبې نه پس دجمهوري اصولو سره سم دانتخاباتو له لارې دټاکل شوي قانوني ولسمشر پرضد کودتا وکړه او هغه يې کوم نامعلوم زندان ته ولېږلو او دهغه پرځای يې قبطي عيسوي قاضي منصور عدلي عبوري ولسمشر جوړ کړ.

امريکا چې دديموکراسۍ او جمهوري نظام راوستلو په پلمه پرهېوادونو حملو ته تيارېږي دلته چې جمهوريت تر پښو لاندې شو نو ولسمشر اوباما خو دنړۍ دغولولو لپاره دفوځ پدې اقدام خپل تشويش ښکاره کړ خو له دې اخوا ديته هم چمتو نه شو چې لږ ترلږه دفوځ دې عمل ته کودتا ووايي ،همدا راز نور لويديځ چې ځان دجمهوريت اتل او محافظ بولي له په کمزور ټکوله غندنې پرته يې نه يواځې دا چې دفوځ ددې خو راناوړه اونه ښنونکي عمل پرضد عملي اقدام ونکړ بلکې په ښه خلاص مټ يې دعبوري اداري سره مرستې هم پيل کړې.

دفوځ ترشا همدا دامريکا او نور لويديځ داد و چې دمحمد مرسي دراخوشی کېدو او بېرته ورته دخپل

منصب دسپارلو په موخه دتحریر څلور لاري ته څېرمه درابعه العدویه مسجد چارچاپېره میدان او سرکوتو ته راوتو دالاخوان المسلمون په غړو باندې په داګست په ۱۴ مې نېټې فوځ او پولیسو خونړی یرغل وکړ چې پکې دمېرمنو او کوچنیانو په شمول نېږدې ۴ زره تنان شهیدان او تر ۱۰ زرو پورې ټپيان او په زرونو نور زندانیان شول.

هغه ملګري ملتونه ، ټول لویديځ ، دبشر دحقوقو ددفاع په نوم نړيوالې اداري او خصوصاً امریکا چې دخپل مطلب په ځای کې دبشر ضد دکوم کوچني جنايت په رامنځته کېدو ټوله نړۍ په سر راخلي دلته يې هم اسلام دښمنۍ ولاړ ،دنړۍ دټولو قوانینو ضد ،دسترو نه جبرانېدونکو تاوانونو سره مل او دحماقت نه ډک دټول الاخوان المسلمون ګوند دتروریست ګرځولو اقدام وکړ.

دوئ چې ددې اقدام لپاره نوې کومه پلمه رامخې ته کړه هغه نه یوازې دا چې ددې ناوړه اقدام لپاره سبب نه شي جوړېدای پلمه جوړول يې هم ډېر حيرانونکي دي ځکه چې په منصوره ښارکې دپولیسو په مرکزترسره شوې حمله چې پړه يې پرالاخوان المسلمون وراچول شوې او همدا داوسني اقدام لامل ګرځول شوی مسئولیت يې انصاربیت المقدس په غاړه اخستی.

دبشریت ضد دخورا دې ستر جنایت په مقابل کې دغندنې دخو غولوونکو ټکو پرته هیڅ جدي غبرګون ښکاره نکړ چې دا ددې حقیقت ډېر روښانه دليل دی چې دفوځ پدې وحشت نه یوازې دا چې دوئ راضي وو بلکې ترشا يې دهمدوئ لاس و نو ځکه اوس دامریکا په ډالرو جوړ شوي او پالل شوي دې سیکولر فوځ له حده زیاتپه

,,انصاربیت المقدس ، ، دسینا په صحرا کې دمېشتو اطرافیانو یو جهادي تنظیم دی ،دوئ دبیت المقدس ازادي خپل ستر هدف بولي ؛ داسرائیلو سره دمذاکراتو او په مصر کې دجمهوري سیاست سخت مخالف دي نو ځکه ویل کېږي چې دا ډله دالاخوان المسلمون دسیاست نه ناهیلې ډله ده ،دوئ کله ناکله په

اسرائیلي امنیتي ځواکونو بریدونه کوي نو ځکه یې مصري فوځ او پولیس دخپلو لپاره دډېرو ظلمونو نه کار اخلي ،دفوځ او پولیسو دظلمونو نه تنګ شوي دانصاربیت المقدس داډله اوس دمصر فوځ او پولیس هم په نښه کوي چې په همدې لړ کې دې ډلې دډسمبر په ۲۴ مې نېټې دقاهرې شمال ته پروت په منصوره ښار کې دپولیسو پر یو مرکز دموټر په واسطه فدایي برید وکړ چې پکې یې ۱۵ پولیس ووژل.

سره له دې چې دبرید عاملین معلوم وو ځکه چې انصاربیت المقدس یې مسئولیت منلی و او بل لور ته الاخوان المسلمون ددې برید غندنه هم وکړه ، دا یې داسلام خوښو دبدنامولو یوه ناکامه هڅه وګڼله او دپېښې دمنصفانه څېړنې غوښتنه یې وکړه خو دبرید په سبا فوځي کابینې غونډه وکړه او پکې یې اعلان وکړ چې الاخوان المسلمون تروریست ګوند دی ځکه چې په منصوره کې دپولیسو پر مرکز په برید ،پرکلیساو په حملو اود تشدد په نورو پېښو کې لاس لري.

ددې پرېکړې سره سم دالاخوان المسلمون او د دوئ سره په یوه نوع دانواعو دتړاو لرونکو ۱۱ سوه او ۳۰ ادارو مالي حسابونه کنګل شول ،دالاخوان المسلمون په لاریونونو سخت بندېز ولګول شو ،ددې ګوند رکنیت جرم وګرځول شو او دکورنیو چارو وزارت ویاند هاني عبداللطیف اعلان وکړ چې په مظاهرو کې ګډون کونکو ته تر پنځو کلونو دبند سزا ورکول کېدای شي او دتنظیم قیادت کوونکي په مرګ هم محکومېدای شي.

الاخوان المسلمون ددیکتاتور دظلم او جبر نه ډکه دا پرېکړه رد او ویلي یې وو چې دهیڅ ډول ثبوت دوړاندې کولو پرته به دا پرېکړه دګوند په کړنلارې او نظریاتو هیڅ منفي اغېزې ونکړي ځکه چې ددولتونو له لورې دا ګوند تل دفشارونو سره مخامخ وي ؛دا پرېکړه یوازې دکاغذ یوه ټوټه ده ،پر موږ به هیڅ اغېزه ونکړي ځکه چې دناسمو تورونو له امله فکر نه مرکېږي ،موږ یوازې خپل رب ته خپل فریاد کوو.

دالاخوان المسلمون سره په اتحاد کې شاملو تمامو ګوندونو هم دا پرېکړه رد کړه او دفوځ له لورې دمحمد مرسي دلرې کېدو پرضد د ۲ میاشتو راهیسې روانو لاریونونو ته ددوام ورکولو هوډ یې څرګند کړ.

دوئ رښتیا هم دبندیزونو پروا ونکړه او دډسمبر په ۲۷ مې نېټې دجمعې په ورځ بیا واټونو ته راووتل چې مصري پولیسو پرې ډزې وکړې ۱۴۷ تنان ټپیان او یو شمېر مړه هم شول ؛په همدې ورځ پولیسو دالاخوان المسلمون سره تړاو لرونکي ۲۶۵ تنان ونیول چې ۲۷ مېرمنې هم پکې وې ؛ په ورپسې ورځ پولیس دازهر جامعې ته ورغلل دالاخوان المسلمون سره تړاو لرونکي ۲۰ محصلین یې ونیول او یو یې وواژه په همدې جریان کې دازهر دوه عمارتونه وسوځول شول چې دولتي رسنیو پرې اخواني محصلین تورن کړل خو محصلینو دا تورونه رد کړل.

خو لنډه دا چې دهېواد ترټولو زوړ هغه ګوند چې تېر ۸۴ کلن تاریخ یې دمسلسل جهد څخه عبارت دی او دخپل وجود په تېر ټول تاریخ کې یې کله هم دمسلح فعالیت پرېکړه نه ده کړې ورته تروریست ګوند ویل ډېر ستر تاریخي حماقت او دمصر لپاره دنه جبرانېدونکو خو را سترو تاوانونو نه ډکه پرېکړه وه.

فوځ او سیکولر ټولې کړئ به ګومان کوي چې پدې پرېکړې به پرهېواد دسیکولرزم دمسلط کولو په لار کې ترټولو ستر خنډ دنړۍ ترټولو زیات منظم او دهېواد ترټولو ستر او قدیم دیني او سیاسي تنظیم الاخوان المسلمون له منځه یوسي ؛ بیا به کوم اسلام خوښی ګوند دانتخاباتو له لارې واک ته ونه رسېږي او دنوي

دابدال لاسونه

عبدالعلي تسل

دصلیب په توره ټنده دهلال لاسونه بر دي
په مری دامیه بیا د بلال لاسونه بر دي

داتوم ټیکنالوژي یې فدایي زلمو خنثا کړه
په الحاد کوکارې کدې ایمانپال لاسونه بر دي

ارمغان دلندغرو ، شوم ارمان دسیکولرو
قبلیدلی دلته نه شي زموږ پتیال لاسونه بر دي

د قیصر هیلې زندۍ شوې دیرموک دجنګ مثال دي
دخالد بن ولید داستقلال لاسونه بر دي

دغزا داسمان لمره سهارونه دي په نمه
دماښام تغر تولیږي دمشال لاسونه بر دي

دیوروپ دکوښو مسته تا تاریخ کتلی نه وو
په تاریخ کې هم په تاسو دابدال لاسونه بر دي

ستادبون بیرنۍ غونډې له تسله هیرې نه دي
نن دبون په ګډونوالو اسلامپال لاسونه بر دي

مود یورپ می چلد

گمنام

می چکد خونها ز دل شرمساری را ببین
برسر راه وخیابان پست کاری را ببین
سربرهنه ، سینه لچ ، موها چو کوپان شتر
مود یورپ می چلد کافر شعاری را ببین
لب سرین و پودر و سرخی بود فخر زنان
دین وایمان را نگر ایمان داری را ببین
پیراهن کوتاه وران لچ شده از مود روز
در حق دین نبی این بی وقاری را ببین
شوهر اندر شعبه خود زن رود در کوچه ها
غیرت وهمت چه شد ناموس داری را ببین
مسند پیغمبری پامال کرده قاضیان
برحریم درگه اش ناسازگاری را ببین
رشوه را درشعبه اش چون شیر مادر میخورد

رازونه

داسې رازونه له تاریخ د زمانې ښکاري
ټول ترې روان یو خیر که کډې مو پر تې ښکاري

د بلاګانو دوجود او د فنا له درسه
هر شی فاني ځښتن یې مې داسې نقشې ښکاري

د غلامانو د جوسو په هکله دومره وایم
بې وخته مړي خیر که ستر ګې یې رڼې ښکاري

دا غرور ندی زمونږ د قام د آزادۍ نښه ده
بیرې ږیرې زلفې ول ، لونګۍ کړې ښکاري

پدې پړاو کې د تاریخ زمونږ د نوې فتحې
وخت نږدې شوی ،پر افق سپینې سپېدې ښکاري

وطنه!

احمدګل ریان

له تا ځار شو اوس نو ځکه غېږه ورکه
د اولاد له مینې ډکه غېږه ورکه

دې تپې تپې مین ته دي وطنه
لږ پسته مسته نازکه غېږه ورکه

د سر تاج یې کړه وطنه چې ښکلا دي
دا نړۍ کړې هکه پکه غېږه ورکه

چې یې بیا درنه جلا نیت بدي نه کړي
دې طالب ته خو ښه کلکه غېږه ورکه

ستا او دین مینې لمبو ته په غېږ ور وړست
حوصله یې بیا تازه که غېږه ورکه

ستا ریان هم دا ستا مینې ته محتاج دی
خواشینې کړه ورته ورکه غېږه ورکه

دهلال راج

حافظ قاسم زهیب

ښه چې مو لاس بر شي امریکا او په ناټو باندې
یون به کړو ملګرو د اصحابو قدمو باندې
څوک رانه تهدید نه شي په زور او په وسله سره
رحم د بر ضرور دی په مسلمو پرګنو باندې
ځارو به هر ځای کې د خالد بن ولید لاره
بیا د شپیتو زرو مقابله کړو په شپیتو باندې
دا د طالب جان اقتصادي او د بوشکو ماین
تندر اسماني ده په رینجرو او ټانګو باندې
هر د رب له لاري باغي شوی امپراطور به هم
رب جلیل اخته کړي نمرود غوندي خزندو باندې
راج به د هلال وي نور صلیب د ټینګیدو نه دی
سپین بیرغ به راشي سپین طالب سپینو لاسو باندې
دا د (زهیب) هیله او ارزو له ولسونو ده
لاړ به ځان ته ګورو د قرآن په آیاتو باندې

دسوبې ویاړ

عرفان الله عرفاني

غږ دالجهاد مو په ممبر کړی
مونږه افغانانو بیا حشر کړی

ځوږ د تکبیرونو ولړزوي دنیا
ځکه یې اثر په لراوبر کړی

بیا به مې د سوبې ویاړ په برخه شي
داخل مو پاڅون ښه په هنر کړی

داچې له درونه آزانګې راځي
ښکاري چې بلال الله اکبر کړی

با سوترې په غشو لعنتي سترګې
هرچا چې زمونږ خوا بد نظر کړی

تور مخ به رقیب ځي له دې کلي نه
دازیری په ما باندې دلبر کړی

بیا به ښاپېرۍ ورته راوړي منګي
نن چنارو سیورې په ګودر کړی

څمه عرفاني رانه قضا نشي
نیت مې دلمانځه د ماز دیګر کړی

وړاندي شوي قانون په هکله يې چې کومه ټول پوښتنه کېدونکې وه پکې به هغه نتايج ترلاسه کړي کوم چې ورته مطلوب وو.

دا سمه ده چې دسختې دديني ګوندونو دلري کولونه پس به په راتلونکو کېدونکو انتخاباتو کې يواځې غرب او اسرائيلو ته وفاداري څېرې رامخې ته کېږي ؛ پدې کې به اکثرو مصريانو ګډون نوي کړی خو بيا به هم ملګرو ملتونو ،امريکا او ټول لويديځ ته قبول وي او دا به په مصر کې دديموکراسی پرلور ښه پرمختګ بولي.

پرمصريانو دنوي قانون پرمسلط کولو کې هم اوسنی اداره او فوځ کامياب شو ؛هغه قانون چې دمنتخب شوي پارلمان له لوري ولس ته وړاندې او دترسره شوي ټول پوښتنې په نتيجه کې د ۲۴ سلنې دقاطع اکثريت له لورې منظور شوی و هغه قانون يې لغوه اعلان کړ فوځ او لاسپوڅې قضا له خپل لوري قانون جوړ کړ او دروانې جنورۍ مياشتې په ۱۴ مې نېټې يې دټولپوښتنې په نوم ولس ته وړاندې کړ ؛ ددې قانون په اړه رای ورکولو کې ايله ۳۸ سلنې ګډون کړی و چې دګډون کونکو اکثريت ددې قانون په حق کې رای ورکړې ،دا قانون نافذ شو او دحيرانتيا خبره ده چې لويديځو رسنيو دا هم دجمهوريت پرلور يو ښه قدم وګڼلو او هغه قانون چې دمنتخب پارلمان له لوري وړاندې او دولس قاطع اکثريت يې په حق کې رای ورکړې وه هغه يې غيرجمهوري ګڼلو.

نو فوځ او سيکولر ټولې کړی خو دنوي قانون په اړه په ټولپوښتنې او په راتلونکو انتخاباتو کې دګډون نه دالاخوان المسلمون دبې برخې کولو په هدف کې کامياب شول خو پرهېواد دسيکولرزم دنافذ کولو په وړاندې چې الاخوان المسلمون ځنډ دی دتروريست ګرځولو په اقدام به دا ځنډ له منځه ولاړ نه شي.

الاخوان المسلمون دنړۍ تر ټولو منظم تنظيم دی ،دپوخ فکر او ۸۴ کلن مسلسل جهد نوم دی ،دجوړېدا نه تر ننه يې ډېر کړاوونه وليدل او ډېر زيات ظلمونه پرې وشول خو دخپل هدف نه تېر نه شول او نه به يې دجبر او حماقت نه ډکه اوسنی پرېکړه او راتلونکې کړاونه دخپل هدف نه واړوي.

هو !دا اسرائيلو امريکا او نور لويديځ چې کوم هدف دی دپوره کېدلو زيات خطر يې ترسترګو کېږي د اوسنی پرېکړې له مخې چې دهېواد اکثريت تروريستان وګڼل شول دا کوچنی خبره نده ،دا خو را ډېره خطرناکه خبره ده ؛چې دالاخوان المسلمون غړي تروريستان وګرځول شولنو اوس به ښه په خلاص مټ زندانونو ته استول کېږي ، وژل کېږي او تريتم کېږي به ؛ کله چې دا لړۍ ښه اوږده او داخوان غړي ښه تنګ شي نو دامنيتي ځواکونو دظلمونو په مقابل کې به دانصار بيت المقدس دډلې په څېر مسلح پاڅون پيل او دمصر حالت به دشام له حالت نه هم بدتر شي چې همدا دا اسرائيلو ،امريکا او نور لويديځ هدف دی ؛ که څه هم امريکا داوسنۍ پرېکړې په ښکاره غندنه کړې او دالاخوان المسلمون پرضد يې دامنيتي ځواکونو دعملياتو په اړه خپل تشويش ښکاره کړی خو چې له غولونکو څو ټکو پرته يې چې په عمل کې هيڅ ندي کړي نو ښکاري دا سې چې ددې هرڅه تر شا دامريکا لاس دی او خامخا دمصر نه هم دوهم شام جوړول غواړي ؛ کاش چې داوسنۍ ادارې مشرانو دخپلو شخصي ګټولپاره هېواد ددومره سترې ورانۍ پر لور نه وای روان کړی.

د میدان وردګ په ولایت کې د پوهنې بهیر ته

لنډه کتنه

د میدان وردګ ولایت چې د افغانستان له مرکزي ولایتونو څخه شمېرل کېږي په خپل ټول تاریخ کې یو علمي ولایت دی چې د علم په دوارو (دیني او عصري) ډګرونوکې یې ښه نامتو او مشهور علماء او استادان درلودلي دي

د دغه ولایت وګړي که څه هم په عمومي توګه ډېر غریب او بې وزله دي ځکه چې کرهنیزې ځمکې او باغداري یې د نفوس په پرتله ډېرې کمې دي او له دې کبله چې سرحدي ولایت نه دی تجارتي آسانتیاوې او دخارجي راکړې ورکړې امکانات هم نلري او نور د معیشت اسباب یې هم ډېر محدود دي تل د شاقه او ستونزمنو کارونو له لارې خپلې د ژوند چارې پر مخ بیایي خو د دې ټولو مشکلاتو سره سره د علم، پوهې، تعلیم او تربیې مینه وال دي چې د خپل ژوند په ډېرو سختو شرائطو کې یې هم د تعلیم لاره نه ده پرېښې او زیار باسي تر څو خپل اولادونه تعلیمي ادارو ته سوق کړي پلارونه یې که څه هم د اقتصادي مشکلاتو سره لاس او ګریوان وي خو اولادونو ته یې د تعلیم او زده کړې فرصت برابر کړي وي تر څو په فارغ زړه خپله زده کړه وکړي.

له بلې خوا د ملک سیاسي تحولات، د پردیو یرغلونه، او امنیتي ستونزې او مشکلات هم هغه څه دي چې په عمومي توګه یې د ملک ټول مادي او معنوي بنستونه و نړول او په ځانګړې ډول یې د تعلیم او تربیې بهیر یا په ټپه ودراوه او یا یې د منحرف کېدلو کوښښونه وشول خو د میدان وردګ په ولایت کې الحمدلله د ویښو او با احساسه علماء کرامو او مجاهدینو په مرسته او ابتکار ددې طوفان مخه تر ډېره حده ونیول شوه او دغوایي د کودتا او د روسانو د یرغل څخه وروسته یوازې دری کاله د تعلیم او د تعلم بهیر

په تپه ودرید ځکه چې د جهاد په ابتداءکې سخت مشکلات وو وروسته په ۱۳۷۱ه ش کې دغه بهیر په ډیرو ستونزمنو حالاتو کې په مخفي مرکزونو او دونو ترسیورو لاندې د درسونو، کلیوالي مدرسو په بڼه شرو ع شو او د جهاد په کلونو کې په تدریجي ډول دغه بهیر مدرسو، دیني لیلیه مدرسو، دارالحفاظونو او ښوونځیو (ابتدایه، متوسطه او لیسو) په سطح پر مخ ولاړ چې په دې کې ددیني علماوو او مجاهدو مسلکي استادانو ونډه ډیره مهمه وه وروسته اگر چې تنظیمي جنگونه رامنځ ته شول خو تعلیمي بهیر خپل سیر ته دوام ورکړ او له دغو بدبختیو څخه یې ځان گوښه وساته

تر دې چې اسلامي امارت په ملک کی حاکم شو اسلامي امارت چی پخپله یو علمي حرکت وو نو یی دتعلیم او تعلم لپاره یوه دامن فضا رامنځ ته کړه ،شرائط یی برابر کړل، درسي مواد او امکانات یی د خپل وس په اندازه مهیا کړل ، په تعلیمی ادارو کې نظم او دسپلین رامنځ ته شو د ښوونی او روزنی وزارت په چوکاټ کې ټول دیني او عصري تعلیمات او پروگرامونه د اسلام د اصولو په رڼا کې منظم او توحید شول نو د میدان وردگ ولایت د تعلیم او تعلم مینه والو اومسئولینو له دغه فرصت څخه ډیره گټه پورته کړه نوې مدرسې او دارالحفاظونه جوړ او منظم شول ، ښوونځي فعال شول، زرگونو شاگردانو ته د زده کړې شرائط برابر شول او ورځ په ورځ دغه لړۍ د ارتقاء په لور روانه وه.

تر دې چې یو بل طوفان د غرب له خوا په ملک باندې را والوت او زمونږ اسلامي ملک دا ځل د غربي یرغلگرو په لاس اشغال شو خو دا ځل د اسلام هغه شعوري دښمنان (یهود او نصاری) په ملک مسلط شول چې زړه یې غوښتل تر څو زمونږ د ملک او مسلمان ملت د ښوونې او روزنې ټول مادي او معنوي بنستونه ونړوي او دغه د ملت بچیان او نوي ځوانان په تکتیکي ډول د ډیرو مزخرفو او غولوونکو تبلیغاتو له لارې په عقیدوي او اخلاقي انحراف کې راگیر کړي دوی ظاهراً په تبلیغاتو کې د تعلیم مسئلې ته د خپلو پروگرامونو په سر کې ځای ورکړ چې گویا موږ وران ښوونځي ودانوو، تعلیم عاموو ...او نورې اوتې بوتې) خو په حقیقت کې دوی څه وکړل مونږ به یې د میدان وردگ په ولایت کې هسې د نمونې په ډول د دوی د سوغات یادونه وکړو چې د دې ولایت مظلومو او علم پالونکو خلکو ته یې ورپه برخه کړ:

۱: په لس گونه دیني لیلیه مدرسې او ورسره دارالحفاظونه چې د دیني علومو او د قرآنکریم د حفظ لړۍ پکې جاري وه او په زرگونو طالبانو او شاگردانو پکې زده کړه کوله دغه ټولې په لومړي قدم کې د سقوط سره مخامخ شوې ځکه چې دغه دیني مدرسې او د حفظ مرکزونه خو د دوی د یرغل لومړنی هدف وو نو یې سم د لاسه په ځینو مدرسو کې چې دوی وربللې دمسلمانانو د ځپلو لپاره د جنگ قرار گاوې جوړې کړې ،ځینې نورې یې چور او چپاول کړې .یو شمیر یې بمبارد کړې، ځینې یې په ماینونو والوزولې او نورې یې د فعالیت او زده کړې له جریان څخه بندې شوې دا یې لومړی خدمت وو چې د وردگو او میدان ولایت وگړی په دیني برخه کې ورڅخه برخمن شول.

۲: مسجدونه چې سربیره پر دې چې دیني مقدس او سپیڅلی د عبادت ځایونه دي زموږ د ملک د کلیوالي ماشومانو لپاره د علم او زده کړې لومړنۍ مدرسې او مرکزونه هم دي دا هم د دوی له وحشت څخه په امن پاتې نه شول بلکې هغه یې هم تر تهدید لاندې ونیول یو شمیر یې بمبارد او تخریب کړل د نمونې په ډول یې یو څو مثالونه په لاندې توگه ذکر کولای شو:

۱: د میدان د مرکز د شهیدانو د بازار جامع مسجد ۹ نه کاله کېږي چې امنیتي پوسته پکې جوړه ده په بامونو یې دفاعي سنګرونه جوړ شوي دي د عبادت څخه بند دی.

۲:د کوته عشر و مسجد څو ځله بمبارد او په توپونو و ویشتل شو چې زیاته برخه یې ورانه شوې ده.

۳: د تیبی دکلي مسجد له ۱۳۸۷ کال څخه را په دې خوا په اصطلاح د ملي اردو قرارګاه پکې جوړه ده.

۴: د ملا سعیدالله دکلي مسجد دروازه دامریکایانو له خوا په بمونو والوزول شوه ملا امام یې چې سپین ږیری عالم وو دوه میاشتې بندي شو چې بیا د خلکو په هلو ځلو راخلاص شو.

۵: نرخ ولسوالی د الوخیلو مسجد د امریکایانو له خوا بمبارد شو مکمل وران شو او شپږ کسه مسلمانان پکې شهیدان شول

۶: د شمکانو مسجد دامریکایانو له خوا بمبارد او مکمل وران شو

۷: د اعتبارخیلو مسجد هم د روژې مبارکې په میاشت کې دامریکایانو له خوا په توپونو وویشتل شو او ډیره برخه یې ورانه شوه

۸: د سیداباد ولسوالي د کاریز، بهادرخیلو، چهاردهی، او مرو مسجدونه هم تخریب شول.

دغه څو موارد د نمونې په ډول ذکر شول او په دی ډول مظالم او وحشتناکه کړنې ډیرې دی چې د ټولو ذکر کول زمونږ په دغه ځای کې مطلوب نه دي خو د میدان وردګ ولایت مسلمانانو ته په ښه ډول څرګندې دي.

۳:د عصري علومو ښوونځي چې دوی یې په تبلیغاتو او مطبوعاتو حتی پخپلو پالیسیو کې د خدمت او پرمختګ ټیټروهلی وو تر څو دنړۍ والو او د ولس د ځینو ځوانانو ذهنیتونه ځان ته راواړوی خو د میدان وردګ په ولایت کې یې په هغو هم صرفه ونکړه او خپله وحشي څیره یې په دغه ډګر کې هم ښکاره کړه موږ یې د نمونې په ډول ځینې موارد ذکر کوو:

۱: د چک د ولسوالۍ د عمرفاروق د لیسې شاګردان د قرآنکریم د توهین پر ضد د مظاهرې په مهال تر برید لاندې راغلل ۱۲ معصوم شاګردان ټپیان او یو په شهادت ورسید.

۲: د چک ولسوالۍ همدغه پورتنۍ لیسه دوه ځله وسوزول شوه غوښتل یې چې پړه یې پر طالبانو ور واچوي خو دغه عمل یې افشاء شو.

۳: ددغی ولسوالۍ د (شهدأ او پران) لیسه یې د ځان لپاره سپر ګرځولې او دهغې په څنګ کې یې نظامي پوستې جوړې کړي چې زیاتره وخت تعطیل چې حتی د سقوط په حالت کې ده خلکو ډیرې چیغې وکړې خو څوک غوږ نه پرې ګروي.

۴: د دغې ولسوالۍ د انبوخاک لیسه دري واره د دوی هدف وګرځیده او ډیره برخه یې تخریب شوه.

۵: د دغې ولسوالۍ د شیخ یاسین د متوسطې استاد عبدالباري د وحشی عسکرو له خوا په لاره کې ونیول شو او وروسته په ډیره بی رحمۍ سره شهید کړای شو.

۶: د دغې ولسوالۍ د سیاب د غازي ګل احمد خان په لیسه چاپه ووهل شوه ملازم یې تهدید او زوی یې بندي کړ.

۷: د جغتو ولسوالۍ د کلانده لیسه تر برید لاندې راغله چې یو نفر پکې شهید او دوه زخمیان شوه.

۸: د دغې ولسوالۍ د غازي محمدجان خان لیسه بمبارد شوه.

۹: د دغې ولسوالی د موله ابتدائیه ښوونځی تر برید لاندې راغی.

۱۰: د دغې ولسوالی د ګوربت د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لیسه و ویشتل شوه.

۱۱: د نرخ ولسوالي د شهاب الدین لیسه و سوزول شوه.

۱۲: د سیداباد ولسوالي د بادام د کلي ښوونځی بند کړل شو.

۱۳: د سیداباد ولسوالي د حکیم خیلود ښوونځي شاګردان یې په هاوانونو شهیدان کړل

او همدارنګه د ښوونځیو یو شمیر استادان یې هم په شهادت ورسول لکه:

د چک ولسوالی د شیخ یاسین د ښونځي استاد عبدالباری او دمیدان دمرکز د رستم خیلو د لیسې د ښونځي استاد معلم ګلاب او...)

خوالحمدلله کله چې ددغو ددین ،علم ،او وطن ددښمنانو په مقابل کی سپیڅلی جهاد شروع شو او ددغه ولایت زیاتره سیمی ددی وحشیانو له ناپاکه منګولو څخه پاکې شوي او داسلامی امارت په لاس فتحه شوی نو د اسلامی امارت د تعلیم او تربیې کمیسیون د دغو مفتوحه سیمو د مسلمانو وګړو لپاره د وخت او شرائطو سره سم د تعلیمي آسانتیاوو لپاره قدم پورته کړ او په دې اړه یې د خپلو تعلیمي پالیسیو په رڼا کې مناسب او ضروري اقدامات ترسره کړل

او د ټولو تعلیمي امورو د تعقیب او مراقبت لپاره د ولایت په سطح یو مسئول، ولایتي مرستیال او دهرې ولسوالی لپاره یو تعلیمي مدیر ټاکل شوی چې لاندې وظائف په منظم ډول ترسره کوي:

۱:عموماً چې د تعلیم او تعلم لپاره یوه د امن او اطمنان فضا رامنځ ته شوه نو ټولې تعلیمي اداري یې تشویق کړي تر څو داسلامي اصولو په رڼا کې خپل تعلیمي پروګرامونه طرح او په کار واچوي.

۲: د لومړنیو زده کړو لپاره زمونږ د پخواني دود سره سم ابتدائیه کلیوالي مدرسې د کلیو د امامانو او علم دوسته مسلمانانو په مرسته فعالې شوي چې په کلیو کې ماشومانو ته د لیک او لوست څخه نیولي د فقه ضروري احکام، عقیدې، سیرت، ژبې او ریاضي په شمول لازم مضامین او کتابونه ویل کېږي تر څودغه ماشومان له لیک او لوست سربیره دخپل دین، عقیدې او اسلامي اخلاقو سره بلد او آشنا شي چې دا یو شرعي امر او مسئولیت هم دی چې اوس مهال په دې چوکاټ کې مونږ په دغه ولایت کې (۱۰۴) بابه کلیوالي مدرسې چې پکې (۴۸۵۲) شاګردان د (۱۵۲) استاذانو لخوا ورته تعلیم کېږي موجودې دي.

۳: د دیني متوسطو او لوړو زده کړو لپاره هم د پخواني دود سره سم مدرسین او با استعداده علماء او استادان په خپلو کلیو او امامتونو کې د منطقې طالبانو ته تدریس کوي چې د اعاشې او اباتې تکلیف او مصرف یې د ولس د مسلمانو خلکو په غاړه وي چې په مجموع کې (۵۲۵۷) شاګردان د (۱۹۲) استادانو لخوا په زدکړه بوخت دی او د دغې لړۍ د ښه کیفیت لپاره څېنې درسي اصول او مقررات وضع شوې دي تر څو د تعلیم دغه بهیر په ښه ډول او ښه کیفیت سره پر مخ ولاړشي لکه د هغوی د امتحانونو سلسله او څېنې نور تعلیمي او اخلاقي مقررات او هم د دغو دیني زده کړو د ښه کیفیت پخاطر د ټولو دیني مدارسو لپاره یو واحد تعلیمي نصاب چې د ملک د جیدو علماوو لخوا له ابتدایې او متوسطې څخه نیولې او بیا تر یولسمې درجې پورې ترتیب شوې دي چې په تدریجي ډول د عملي کېدلو په حال کې دی.

۴: د دغه ديني درسونو په څنګ کې يو شمير د حفظ مرکزونه هم فعال شوي دي چې د ښو جيدو حفاظو او قاريانو لخوا ورته تعليم کېږي او د حفظ په څنګ کې ورته کافي ديني معلومات هم ور ښودل کېږي چې په دې لړ کې هم تر دې مهاله د (۲۲۴۷) په شا وخوا کې حافظان په حفظ اخته دي.

۵: دعصري زده کړو لپاره دپخوا په پرتله اوس شرائط برابر دي ښوونځي د ابتدايه څخه نيولې تر ليسو او مسلکي زده کړو تر ښوونځيو پورې فعال دي او د منطقې د مسلمانو مجاهدو او مسلکي استادانو لخوا ورته تعليم کيږي چې د سږ تعليمي کال راپور دا دی چې په ټولو مفتوحه سيموکې (۲۱۷) ښوونځي چې پکې (۱۰۰۷۰) شاګردانو ته (د۲۸۲۸) استادانو لخوا تعليم کېږي موجود دي البته ددغو ښوونځيو د نظم او مراقبت لپاره يوه ځانګړې لائحه ترتيب شوې چې د هغو په رڼا کې يې نظارت کيږي چې ځينې مهمې نکتې يې دا دي:

۱: هر وخت يې د نصاب څارنه کېږي تر څو داسې مضامين چې عقيدوي او اخلاقي انحراف منځ ته راوړي په کې داخل نشي يا هم غير مفيد او عبث تفريحي مضامين چې د شاګردانو په اخلاقو منفي اثر غورزوي او له بلې خوا وخت ضائع کوي پکې تدريس نشي.

۲: ديني مضامين چې زمونږ داسلامي ټولنې بنيادي ضرورت دی کافي وخت ورته ورکو ل کېږي او د هغو د تدريس لپاره پوه او مستعد علماء ضروري بلل کېږي.

۳: د قرآنکريم په مضمون کې د قراءة او تجويد پوره اهتمام کېږي چې د مسلکي قاري لخوا ورته تعليم کېږي.

۴: تنظيمي او ګوندي فعاليتونه بند او ممنوع دي هيڅوک نشي کولای له تعليمي بهير څخه د يو ګوند په ګټه استفاده وکړي.

۵: وخت په وخت تعليمي سيمينارونه د مديرانو او استادانو په کچه جوړېږي چې په هغو کې د تعليمي نظام سربيره د عقيدې، اخلاقو او نورو ضروري موضوعاتو په اړه بحث کېږي .او نور دې ته ورته په ټولو درسي، اداري او هم د استادانو او شاګردانو او نور پرسونل په ديني او اخلاقي اړخونو پوره څارنه او مراقبت کېږي.

خلاصه دا چې: د ميدان وردګ په ولايت کې اوس د تعليم او تربيې بهير دتعليمي او جهادي مسئولينو، د منطقې د علماء کرامو، مخورو سپين ږيرو او عامه مسلمانانو په مرسته ښه روان دي په تعليمي چوکاټ کې اوس يوازنی مشکل او ستونزه زمونږ د خارجي يرغلګرو او ګوډاګي رژيم چاپې او امنيتي مشکلات دي چې تعليمي ادارو ته يې جوړوي چې د هغې له امله يوه تعليمي اداره يا تخريب يا بنده او تعطيل شي الله جل جلاله دې دغه د دين ، وطن او علم دښمنان په خپل لايزال قدرت سره محو او نابود کړي او زمونږ دغه د جهاد او قربانيو هدف چې په دې ملک کې د يوه اسلامي نظام حاکميت او د دغه ملک مسلمانان د علم په رڼا منور کول دي تر لاسه شي

(د دی او د جهاد د ټولو ارمانونو د پوره کيدلو په هيله)

(د ا.ا.ا د تعليم او تربيې عالي کميسيون)

یوولسمه برخه

داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش!

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکر عالم مولاناسیدابوالحسن علی "ندوي" رح - ژباړه: ابوظهیر

هندوستان کې دمشرقیت او مغربیت ...

ندوة العلماء تحریک:

دندوة العلماء تحریک یا خوځښت، بنسټ په کال ۱۳۱۱هـق (۱۸۹۳ز) کې مولانا محمد علي مونګیري (رح) ایښی، له هغه وروسته ددې تحریک رهبرۍ، مولانا شبلي او دهغه څو تنو نومیالیو ملګرو وکړه، دمولانا محمد علي مونګیري لخوا په جوړ شوي دارلعلوم کې ددې توانمندۍ او صلاحیت و، چې داسلامي او غربي ثقافت او ددیني علماوو اوجدیدپالو ترمنځ په پل جوړیدو یو داسې متوازن فکر رامنځته کړي، چې دقدیم اوجدید دواړو محاسنو جامع وي، ددې فکرې مدرسې دمسولانو په تعبیر: چې هغه فکر په اصولو اومقاصدو کې سخت دریځ! په فروعو او وسایلو کې نرم مزاج وي.

دهغوئ په اند: د دیني تعلیمي نصاب تغیر او ترقي دزغملوده، چې دزمانې بدلونو اوغوښتنو ته په پام، دخپل روح، مقاصدو او اساسي علومو دساتنې سربیره یکې بدلون او ترقي راوستل شوني ده، دهغوئ په اند: تعلیمي نصاب دیوجامد نصاب په ځای باید یو ژوندی اود جسم نامي په څیر دژوند او پراختیا له صلاحیتونو برخمن وي، په بل تعبیر: دین یو تلپاتي حقیقت دی، چې په هغه کې هیڅ بدلون ته اړتیا نشته، خو علم غوړیدونکې ونې ته ورته دی، چې ترې د اضافي څانګو ریبل او پریکون نور قوت ببني، دهغوئ په اند: اسلام دیوه نړیوال او تلپاتې ژوندي دین نوم دی، ولې چې دانسان ذهن د ارتقاء، تنزل، او تغیراتو له بېلابېلو پړاونو سره مخ کیږي اوپه اوښتو حالاتو او تصوراتو یا افکارو کې لاربښود په حیث دنده ترسره کول او دراپیدا شویو شکوکو اوشبهاتو رفع کول فطري عمل دی، ددې لپاره دهغه تعلیم (چې داسلام لپاره استازي او شارحین تیاروي) دایره پر لپسې غځیدلې اودخپلې وړ تیا اوژوندد ثبوت ور کولو اړتیا ده، دندوة العلماء بنسټ ایښودونکو دتعلیمي نصاب د پراختیا غږ پورته کړ، داغږ د په هندوستان کې (چېرې چې په قدیم نصاب کلک ټینګار کیږي) نااشنا اونوی غږ و، تردې مهاله په نورو اسلامي هېوادو کې هم په نصاب کې داصلاحاتو دراوستو غلغله نه وه پورته، جامعه ازهر هم ترداوخته په دا لور ګام نه و اخیستی او همدېته په دې دوه راتلونکو اقتباسونو کې نغوته شوې:

یو اقتباس دندوة العلماء دمؤسس مولانا سید محمد علي مونګیري (رح) له یوه لیک اخستل شوی اودویم دمولانا شبلي نعماني دقلم دی:

اوس حالت بدل دی، هغه نیوکې چې وړاندې په فلسفه کې شوې، اوس یې څوک نه پوښتي اونه هغه فرقې او اعتراض کوونکي شته، نن سبا دهغو نیوکو ځوابونو یادولو ته اړ تیا نشته، نن نوې نړۍ ده، نوی تخم، اونوې اوبه دي، دنوې فلسفې پر بنسټ داسلام مخالفانو نوې نوې اعتراضونه جوړ کړي. کوم چې پخوا نه و، هغو ته ځواب ویل دپخوانۍ فلسفې په مټ آسانه ندي، اګر که هر څوک هر څنګه دعوه هم وکړي! وجه یې داده چې یوه معترض ته قانع کونکی ځواب ور کول هغه وخت شونی دی، چې کله دمعترض داعتراض منتها په بنه تو ګه وپیژندلی شي او بل داوجه هم را برسیره شي چې هغه دا اعتراض ولي کړی ؟(مکاتیب محمدیه)

یوناني علوم نه زموږ دیني علوم دي او نه زموږ ددین فهم اومعرفت په یوناني فلسفې پورې تړلی دی، امام غزالي (رح) پخپله زمانه کې دعلماوو په نصاب کې یوناني فنون ددې لپاره ځای کړل، څو دیوناني علومو له هغواغیزو چې باطینیانو شیندلي وو، علماء خبر کړ او پخپله زمانه کې دالحاد سره مقابله وکړي، خو اوس نه هغه پخواني ملحدان پاتې دي اونه هغه یوناني علوم شته. نه دهغو مسایلو دربشتنوالي باور دعقل له مدعیانو سره پاته دی، له دې وجې دهغو اثر پخپله له منځه لاړ دی، نن سبا اسلام ته دهغوئ له لوري هیڅ یو ګواښ هم متوجه ندی، نن دهغو ځای نویو علومو ته پاتې دی، نوي مسایل دي، نوي تحقیقات دي، اوس دېته اړ تیا ده، چې زموږ علماء له هغوشیانو څخه په خبریدو دنویو ستونزو حل ولټوي او نویو شبهو ته تحقیقي ځواب وموي(حیات شبلي ۲۰مخ)

دایو مبارک ګام او له یوې نوې زاویې کتنه وه، ندوة العلماء نه یوازې دنصاب داصلاحولو تحریک و، هغه یو مستقل فکري بښوونځی هم و، هر هغه هېواد ته یې تقلید پکار و کوم چې دقدیم اوجدید په معرکه کې بښکېل او دداسي کشمکش ښکار و.

خو دې تحریک ته دقدیم اوجدید دواړو لوریو (ددې پراخ خلیج له امله چې ددواړو ترمنځ مانع و) داسي مؤثر او دولولو ډک ملاتړ په نصیب نشو، د کوم چې حقدار وو، ددې لوی سبب دهغو اهلِ فکر او اهلِ دعوت کمښت وو، څوک چې ددغو دواړو ثقافتونو حاملان او په سمه تو ګه یې ددواړو دهضم توان درلوداې، څو له هغو اجزاوو کوم چې په ښکاره سره متضاوو، یوه پاکیزه، معتدله، بنایسته، اومفیده آمیزه تیاره کړي وای، څنګه چې دشاتو مچې، دمختلفو ګلانو اوونو درس یوځای کولو نه شات تیاروي.

لنده داچې دقوم یوه لویه برخه ددغو دواړو لوریو ترمنځ ویشلې پاته وه، یوې ډلې په پخوانیو تعلیمي دودونو کې دوېښته برابر انحراف هم تحریف اوبدعت ګاڼه، بلې ډلې بیا له لویدیځ نه هر نوي راغلي څیز ته دعظمت او تقدیس په نظر کتل او هغه یې له هر عیب او نقصان پاک باله. تر دې پورې چې دلویدیځوالو افکار اوفکري تګ لوری هم هغوئ ته دعصمت او عظمت هستي وځلیده او دبشري تاریخ دار تقاء وروستي الوت یې ګاڼه، ددې دواړو لوریو ترمنځ دفکر اومعیار له پلوه چې څومره تضاد او څه ډول دواړه د لویو انتهاوو په مور ګه ولاړ ول؟ لسان العصر شاعر اروابناد اکبر اله آبادي داسي انځور کړی:

ادهر یه ضد هی که لمنډ چهو نهیں سکتی

أدهر یه رټ هی که ساقي صُراحیٔ می لا

ددې باوجود دندوة العلماء تخيل هغه معتدل او متوازن تخيل دی، کوم چې اوس هم ددې ور تیالري، چې ددیني نصاب ژوند ته یونوی قسط وبښي او په بر کت یې ملت دقدیم او دجدید له کشمکش او جنګ بیرون کړي، دکوم له امله چې په ګڼو اسلامي هیوادو کې انتشار خور دی او ځیني هېوادونه دسیکولرزم په لور روان ښکاري.

دندوة العلماء تحریک مشرانو او دمدرسې ګڼو فضلاوو، داسلامي ثقافت په نشر و اشاعت، دنبوي سیرت په لیکلو او تدوین کې، داسلامي کار نامو او لاربښوونو په نوي علمي او ادبي اسلوب کې ورانديز کولو لې کې ستر کردار لاره، دعلامه شبلي نعماني، علمي او ادبي لیکنې، په خاصه تو ګه دنوموړي "سیرت النبي کتاب" "الفاروق" "الغزالي" "مولانا جلال الدين رومي" او دهغه متکلمانه اومؤثر خانه مضامينو اولیکنو دهندوستان په نوي نسل زیات اغیز کړی، هم دکمترۍ احساس په لمانځه ورلو کې یې کټور خدمتونه کړي، همدا شان دنوموړي نومیالي شاګرد اوځای ناستي مولانا سلمان ندوي په خدمتونو اود نوموړي په علمي کار نامو هيڅوک ستر ګې نشي پټولی، د "سیرت النبي" ځلور ضخيم ټو کونه، دنبوي سیرت او علم کلام یو ارزښتمن کتابتون دی، هم دارنګه دنوموړي د "مدراس وینا وو" په نوم کتاب دسیرت په موثرو او ګټورو کتابونو کې شمار ل پکار دي، په همدې تو ګه دنوموړي علمي او محققانه کتابونو اسلامي کتابتون ښه مالامال کړ، هغه او دهغه ځینو ملګرو دهېواد په علمي، ادبي، او ځیني وخت په سیاسي هلو ځلو کې هم ونده واخسته، خو هغه الزام ردشي، چې علماء دهېواد له عامه ژوند اونویو تحریکونو نه ځنډې ته اوسي، په نویو غوښتنو دپوهې او دهېواد په پرمختګ او ترقۍ کې دونډې اخستلو ور تیا نلري، دارالمصنفین او دهغه میاشتنۍ ورځپانه معارف (چې داوړدې مودې راهیسې دمولانا سید سلمان ندوي تر مدیریت لاندې له چاپه راوته) په اسلامي نړۍ کې یې خاص شهرت او درناوی لاره.

د سر سید احمدخان قیادت او دهغه اند:

ددویم قیادت بیرغ چې سر سید احمد خان پورته کړی و، هغه دغربي تهذیب په منلو او دهغه دمادي بنسټونو په تقلید دومره مین وه چې دهر دول عیوبو او نقایصو دچاڼ، ترمیم او تنقید پرته یې دغوره کولو دعوت کاو، هم یې دقرآن او حدیث داسې توجیهات کول، چې دنولسمې پیړۍ دوروستیو ساینسي معلوماتواو دغربي تمدن له معیارونو سره یې سمون لاره او دلویدیځوالو دذوق اومزاج سره هم آهنګ وو، هغه دټولو هغو غیبي حقایقو اوطبعي اسرارو نه انکار کاو، کومې ته چې تجربه او حواس لاس رسی نه لري اود جدیدو علومو سره یې ادنی درجه برابر والی هم نه لاره.

سر سید احمد خان دوروستی مغل امپراطورۍ زوال (کومه چې دمسلمانانو دسترې واکمنۍ یوه ادنی پاتې شونې وه) او د ۱۸۵۷ ز دازادۍ جنګ ناکامې پخپلو ستر ګو لیدلې وه، نوموړي دغه ستر هزیمت، دهندې وګړو زړه شاواخون، دلوی شمېر په ورانډې د یو موټي بهرنیانو دبري ننداره کړې ،مسلمانانو چې دهغه جنګ کوم دروند قیمت ور کړ ، سر سید په رڼو ستر ګو لیدلی و، هغه قوم چې پرون ددې هېواد (هند) واکمن و، دهغوی زوال ، دلویو کورنیو فقر ، دانګریزانو شوکت او دبدبه (کومه چې دمسلمانانو دتیر برم په کنډوالو ودانه وه) هم دارنګه دهغوی دحکومت او ساحرانه تهذیب مناظر یې په ورانډې تیر وو، ددې ځخه علاوه، دملازمت ، رفاقت، دوستي او پیژند ګلوۍ له لارې هم دانګریزانو سره ښه راشه درشه وه په دې

وجه ور ته له ډير نيږدې نه دانګريزې ژوند د مطالعې فرصت په لاس ورغی . دهغوئ له ذهانت، عملي ځواک او له تمدن يې دجنون تربريد متاثر شو، داچې ځپله هم بنه ذهين ، ذکي الحس ،سريع الانفعال اودردمند و، نوموړي تر متوسطې پوړې ذده کړې لوستې وې، په ديني علومو کې يې مطالعه زياته اوپراخ نه وه، ډير ژر يې رايه بدلېده او بنه په بېيا کې کارولـه، هغه دانګريزانو ځخه دومره متاثر و لکه يو مغلوب چې دغالب نه ، يا کمزوری چې دځواکمن نه وي، ژريې شخصاً دانګريزي تهذيب او دهغوئ دژوند طرز العمل دځان کړ اونورو ته يې هم په ډېره ليوالتيا دانګر يز تهذيب غوره کولوبلنه ور کوله، هغه فکر کاو چې دانګريزانو سره هم رنګې، داوا کمن قوم تهذيب منل، دهغوئ دژوندانه دود دستور ځپلول او ور سره د تکلف پر ته يوځايوالي به ترې مرعوبيت ، دکمترۍ او غلامۍ احساس لرې کړي،هغه داسې انګيرله چې دانګريز دژوندانه اصولو په منلو به دوئ دواکمنو په نظر کې عزتمن او قدر من ښکاره او له هغوئ سره به يوځای مساوي درجه ومومي، دافکر او خيال دهغه په ځينو مضامينو کې ډير ښکاره راغلی لکه يوځای ليکي:

دهندوستان مسلمانان بايد په پوره تو ګه د "سويلزيشن" يعني دتهذيب منلو لور ته وهڅول شي، ځوپه هغه حقارت چې ور ته "سويلزډ" يعني مهذب قومونه ګوري، هغه به پای ومومي او دوئ ته به په نړۍ کې دمعـززو او مهذبو په ستر ګه وګوري(تهذيب الاخلاق مضامين سر سيد ۲ټو ک)

پخپله رساله (احکام طعام اهل کتاب) کې،چې په ۱۸۶۸ز کې يې ليکلې ويلي :په خوراک ځښاک اوژوندانه کې دانګريزې دودونو غوره کولو ترغيب ور کړئ، په عربي کې ليکي (ژباړه يې داده):

اې مسلمانانو! په دې عمل وکړئ، دتکبر او ځان ښودنې په نيت نه، بلکې په دې نيت، چې مسلمانان سرلوړي ښکاره شي، ځو هغه ذلت او مسکنت چې و رسره خلک رووړدي شوي يومخ نابود شي او هيڅ قوم دوئ ته دحقارت په نظر ونه ګوري، الله تعالی ته زمونږ دسينو حالت معلوم دی او هغه زمونږ دزړونو په اړه ښه پريکړه کولی شي.

په کال ۱۸۶۹ز په اپريل کې سر سيد احمد خان لندن ته په سفر لاړ، په دې لومړيو شپېو کې لومړی نوميالی مسلمان و، چې دبر طانوي جزاير و ځخه يې ليدنه وکړه، هغه مهال دسويز کنال په جوړولو کار روان و، دهغه انجينر اوجوړونکي سره يې هم وليدل چې ورسره په الوتکه کې دسفر ملګری و، لندن کې دسر سيد تود هر کلی وشو، هلته ۱۷ مياشتې تم شو، ډيوه قدرمن، ميلمه، دمحترم مسافر او نيږدې ملګري په تو ګه دلندن دجګ پوړو چارواکو ترمنځ يې ځای وموند، په لويو لويو شاهي ميلمستياوو اوغونډو کې يې ګډون وکړ، په هره ميلمستيا او غونډه کې غربي تهذيب دلندن اشرافيون لـه ځپلو ټولـو تهذيبي او کلتوري ځانګړ تياووسره يوځای حاضر ول، هغه ته يې په دې علاوه د "سي ايس، ای" امتيازي خطاب او مډال ور کړ ،دملکې، ولي عهد،وزيرانو، سره يې ليدنې او کتنې وکړې، "منتهيم کلب" په ځير لويو علمي ټولنو اور ته ددرناوي غړيتوب ور کړ ، په دغه کال چې ځومره ساينسي پرمختياوي راغلي وې، له هغو ټولو نه يې ليده کاتـه وکړل، دترقی پلانونو نه يې مطالعه کړل چې له امله يې دبر تانيې په اقتصادي او سياسي نقشه کې دومره لوی بدلونونه رامنځته شوی وو چې آن دحدودو په پراختيا اوسياسي برلاسي کې يې ور ته برياوي په برخه کړي وي، نوربيا.....

هندوستان، ولې په امریکا ټینګار کوي؟

عبیدتنویر

په داسې حال کې چې امریکا په نظامي میدان کې تاریخي شکست ولیدا او ۱۳ کلنۍ حربي یې یو په بل پسې له خاوروسره خاوري شوي او تردې حده یې قوت اودبدبه پیکه اوبې خونده وګرځیده چې دخپلوګوډاګیانو سترګې یې هم اوس نه پرې ږدکیږي او مذید شتون ته یې زړه نه ښه کوي.

امریکا په دغسې سربداله حالت کې اوس دیو شمیر هیوادونو په مرسته توندي هلې ځلې پیل کړي تر څوخپل دغه رسوا برخلیک ته تغیرورکړي او ضمنا افغانانو ته داذهنیت وروځخوي چې امریکایي شتون اوپوځي تړون ددوی په ګټه دي.

په دې ورستیو کې دهندوستان دبهرنیو چاروو وزارت په ځومتعددو اعلامیو کې داخبره تکرار کړه چې په افغانستان کې امریکایي شتون اوپوځي امنیتي تړون لاسلیکول دافغانانو، نړۍ اوسیمې په ګټه دي وافغانان باثید دغه موقع له لاسه ورنکړي. دهندوستان په اند دتیرو ۱۳ کلونو په اوږدو کې دخارجیانو دشتون له وجې افغانانو په هرډګرکې پرمختګ اوپیشرفت کړی او که خارجیان له افغانستان ځخه ووځي اوتړون ورسره لاسلیک نشي نوددې امکان قوي دی چې یو ځل بیابه په افغانستان دطالبانو واکمني راشي!!

دهندوستان له دغو خبرو په ډاګه کیږي چې نوموړی هیوادد افغانستان په اړه ځومره مغرضانه اوشوم اهداف لري او کلک هوډ لري چې له یوه لوري افغانستان داوراوباروتو په لمبو کې ګیروساتي اوله بلې خواپه سیمه کې ځان امریکاته یو نیږدي ګوډاګی هیوادثابت کړي.

دتیرو ۱۳ کلونو په اوږدو کې چې امریکا اوناټو په لکونو بې دفاع افغانان له تیغه تیراوپه میلونو یې شکنجه کړل، یوه ورځ هم هندوستان کومه خواشیني ښکاره نکړه چې امریکایانو په افغانستان کې ولسي وګړي وژلي اود هغوی بشري حقونه یې تر پښو لاندې کړي.

خوچې کله دامریکادرسوایي او نابودی ویره رامنځته شوه، هندوستان په ټولودیپلوماتیکو اوبشري نوروموښو پښې کینښودي، مخامخ یې دافغانانودښمنی ته ملاوتړله اوپه ځرګنده یې دامریکا استعماري ګیډي ته دافغانانو دوراچولو هڅه وکړه.

شک نشته چې دافغانستان په مسایلو اوداخلي امورو کې ګاونډیو هیوادونوله ځولسیز وراهیسې ترخپلې وسې پوري هرډول لاسوهني ترسره کړي، چې یو یې هم دبښلو وړندي؛ خوهندوستان هم یوهغه هیواددی چې دافغانستان په مسایلو اوداخلي امورو کې هیڅکله دریم ګړی جهت ندی پاتي شوی اوتل یې دافغانستان ددیني اوملي

ارزښتونودځپلوهڅه کړي اودافغانانودقاتلينو ننګه اومرسته کړي

تېـولي نـړۍ پــه افغانســتان دروســانوپرغل محکــوم اودمظلوموافغانانوترڅنـګ ودريـدل ، خوهندوسـتان هغـه هيـوادووچې دسرولښکروتجاوزيې نه داچې تائيد کړ ، بلکې تروروستي ورځې پورې يې په کابل کې دکمونيستي رژيم کلکه سياسي اوپوځي حمايه وکړه .

دغه راز چې کله کمونيستي رژيم ونړيداومجاهدين کابل ته ننوتل هندوستان بياهم هغه بهرنی هيوادوو چې دافغانستان په کورنيواموروکې يې ژورې لاسوهني پيل کړې اودداخلي اخ ډوب په شدت اوپراخيدوکې يې مهم رول ولوباوه اوديوه جګړ ماراومفسد لوري يې بيدريغه مرسته اواکمال کاوه .

دغه ډول چې کله طالبانو دشراوفساداوداخلي جګړودله منځه وړلو اودمظلوموافغانانودنجات لپاره ميدان ته راودانګل اودغلواودړ ماروله يوه اجيربانډپرتــه يــې افغانــانوتودهرکلی وکړ ، پــه دغــه وخــت کــې هــم هندوســتان دلــوی ولــس دهيلــو اوارزوګــانوخلاف غــداری تــه لاس واچاو، دغلو، شوکماراواجرتي ډلو ترشاو دريداوپراخ مـالي اولوژستيکي امکانات يې ورته برابرول .

دپخواني ټلوالي (مارشال فهيم) دخولي خبره ده چې هندوستان دطالبانوپــه ضــدددوی ټلــوالي تــه پــه نــوروجنګي تجهيزاتوسـربيره پــه لکونوميلونه ورکړي ووچې دهغوپه توسط يې په رومبيوجنګي کړښو دطالبانومخه ډب کړې وه .

کله چې دامريکاپه مشري اسلام دښمنه ايتلاف په افغانستان مستقيم يرغل راوړ ، هندوستان دامريکايانو په لارښوونه دافغانانوددينې اوفرهنګي اساساتودنړولو اودنوي نسل دانحراف لپاره په غيري مستقيم ډول يرغل پيل کړ .

هندوستان افغانستان تــه دځوپرسوده بسونودسپارلو اودپارلمان دوداني دجوړولوپرته دتيرو۱۳ کلونوپه مهال بـل هيڅ اقتصادي مرسته نده کړې ، په دې برسيره يې افغانستان ته دبې کيفيته دارودرملوطوفان راوالوزاوه اوهم يې په هندوستان کې دافغانانودتداوی لپاره مهلک دامونه پکاراواچول اوهرناروغ چې هندوستان ته ورغلی په زرګونه ډالرېې په بډه وهلي .

هندوستانيومداريانوتل داتبليغات پـه کاراچول چې دافغانستان ګاونډی هيـواد پاکستان څکه پـه افغانستان کې لـه څولسيزوراهيسي مداخله کوي او افغانان پـه جګړو کې مصروف ساتل غـواړي چې هغـوی دکونړ دسيندپه سرداوبودبنداولوی برښناکوټ جوړولووس پيدانکړي ، خوچې کلـه دهندوستان دراج نوبـت راغی اودافغانستان پـه ډيروليرې پرتوسيموکې يې دڅان دګټې لپاره لويې پروژې پـه ټيکـه واخيستلې ، دکونړ سيندته يې کومه ورڅ په غلطی کې هم ورونه کتل .

معلومه شوه چې هندوستان تل پـه افغانستان کې خپلې خاص مجوسي اونـاولي عـزايم لرلي اوهيڅکلـه يـې نـدي غوښتي چې افغانـان اقتصـادي ښـيرازی اوبهبـودولري اودهغـوی پـه خوښـه يواسـلامي نظـام اوحاکميت منځته راشي .

کــــه همــــدااوس لــــه افغانســــتان څخــــه دنشريدونکوفحاشوتلويزونوپروګرامونه وکتل شي په سلوکې ۸۰ فيصده دهندوستان پـه بربنډوفلمي صحنواومبتذلوډراماواوتصويري اشتهاري اعلانونــوډک اوککــړ دي چــې ښــکاره هــدف تــرې دافغانــانواخلاقي سپيڅلتيانړول او دبې دينه کلچرعامه ول دي .

مونږپه داسې حال چې دهندوستان روان فرهنګي هجوم اويرغل په کلکوټکوکې غندواودافغانانودملي اوديني اساساتوپه مقابل کې يې لويه دښمني بولو، داورستی غداري يې چې افغانـان دامنيتي تـړون پـه توسط دامريکاطاغوتي لـومې تـه ورغورځول غـواړي ، پرتـه لـه کوم ابهام څخـه داحقيقـت پــه اثبـات رسـوي چـې هندوسـتان لــه امريکايانوزيـات دافغانانوتباه کولوته ملاتړلي ، څکه له يوه لوري دافغانانواستقلال اوملي خپلواکي دامريکايانوپه شتون اوقضايي مصؤنيت لـه منځـه وړي ، لـه بل لوري په افغانستان کې دځپل پرسوده اقتصادي بازار ګندونـه راواردول اودحيواني تهذيب د نورو جررو تيتولو اوټينګولوته زمينه سازي کوي .

هو! ستا د تاریخ توره پاڼه......

رحیمي

په افغانستان دامریکا دوحشیانه یرغل پر متو دجوړ امریکایي رژیم دواک چارې له رباني نه کرزي ته انتقال شوې وې، یوه ورځپاڼه کې مې ستر ګې دهېواد دمشهورلیکوال او غزلبول شاعر استاد "فضل ولی ناګار" په هغه شعر خوږې شوې، کوم چې درانه استاد داغلي "مریم ناصرې" دیوشعر پر اقتفا کښلی و ،په تیره دې لاندې څوبیتونو یې په دې راته زیات خوند راکړ چې راته یکې مظلوم افغان ولس ته د مفهوم او پیغام ژور تخیل ښکاره شو او ځما دحافظې پرلوح یې دخپل اثر کرښې نقش پرېښودې.

ځان به غلام قام به دټول عمر بندي ساتي
څوک چې لاسونه ور کوي سر او تندي ساتي

شکونه هېڅ ندي یکار په دریابي خاموشۍ
سمندر تل کې توپانونه تل ژوندي ساتي

زه د ملالې دمقام مبارکې ور کووم
چې پښتنه زړه کې هودونه میوندي ساتي

دلوېتو ننګړو خیر غواړه! یې ننګې زور شوې
زمونږ دکلي ګودرونه اوس پردي ساتي

دازادۍ په شیرینۍ شېندي دوینو برسات
ناګار چې هر څه کوي مینه فرهادي ساتي

دوه ورځې دمخه پورتني بیتونه هغه مهال بیا را په زړه شول، چې رسنیو کې مې د کابل امریکا پلوي رژیم دولسمشر "حامد کرزي" له خولې ولوستل چې هغه له ژورنالستانو سره په خبرو کې دافغانستان اوسنی وضعیت دډیورنډ ترون پرمهال له شرایطو سره پرتله کړ او اعتراف یې وکاوه چې دبهرنیو ځواکونو په شتون او دجګړې او بمباریو په دوام کې دامریکا سره امنیتي ترون لاسلیکول دډیورنډ او ګندمک له ترونو سره هېڅ توپیر نه لري!!!

هغه(کرزي) داهم ویلي:دی کټ مټ له هغو فشارونو سره مخامخ دی له کومو سره چې په ۱۸۹۳ز کې دډیورنډ ترون دلاسلیکولو په وخت کې امیر عبد الرحمان خان مخامخ وو ، هغه وخت دافغانستان پاچا دبرتانویانو اودی اوس دامریکایانو ترفشارونو لاندې دی!!!

اوس پوښتنه داده چې اخر کوم شي کرزي اړکړی چې چې دامریکا له غلامۍ نشي وتلی؟ یا واقعاً هغه دامریکایانو سیاسي ، تبلیغاتي او اقتصادي فشارونه حسوي هم؟ پښتانه وایي: څه چې کري هغه به ریبي!! یا داستاد په خبره:

ځان به غلام ا قام به دټول عمر بندي ساتي
څوک چې لاسونه ورکوي سر او تندي ساتي.

پرته له شک دکرزي په پښو کې دامریکا دغلامۍ کړۍ پرتې دي دهغوئ له خوښې او اذن پرته په خلاصو پښو نشي ګرځیدای، دیو ادني امریکایي سړي او ښځې داحترام لپاره هم سر ټیټې کوي، دهر که بر ماست ازما است په مصداق دخپل عمل خواړه؟ څکې؟؟

کرزیه انه پوهیدي چې امریکا ته دخه لپاره توظیف او ګومارلي؟ته هغوئ ددې غیور ملت دښکېلولو لپاره راوستي او دارګ په ګدۍ یې کینولي، شابس په تا؟تاهم په ډېر اخلاص دهغوئ لپره کار وکړ، دخپلې خاورې

اوملت سره په جفا او خیانت کې دشاشجاع ، کارمل او
نجیب ریکارډ مات کړ. نن چې ستا دخولې ملت اورې چې
دامریکایانو دسیاسي، اقتصادي اوتبلیغاتي فشارونو
سره مخامخ یې دخوښۍ ځای دی. ولې تر پرونه خوتا
ویل امریکایان زمونږ دوستان دي. دایتلاف عسکر
زمونږ دمرستې او دفاع پخاطر راغلي. خود کومې دفاع؟
او له چا نه ستا دفاع لپاره. ؟مونږ ته ! دلومړۍ ورځې نه
دشاه شجاع ببرک اونجیب سکنۍ وروړ ګڼلې... ، هو !
رښتیا په عمل کې هم تا وښوده چې پردیو ته په غلامۍ او
ګوډاګیتوب کې درسره هیڅوک سیالي نشي کولی...؟
اوسنۍ وضعیت چې ته ! دډیورنډ ترون پرمهال له شرایطو
سره پرتله کوې او وایې چې دامنیتي ترون لاسلیکول
دډیورنډ اوګندمګ له ترونو سره توپیر نه لري ، دپوهې او
ازاد ضمیر څښتنانو آن لا هغه مهال درته همدا ویلي چې
کوم وخت تا ! داروزګان په غرو کې دکفر دغلبې لپاره
سنګرونه جوړول. اودخپلو خلکو پرضد دې دامریکایانو
جنګي هلیکوپترونه کرودینات ورکول !! دراډیوګانو
سره په خبرو اومرکو کې دې په لوړ ستونې ناري وهلې چې
امریکایان مونږ سره خواخوږي لري. زمونږ دنجات او
ازادۍ لپاره راغي. نه پوهیدې ! چې له څه ډول ازادۍ
لپاره؟ اوله چانه دازادۍ لپاره؟ تا بیا بیا له خلکو
وغوښتل چې دامریکایانو سره مله شئ ! ځانونه ازاد
کړئ. !

تا په پرون له دېنه انکار کاو چې چا به وویل:
امریکا دپلمو او بهانو له لارې په سیمه اومنطقه کې
ستراتیژکې موخې او اهداف لري؟ نن ایله په دې
خبرشوي چې امریکا له افغانستانه په اسانه نه وځي
اوهغه په سیمه او منطقه کې اوږدمهالې ګټې لري..
دخپلو ګټو لپاره ورته زه نه؛ افغانستان مهم دی.. او
دهمدې لپاره افغانستان کې دایمي شتون غواړي..
کاشکې ! ته پرون هم په دې لهجه غږیدلی..وای !! په
کومه چې نن.. !

بې له شکه ! تا افغان ولس ته جنګونه ، مرګونه
،ویرونه اوپیغورونه راوړل ، افغانان دې په امریکایي
بریدونو او بمبارونو کې په وینو و سره ولمبول.. دخپل
قدرت دبقا لپاره تا هره بې ننګي اوبدرنګي قبوله
کړه... دافغانانو دننګ هسکه شمله دې زمکې ته
راټیټه کړه... دافغا ن ماشومانو قاتلانو ته تا ! په سینو
مډالونه وتومبل.. هم ستا په واکمنۍ کې پتمنې
میرمنې بې پته اوبې ابرو شوې.. امریکایي درنده ګانو
په کوچنیانو او بوډاګانو جنسي تیري و کړل.. په جنازو
، ودونو اومسجدونو بمونه پریوتل...په دې ټوله موده
کې ستا ویده ضمیر ویښ نشو... خپل غلام وجدان
ملامت نکړې....تعجب دی چې نن څنګه پوه شوې چې
اوسنۍ وضعیت دډیورنډ اوګندمک ترونو پرمهال له
شرایطو سره پرتله بولې.... هو !پوهیږې چې ستا باداره
امریکا پخپل ټول کبر اوغرور دجهاد اومقاومت اتلانو
دشکست اوزوال څنډې ته رسولې... له افغانستانه
دتیښتې او منډې حال کې دې... په دې سره تا هم خپل
انځور په اوبو کې لیدلی .... مونږ ګومان نه؛ بلکې دا
باور لرو چې دپردې دننه تا له چونن چرا پرته
دامریکایانو سره هرڅه په ورین تندي منلي.... امنیتي
ترون دې هم لاسلیک کړې.... یواځې ددې پخاطر چې
زمونږ ستر ګوته شګې را وشېندې.. او ساد لوحي
خلک تیرباسي... وایې له فشارونو شره مخامخ یم....
غواړې په دې ویناګانو ځان دتاریخ له محاکمې و
ژغورې.. خو باور وکړه ! ستا او ستا دملګرو اسلام ضد
جنایتونه او خیانتونه هیڅکله کوچنې ندي ! چې ستا
په دې لفاظیو هغه ټول جبیره شي.. ولې هر افغان
تاپیژني... ستا کرغیړن کردار ورته معلوم دی...دافکر

دمصر وروستۍ په ترکیه کې لاریونونه دحیا په لمسون ...؟

حسن مومند

دتړوالو بندیزونوسره سره چې ایران ته دسرو زرو اواسعارو دانتقال اودناقانونه ودانیو دجوړولوپه بدل کې په دولتي چارواکو درشوت اخستنې توروته لړبدلي له هماغې ورځې دلویدیځ رسنیو دطیب اردګان داداري پرضد ډېر سخت تبلیغات پیل کړي اودامسئله یې عمداً ډېره ستره کړی چې له امله یې داوسنی اداري پرضد پاڅونونه پیل اودرنګبدودخطرسره مخامخ ده.

کابو ۷ لسیزې وړاندې چې په ترکې کې عثماني خلافت رنګ او ترکیه دکمال اتاترک لاسونو ته ولوېدله نو کمال اتاترک پکې په اسلام دښمنی کې دومره داخلاص مظاهره وکړه چې شاید دهغه غربي باداراانو به تري هم دومره زیات اخلاص نه غوښتلو؛ عربي رسم الخط ختم او پرځای یې لاطیني رسم الخط رائج کړای شو داذان په شمول په ټولو اسلامي شعایرو بندیز ولګول شو ،دمسلمانو مېرمنو سر او مخ پټول قانوني جرم اعلان شو ،په سوونو ستر او تاریخي جوماتونه په میوزیمونو بدل کړای شول او دترکې داسلامي تشخص دله منځه وړلو او پرټولنې دسیکولرزم یا لادینیت دمسلط کولو په موخه خبره تردې ورسېدله چې کمال اتاترک اعلان وکړ چې دترکې نه (نعوذ باالله من ذلک) دخدای دخدایتوب یا خدایي واک جنازه ووتله.

دا طبعي وه چې دمسلمانانو لپاره دعثماني وروستي خلافت په وارثې ترکې کې دومره افراطي اسلام دښمني او بې دیني دزغم وړ نه وه او پروړاندې یې دسوچه مسلمانانو عکس العمل فطري واو چې له هماغې روميې ورځې نه راڅرګند شوی هم و خو چې دولت ډېر زیات جابر و او کې مسلمانان یې داسلام نه دننګې په جرم قتل کړي وو نو په لویه سطحه عکس العمل سر نه شو راپورته کولای؛ دا چې داشغالګرو روسانو پرضد په افغانستان کې دجهاد دپیل کېدا او بریالیتوب له امله په مسلمان ملت کې ډېره ستره بیداري رامنځته او داسلام دنشأة ثانیه سفر کړندی شو نو دعربانو سره په ګاونډی او داروپا په خولې کې پرتې ترکې کې دجهادي فکرپا داخوانیت په څېر دسلامي بنسټپالي سیاسي خوځښت درامنځته کېدو نه غرب په

سختې وېرې کې و نو ځکه يې دسيکولر فوځ په لاس دهر ديني خوځښت مخنيوی کاوه او په اسلامي رنګ او نوم جوړ شوی هر ګوند به يې لغوه اعلاناوه او ددې ګوند مشران به يې زندانونو ته لېږل خوداچې پرترکي مسلط سيکولرحاکمان سخت فاسد ، ولس نه نور دزغم وړ نه وواو په ترکي بدلون حتمي ښکاريدلو نو دعدل او پرمختګ په نوم دطيب اردګان او عبدالله ګل ګوند چې درېځ يې نرم و ؛ دلوېديځ دجمهوري اصولو په رڼا کې يې دانتخاباتو له لارې ځان واک ته رسول غوښتل ، دترکي سيکولر نظام ته يې خپله ژمنتيا ښکاره کوله ، دسيکولرستانو دفاسدې اداري نه دسختو تنګو شويو ترکانو تده پرې ماتېدله او دسوچه اسلامي نظام دغوښتنې مخنيوي پرې هم کېدلو نو امريکا او نور لوېديځ يې وجود او په انتخاباتو کې پرلپسې درې کرته برياليتوب او په واک کې راتلل وزغمل.

دواکمنۍ په څه دپاسه يوې لسيزې اوږدې مودې کې طيب اردګان دټولو مثبتو بدلونونو لپاره په ډېر احتياط قدمونه پورته کړل ، داسې يو ګام يې هم پورته نکړ چې سيکولر نظام ته دنه ژمنتيا ددليل په توګه وړاندې شي او نه يې په احساساتو ولاړ کوم داسې ستر اقدام وکړ چې سيکولر فوځ پرې زيات ناراضه او دارد ګان دادارې دړنګېدلو سبب جوړ شوی وای .

هو! داسې اقدامات يې ضرور وکړل چې داسرائيلو، ټولې لوېديځې کفري نړۍ او په ځانګړې توګه دامريکا دناراضايت سبب وګرځي او دطيب اردګان دادارې ړنګولو لپاره دپلانونو جوړولو لامل شي مثلاً په ميوزيمونو بدل شوي ټولو جوماتونو ته يې بېرته دجوماتونو حيثيت ورکړ ، دمنارو نه بيا دتوحيد انګازې پورته شوې ،داسلام دشعايرو تعظيم پيل شو او هغه حجاب چې په ترکي کې قانوني جرم ګڼل کېدلو په هماغه حجاب کې دترکي مېرمنې ترپارلمان راغلې ؛ ترکيه ورو ورو اسلامي نړۍ ته رانږدې او دفلسطيني مسلمانانو سره دهمدردۍ او ورنه دحمايت له امله دکمال اتاترک دترکي دنږدې متحد غاصب اسرائيلي دولت نه دومره لرې شوه چې په تېرو الو کانفرانسونو کې ښاغلي اردګان داسرائيلي دولت مشر شمعون پيرس دظالم او قاتل په القابو ياد کړ ؛دباندنيو چارو وزارتونو ته يو دبل سفيران احضار کړل ؛ شريکې فوځي مانورې به چې کېدلې لغوه شوې ؛ داسرائيلو له لورې دغزې دمحاصرې په شپو ورځو کې ترکيه يواځينی هغه هېواد و چې داسرائيلو دمحاصرې او بنديزونو پروا يې ونه ساتله او دبشري مرستو نه بار دفلوتيلا قافله يې غزې ته راواستوله چې وربانډې داسرائيلي کماندويانو له لورې دحملې له امله دترکې نه دبښنې غوښتلو او دحملې قربانيانو ته دتاوان تررکولو پورې ددواړو هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې هم پرې شوې.

همدا راز چې تېرکال کله په برما کې مسلمانانو دوحشي بوديانو دسترو ظلمونو ښکار شول نو داسلامي نړۍ په دولتي مشرانو کې طيب اردګان يواځينی هغه مشر و چې دمظلومو مسلمانانو ددردونو نه دځان خبرولو په موخه دخپلې مېرمنې سره يوځای تربرما ولاړ او چې پرمسلمانانو شوي ستر ظلمونه يې په خپلو سترګو وليدل نو ددرد نه ډکې دېرې اوښکې يې توی کړې .

او کله چې سږ کال په مصر کې دامريکا ،نورلوېديځ او اسرائيلو په اشاره دمصري فوځ له لورې دمحمدمرسي اداره ړنګه او بيا يې دمحمدمرسي په طرفدارۍ کې راوتي زرونه مسلمانان ووژل نو دلته هم طيب اردګان يواځينی مسلمان واکمن و چې دفوځ ددې ظلمونو غندنه يې وکړه او دمحمدمرسي دادارې ړنګول يې دقانون نقض وګڼلو.

لنډه دا چې داردګان اوسنۍ جوړې تګلاره امريکا ،نورلوېديځ او اسرائيلو ته دمنلو وړ نه وه چې له امله به يې خامخا ددې ادارې دړنګولو لپاره پلانونه جوړول .

دطيب اردګان دا کمزورې اسلام پالنه او اسلامي نړۍ ته دنږديکت دا يادې هڅې به هم امريکا ، نورلوېديځ او اسرائيل دطيب اردګان نه بښونکې جرم ګڼي خو زما په اند ددې نه هم ستر جرم دطيب اردګان اقتصادي بغاوت و.

محترمو لوستوالو ته به معلوم وي چې نړيوال بانک او آی ايم ايف دواړه هغه نړيوالې مالياتي اداري دي چې پرې ديهودو قبضه ده ؛ دا دواړه اداري دنړۍ زياتره هېوادونو ته سودي قرضونه ورکوي چې له امله يې بيا همدا هېوادونه ددې ادارو داسې غلامۍ قبلولو ته مجبورېږي چې دمقروضو هېوادونو په قوانينو کې تغير او تبديل هم دپادو دواړو ادارو په غوښتنې راځي او دبرق ، غازو ، تېلو او داسې نورو سترو څيزونو نرخونه هم همدوئ ټاکي . همدا اقتصادي غلامي ده او دنړۍ يهود پدې لومو کې دټولې نړۍ رابسکېلول غواړي خو طيب اردګان ددوئ په لومو کې رابسکيل شوې ترکيه ددوئ دغلامۍ نه ازاده او دمسلسلو کاميابو هڅو په نتيجه کې يې په اقتصادي لحاظ دومره پرمختګ وکړ چې اوس ترکيه دنړيوال بانک يا آی.ايم.ايف يوه روپۍ هم

ندده مقروضه .

نو څکه په ترکې کې هم دمصر په څېر دحالاتو رامنځته کولو او دطيب اردګان داداري درنګولو لپاره دکمالېزم ټول پاتې شوني او دغربي اين جي او ګانو کارکوونکي په کار اچول شوي او ښه په سپين سترګې يې په ترکې کې دامريکا اونورو لويديځ سفارتونه اداره کوي .

څو مياشتې وړاندې هم د اردګان اداري پرضد دترکانو دراپورته کولو هڅې شوې وې کله چې ددې اداري په استنبول کې ديو پارک دورانولو او هورې داسلامي خلافت دفتح ديو ستر څلي اوسودا ګريز مرکزدجوړولو پريکړه کړې وه خو هغه توطيه څکه شنډه شوه چې ددولت ضد مظاهرو کې به يواځې دبډايو کورنيو يو څو زرو هلکانو او انجونو ګډون کاوه ؛ دترکې متوسطه طبقه چې دترکې قاطع اکثريت همدا طبقه تشکيلوي او همدوئ دطيب اردګان حاميان دي په هغه لاريونونو کې يې ګډون نه وکړی خو اوسنۍ توطيه څکه خطرناکه ښکاري چې په دولت کې شامل دفتح الله ګولن ګوند هم اوس داردګان د مخالفينو په صف کې ودرېدلي دي .

اصل خبره داده چې طيب اردګان چې څرنګه دهېواد داقتصاد ښه کولو ته ډېره توجه کړېده نوترڅنګ يې دهېواد ښوونيز نظام دپياوړتيالپاره هم ډېر مثبت ګامونه پورته کړيدي ؛ وړاندې به په يوصنف کې ۶۰ زدکوونکي ووخوطيب اردګان په تېرو ۱۱ کلونو کې دومره زيات ښوونځي جوړکړل چې اوس په يوصنف کې يواځې ۳۰ زدکوونکي وي اودولت اراده لري چې داشمېره ۲۰ ته راکوزه کړي ترڅو د دولتي ښوونځو معيارلوړ اوخلک دشخصي مکتبونو په ځای دولتي مکتبونوته مخه کړي ؛ دترکې دولت په نومبر کې دشخصي مکتبونو دبندولو پريکړه کړی چې پدې کې دترکې دولس هرارځيزي ګټې نغښتې دي خودګولن اوودده دډلې شخصي ګټوته تاوان رسېږي څکه چې فتح الله ګولن د ،،خزمت موومنټ،، په نوم دډېرې سترې تعليمي موسسې مشري کوي او ترکې او نورې اسلامي نړۍ کې په زرونو مکتبونه لري چې له دې لارې هرکال په سوونو مليونه ډالر لاسته راوړي ، ګولن ټل هڅه کوي چې ځان خلکو ته فلسفي او اسلامي علومو ماهر وښايي او نړۍ يې په همدې صفت وپېژني خو دا چې د ۱۹۹۰ راهيسې يې خپل وطن ترکيه او ټوله اسلامي نړۍ پرېښې ، په امريکا کې مېشت دی او داسرائيلو سره يې نږدې روابط دي نو څکه ورته دترکې او دحال نه يې خبروټولو مسلمانانو دشک په نظر ګتل

چې دا شک اوس په یقین بدل شو کله چې پدې حساس وخت کې کولن دطیب اردګان دادارې پرضد اواز پورته کړ .

او دا چې دکولن موسسې تېرې خپل ټول فارغین په پولیس او قضا کې مقرر کړي نو اوسنی لانجه کې همدې دوارو څانګو داردګان ادارې پرضد ددومره تشدد نه کار واخست او خپل بدنیت یې ترهغه حده ښکاره کړ چې قدم په قدم یې قانون هم تر پښو لاندې کړ مثلاً پولیس یې په کورونو چاپې وهې او مشکوک افراد دپولیسو مرکزونو ته راولې دې په ټولنې بداثر کړی و نوځکه دولت حکم وکړ چې دخپل افسر نه داجازې اخستلو پرته به پولیس دچا کور ته نه ورځې خو محکمې ددولت دا پریکړه لغوه اعلان کړه او پولیسو ته یې دخپل افسر له اجازې پرته هم دهر مشکوک تن پرضد دعملیاتو او دپولیس مرکز ته دراوستلو اجازه ورکړه

همدا راز دطیب اردګان لور او خوی سره له دې چې یوه وقف اداره چلوي هیڅ دولتي ماموریت نه لري او نه یې هم په اوسنی لانجه کې دککړتیا څه احتمال شته خو بیا هم داردګان خوی بلال اردګان محکمې ته حاضر کړای شو او لکه څرنګه چې محاکمو دټولو نړیوالو قوانینو خلاف محاکمو ته دحاضریدو نه لا دمخه دټولو ککړو تنو دوسې مطبوعاتو ته ښکاره کړې همدا رنګه یې دبلال اردګان پسې دراجلبولو خط هم مطبوعاتو ته ورکړ ترڅو مطبوعاتو کې چاپ او په طیب اردګان دفشار راوستلو لپاره ترې کار واخستل شي ؛ دکورنیو چارو دوزیر معمرګولر دخوی بارېس ګولر او داقتصاد دوزیر ظفرچالیان دخوی کان چالیان چې دمالي فساد په اوسنی لانجه کې تورن شول نو یادو دوارو وزیرانو استعفا ګانې ورکړې نو ځکه دغرب په مطبوعاتو کې دترکې په اړه په چاپ شویو مقالو کې دامطالبه ډېره په شدومد سره کېږي چې دبلال اردګان دنوم درامخې ته کېدو نه پس باید طیب اردګان ژر تر ژره مستعفي شي .

دکولن اتحادي سره تړاولرونکو قاضیانو او پولیس افسرانو لا ۱۴ میاشتې دمخه دطیب اردګان دادارو دوزیرانو او دپارلمان دغړو پرضد طوطئې پیل کړی وې او اوس چې دښاروالی انتخاباتو ته ایله دوه میاشتې پاتې دي نو پولیسو او محاکمو دا خبره راپورته کړه چې داردګان اداره په مالي فساد کې ککړه ده او ددې ادارې ۲۲ غړو په شریکه دې فساد ته لار برابره کړېده حال دا چې پدې ۲۲ تنو کې اکثرلا ددې نه هم نه وو خبر چې څه رامنځته شویدي ؟

خو لومړی وزیر طیب اردګان د اوسنی توطئې په مقابل کې سخت غبرګون ښودلی دی ،هغه پدې لانجه کې دپولیسو کړنې ګډه لوبه وګڼله او زیاته یې کړه چې ده دکورنو او بهرنو هغو کړیو شوم پلان دی چې دمارچ دراتلونکو انتخاباتو نه وړاندې زموږ دادارې بدنامول غواړي ؛ هغه زیاته کړه چې دهغو کړیو لاسونه به ورمات کړي چې دتفتیش او تحقیق په پلمه ددولت رنګول غواړي ؛ لومړي وزیر دا روپایې هېوادونو دسفیرانو ته هم اخطار ورکړ چې که دخپلو حدودو نه یې تجاوز وکړ (ددولت ضد دخلکو راپاڅولو کې لاس لرل پرې ثابت شول) نو دهېواد نه به یې وباسي .

سره له دې چې دترکې د فوځ تاریخ داسلامپالو دخپلو او دملکې دولتونو پرضد دکودتاګانو ډک دی خو داچې دطیب اردګان دوا کېنې په تېرو ۱۱ کلونو کې دفوځ اصلي څېره ترګانو ته راڅرګنده او حیثیت ته یې ډېر تاوان رسېدلی دی نو په اوسنی موضوع کې یې بې طرفي خپله کړېده خو احتمال لاهم موجود دی چې فوځ دمخالفینو تله درنده کړي .

نو اوس معلومه نده چې دغربي نړی دحمایت نه دبرخمنو مخالفینو شوم غزایم به پوره کېږي او که طیب اردګان به ورته په ماتې ورکولو بریالی کېږي .

دسیاګرد غمیزه

او له عاملینو یې انتقام

سید سعید

دسیاګرد دوروستۍ فاجعې وروستۍ موندنې ښیې چې په دغه عملیه کې ملکي خلګوته ترهغه څه ډیرځاني اومالي زیان اوښتی چې رسنیو ډیبښي په لومړي ورځ نشرکړ. په همدې ورځ په دغي واقعې کې دملکي قربانیانوشمیراته تنه ښوول کیده. خووروسته چې دسیمي له استوګنوسره خبري وشوې، پـه یـاده شـوې پیښـه کـې یـې دشهیدوشووولسي وګړوتعـداد۱۴ – ۱۷وښود، اوددې څخـه عـلاوه یـې ملکي خلګوته دپراخ مالي زیان اوښتوڅخه هم پرده پورته کړه.

ناټواودکابل حکومت دعوه وکړه چې په دغوعملیاتوکي یوازي دوه تنـه ولسـي افغانـان وژل شـوي اونـوره مـرګ ژوبلـه وسـلـه والومخالفینو(مجاهدینو) ته اوښتې ده، خو مجاهدینورسنیوته په استول شوې خبرپاڼه کې دکابل اد رې هغه ادعاچې دولس تنه طالبان یې په یاده شوې جګړه کې وژلي په ټینګـه ردکړې ده. مګرپـه دغـه جګړه کې یې دډیروولسي وګړو ترڅنګ دخپلوپنځوتنوملګرودشهادت پخلی هم کړی دی .مجاهدین وایې چې په دغه جګړه کې یې څلورتنه امریکایې اودولس کسه داخلي عسکروژلي اوګڼ نورېې ټپیان کړي دي .

سیمي ته دکابل اداري داستول شوي پلاوي مشراود ولسي جرګې غړي (عبدالستارخواصي) ازادي راډیوته وویل چې : بهرني پوځیان دبې ګناه افغانانوژوندته احترام نه لري ،دسیادګردولسوالۍ په وازغردره کې یې تېوله شپه بمباري کړې ،۱۷تنـه ولسي وګړي یکې شهیدان شوي اویوشمېر ټپیان شوي،

همدارنګه شپږاووه کورونه هم په دغه بمبارکي وران شوي دي .خواصي وویل چې :بهرنیوعسکروسهار کورونـه تلاشي کړي ،اودروازې یې پـه بمونوالـوزولي دي، همـدارازنومړي وویـل چـي : دنړیـدلو کورونواو وژل شووکسانوانځورونه یې اخیستي دشنبې پـه ورځ بـه یې کرزي اودجرګې غړوته وښیې .

پژواک اژانس دیرغلګروله لوري دخپرې شوي اعلامیـه لـه مخي ویلـي چـي همـداعملیات یـې دولایـت اوولسـوالۍ پـه مشوره،ودافغـان عسکروپه مشرۍ ترسره کړي، که څه هم کرزی اوپلاوي یې داسي ښیې چې ګواکي په دې سترظلم اودهشت کي ددوی عسکروګډون نه درلود.

داسلامي امارت ویندوی ذبیح الله مجاهدرسنیوته په استول شوې خبرپاڼه کي لیکي چې :دسیاګردپه عملیاتوکي یرغلګروځواکونودافغان ګوډاګیانوپه منتیازموړپه لسهاووتنه ملکي وګړوتـه پراخـه مرګ ژوبلـه اړولـې، دزهرجنوسـلوپه کارولوسـره یـې دخلکوباغونـه اوفصـلونه سـوځیدلي ،۹ کورونـه ویجـاړ شـوي ،همـدا رنګـه پـه دغـه یرغـل کـي عسکرودخلګوله کورونوڅخه قیمتي شیان غلاکړي اوډیرزیـات مـالي زیان یې ورتـه رسولی دی .

دسیاګرددپیښي په اړه داسلامي امارت دریځ :

داسلامي امارت رهبري شورئ په یوه اعلامیه کي په سیاګرد کي عـام وژنـه غنـدلې ،قربانیانوتـه یـې د الله تعـالی لـه دربارڅخـه جنـت

اووارثانوته يې لوی اجراوصبرغوښتی دی . همدا راز اسلامي امارت ژمنه کړې چې دخپلومظلومو هيوادوالوله قاتلينوبه انتقام اخلی.

طالبانودبشري حقونوپه ټولنواوفعالانوږغ کړی چې ددغي پيښې غندنه وکړي اوعاملين يې نړيوالوته ورپه ګوته کړي ترڅوپه راتلونکي کي ددغه ډول ناوړه پيښومخه ونيول شي .

دسياګر د پيښه او د کرزي غبرګون :

دکرزي له فتره په خپره شوې خبرپاڼه کي دولسي وګړومرګ ژوبله غندل شوې اودايې داوباماده وکړه ليک څخه چې واردمخه يې له دوی سره لاسليک کړی ښکاره سرغړونه بللې ده .

جنرال عتيق الله امرخېل دکرزي شکوې ته په اشاره له ازادي راډيوسره په مرکه کي وويل چې : «په افغانستان کي جنګ امريکايانوپيل کړی ،دوی نه دافغانانوپه خوښه راغلي اونه هم له افغانانوسره دخپلوکړنوپه اړه سلامشورې شريکوي، دوی دکرزي مخالفت اوموافقت بابيزه ګڼي ،دوی فقط خپلوموخوته رسيده غواړي په هرقيمت چې وي ».

زياتره شنونکي په دې باوردي چې دامريکاپه وړاندي دکرزي وروستي اکټونه هسې غولونکي اوسمبوليک حرکات دي چې کومه پام وړ نتيجه نه ده پرې مرتب ،دخلکودهمدې دعوې لپاره دسياګر دبوړنونکې پيښه ښه دليل کيداشي، څکه له همدې پيښې ثابته شوه چې يرغلګر هرځای وغواړي چاپه وهلی شي،خلک وژلی ،نيولی اوبندي کولای شي نوپه اصطلاح دامنيتي سنداونورومسايلوپرسر دکرزي اوامريکاچنې هسې يوه ډرامه ده نه واقعيت .

په هرصورت اوس له همدې پيښې دکرزي ناوسي اودامريکايانووحشت اوبدماشي نوره هم روښانه شوه .

دخپلي ټکنالوژۍ په اړه ديرغلګروانتهايي مبالغه :

امريکايي ځواکونوغوښتل چې په سياګردکي پرمجاهدينوداسي حمله وکړي چې هغوی کاملا غافلګيره وساتي ،خوکوم وخت چې نيواکګراوګوډاګيان يې سيمي ته داخل شوي مجاهدينوواربرې دمخه کړی ،ښه کاري بريدېې ورباندي کړی کله چې په دغي لوېې چاپې کي امريکايي اوکورنيوعسکروته ډيرځاني زيان ورسيد ،پلان يې ګډوډشو ،نوالوتکوېې داستوګني پرسيمه بمونه وغورځول چې له کبله يې ملکي خلکوته پراخ ځاني اومالي زيان واوښت.

ديرغلګر و معمول دی په کومه سيمه کي چې دتلفاتوسره مخ شي بيانوهغه دچاخبره وچ ولانده نه ګوري څه چې په مخه ورځي له منځه يې وړي ،همداډول پيښې خوراډيري رامنځته شوې چې پردوی باندي دحملې وروسته يې بسته -بسته کلي تراوراوبمونولاندي نيولي اوپه يومخيزه توګه يې له منځه وړي وي .

داټول په داسي حال کي چې دوی په تکرارسره ويلي چې دنوي ټکنالوژۍ په مټ له فضاڅخه پرمځکه څلوراينچه شی ويني اوان ښکالوېې اوري ،خوهمداټيره اونۍ يې په هلمند کي يوځلورکلن ماشوم په دې ګومان شهيد کړچې ګواکي يوبريتورمخالف يې وسله پراوږه ددوی په وژلوپسي روان دی .

اشغالګروځواکونودخپلي ټکنالوژۍ اړوندلاپوشاپوسره سره په ډيروموارد وکي خو حتی حيوانان دانسانانوپه ګومان له منځه وړي دي، دابيابيله خبره ده چې همدادمتمدني نړۍ پوځيان په خپلوهيوادونوکي دحيواناتوپه وژلوهم محاکمه کيږي ،خوپه افغانستان اوهغوسيموکي چې ددوی تراشغال لاندي دي دانسان وينه ددوی دحيوان تروينې هم سپکه اوبې ارزښته ده، ديرغلګروځواکونوپرله پسې تکراري جنايتونويوه لويه وجه همداده چې دلته نه دګوډاګي رژيم سره دومره واک اوځواک شته چې دخپلوخلکوهمداښکاره وژونکي اودبشري حقونوناقضين دمحاکمې ميزته راکش کړي اونه هم دمهذبې نړۍ په قوانينوکي داسي څه شته چې پوځيان يې له خپلوپولوبهر دستروجرايموپه ترسره کولوپړه وبلل شي .

دسياګر دفاجعه اوله عاملينوېې غچ :

دسياګر ددپيښې دوې ورځې وروسته داسلامي امارت مجاهدينوخپله ژمنه پوره کړ. دکابل په زړه وزيراکبرخان ۱۴نمرسړک باندي واقع دلبنانيانوهوټل باندي يې خوراخيرانونکي کامياب بريدوکړ، داسي بريدچې په دغه هوټل کي ميشت ديرغلګروهيوادونواړنددوه

درځنه ډیپلوماتان ،مشاورین اواستخباراتي مامورین یې په خپله سزاورسول.

داسلامي امارت ویاندذبیح الله مجاهدپرلبناني هوټل دبرید په اړه رسنیوته وویل چې :په دغه برید کې چې دسیاګرددعام وژني د غږ په توګه ترسره شو ۲۹تنه جګپوړي بهرني اشخاص او۸تنه افغان ساتونکي وژل شوي. په برید کې ډیرقوي منفجره موادکارول شوي او پرمهم هدف ترسره شوچې له امله یې یرغلګراودکابل رژیم چارواکي داسي سربداله شوي چې مطبوعاتي څرګندوني یې یودبل تردیدونکي دي .

دکرزي رژیم په دغه حمله کې د۲۱تنودوژني یخلي کړی،چې ۱۳یې خارجیان او۸ تنه یې افغانان شیې،دوی همدابرید پرملکي اواقتصادي بنستونولوی ګوزاربللی دی . خو په واقعیت کې په برید کې هدف ګرځول شوی ریستورانټ په کابل کې دیرغلګري تلوالي دلوړپوړوماموینودشراب وکباب یومهم استراحت ځای اوپناګاه وه، نه یواقتصادي بنیاداودپیرویلور کوم ځای .

که دکابل اداره دې بریدته پرتولګټوځایونواوملکي خلګودحملې نوم ورکوي ،داسمه ده چې په دغه هوټل کې په نښه شوي ستي پوځي جنرالان نه وو،خو واضح ده چې همداوژل شوي کسان دیرغل سره په سیاسي ، استخباراتي، مالي اوتبلیغاتي بخشونو کې مستقیمابرخه وال وو،همدغوکسانوبه په دغه هوټل کې دافغان ولس دایلولوپیاره سلامشوري او دښکیلاک دپایښت په موخه پلانونه سره شریکول .همدا رازدوی که په سیاګرد کې دمظلوموافغانانوپه جونګړوبمباراودښځواوماشومانوپه ولسه ییزه وژنه کې دیپلوماتانواوجنرالانوپه توګه دخیل نه وو،خودهمدغوحشي یرغلګروسره مرستي اومیني ترافغانستانه رارسولي وو، نوپه نښه کول یې په کوم منطق پرملي منافعوبریدګڼل کیږي؟!په واقعیت کې همدابرید پرملي منافعونه ، بلکې پرملي اضراروبوستر ګوزاراودمظلوموهیوادوالوانتقام ؤ.

پر دښمن دانتقامي بریداغیز:

کابل کې پرلبناني هوټل دمجاهدینو انتقامي برید دومره مؤثر ؤچې دښمن یې دپوځي اوسیاسي ځیني ترڅنګ په رواني لحاظ هم ډیروځاپه،

یوه اوني وروسته لاهم پر همدې برید لویدیځومطبوعاتو کې تبصرې کیدلې،امریکایي مشهوري ورځپاڼې نیویارک ټایمزدهمدې برید پردقیقوالي اوبریالیتوب اعتراف وکړاوهمدا یې دمجاهدینویوانتقامي ګوزاروباله . همدا رازافغانستان کې دیرغلګروځواکونویولوړرتبه جنرال مارک میلي دویډیوکنفرانس له لارې په واشنګټن کې خبریالانوته وویل چې دجنوري په ۱۷مه کابل کې دطالبانوبرید ډیرحیرانونکی ؤ، نوموړي دې بریدته په اشاره خبرداری ورکړچې ښایې په روان کال کې طالبان لاډیرخونړي بریدونه تر سره کړي .

پایله :

دېروان ولایت په سیاګرد کې دیرغلګروځواکونواوداخلي ملګروپه چاپه اوبمبار کې دولسي وګړوپه تېره دښځواوکوچنیانوشهادت افغان ولس ډیردردمن اوغمجن کړ،خوپرلبناني هوټل دمجاهدینوبرید کې دامریکایي ،برتانوي او....یرغلګروهیوادونودسیاسي اواستخباراتي مامورینووژنې یې زخمي زړونه پټي کړل .بل داچې دې انتقامي بریدیو وار بیاددښمن تبلیغاتي کمپاین چې مجاهدین پردیوهیوادونوپورې تړي مسخره کړ،ځکه دې بریدثابته کړه، چې مجاهدین ترهرچا وړاندې اوپه ښه ډول دمظلوم ولس غوښتنواوهیلوته لومړیتوب ورکوي. دافغانستان اوافغان ولس اصلي غاورین همدااسلامي امارت اتل مجاهدین دي چې په خوښۍ یې خوښ اوپه درديې دردمن دي .همدا رازدمجاهدینوهمدې انتقامي برید دښمن ته په ډاګه کړه چې افغان ولس دومره بې څوکه اوکمزوری هم نه دی چې هرڅوک یې پرسرټکوي، داولس دزمریانوپه شان داسي غښتلي تورزنان ، غازیان اوفدایان لري،چې دخپلې خاورې په ساتنه ،دمقدساتوپه پالنه اودخپلوخلګودوژنکوپه وژنه ډیر ښه پوهیږي .

هو!

هرچا چې په بد نظرزموږ خواته کتلي دي

موږ په ډیر تلوار دهغوسترګې رایستلې دي

بناغلی کرزی

در کانفرانس اخیر مطبوعاتی...

مطلب مهمی را با مدیا در میان گذاشت. وی گفت: «... چند سال قبل در یک صحبت رویاروئی با قوماندان (کانگرسمن !) امریکائی، شکایت کردم که نظامیان امریکایی، مردم بیگناه را توقیف و در زندان بگرام نگاه داشته اند. مخاطب بمن گفت: ما به کار خود ادامه میدهیم. گفتم مانع کار شما خواهم شد. گفت شما یک فرد استید. « ...

چندین استنباط از روایت بالا بدست می آید:

- از یک طرف بیچارگی و درماندگی رئیس جمهور (!) در دفاع از جان و مال مردم و امنیت و سلامت کشور در برابر تحکم و دیکتاد قوای مهاجم. از طرف دیگر علاقمندی وی تحت همه شرایط در حفظ کرسی ایکه خیر آن چندان به مردم نرسیده و اگر وضع به همین شیوه دوام کند نخواهد رسید.

- اعتراف به این واقعیت که مهاجمین خارجی در کشور همه کاره و افغان ها اعم از رئیس جمهور، مارشال و مجاهد هیچ کاره اند.

- دوازده سال کار استخباراتی و تبلیغاتی در شکل دهی ذهنیت عامه به خصوص فکر و ذکر جوانان فاقد بستر ثابت عقیدوی، ابتکار عمل سوق و اداره حوادث را در دست خارجیان متمرکز ساخته است. کشور های مهاجم با استفاده ازین امتیاز توانسته اند ابتدآ ولسمشر را از مردم تجرید کنند و در موقف ضعیف (بدون پشتوانه ولسی و قومی) قرار بدهند. بعداً خود را حامی و مدافع منحصر به فرد وی در برابر قیام مخالفین مسلح جا بزنند.

ازان جائیکه طلب حمایت و درخواست دفاع از خارجی مستلزم اطاعت بی چون و چرا از وی است، رئیس جمهور در انزوا و تنهائی مطلق نه ظرفیت اتخاذ تصمیم مستقل را دارد و نه هم افزار اجرای چنین تصمیمی را. پروسه تدویر لویه جرگه اخیر مظهر ناتوانی ولسمشر در کنترول اوضاع است :

حکومت دست به تشکیل لویه جرگه زد تا ازان برای توجیه موقف خود در موضوع درخواست امریکا (مطالبه امتیاز پایگاه) استفاده کند. اما به دلیل به انحراف کشیدن فیصله لویه جرگه بالوسیله شبکه های استخبارات خارجی، خواست حکومت بر آورده نشد. این مثال خوبی است در بیان اینکه حلقات خارجی و گماشتگان افغانی شان میتوانند از طریق اعمال نفوذ در ساختار های وابسته به قاعده هرم قدرت (مردم) بر رآس هرم (اورگان تصمیم گیرنده در حکومت) اثر بگذارند و خواست خود را عملی کنند. از یک جامعه روان مرده، فرسوده، نیازمند و معروض به ویرانگری بیگانه طی سه دهه، توقع بیشتر ازین را نمیتوان داشـــــــــت .

تجربه لویه جرگه خطری را که از ناحیه مداخله خارجی در انتخابات آینده متصور است بدرستی تمثیل میکند: انتخابات را فقط در حد افزار یک کودتای سیاسی با عملکرد نظامی (حضور جنگی قوت های خارجی) در دست قوت های خارجی علیه مشروعیت دیموکراتیک میتوان ارزیابی کرد. موره های این کودتا قبلآ در اورگان های امنیتی و ادارات انتخاباتی چیده شده

است . درین حال برنده انتخابات یقیناً یک کودتاچی است که به زور قوای مهاجم برای استمرار جنگ به قدرت میرسد . این حالت خاطره صدور کارمل را سوار بالای تانک های روسی در ذهن تداعی میکند...

انتخابات در شرایطی که موضوع متنازع فیه اعطای « امتیاز پایگاه نظامی » به امریکا شامل رقابت انتخاباتی شده است انگیزه میشود تا امریکا و متحدین با استفاده از تمام امکانات پروسه را به استقامت خواست خود شکل بدهند : یعنی بادست آویز انتخابات معامله گری را روی صحنه بالا بکشند که از یک طرف در اعطای امتیاز پایگاه به امریکا تعلل نکند و از جانب دیگر اشتیاق همکاری را با ائتلاف نظامی بین المللی در ادامه جنگ با مقاومت مسلح داشته باشد . آخر پایگاه را باید از حملات مخالفین در امان نگاه داشت .

ولسمشر شاغلی کرزی در یک اقدام مسئولانه موضوع اعطای پایگاه را با نتیجه مذاکره صلح با مقاومت مسلح گره زده است . این اقدام قابل توجه اما ناوقت ، در صورت تدویر انتخابات در پایان دو ماه آینده جزء تاریخ زندگی سیاسی ولسمشر میشود و هیچ اثر عملی در استقرار صلح به جا نمیگذارد .

مطالعه تاریخ سیاسی مناسبات کشور های پیشرفته صنعتی با دنیای سوم دو واقعیت را روبروی ما میگذارد:

ـ یکی اینکه در جریان جنگ سرد کشور های کوچک و ضعیف از نظر پوتانسیل دفاعی ، استقلال نسبی خود را در کشمکش رقابت های ابر قدرت ها حفظ کرده بودند . این پروسه که از بطن آن جنبش عدم انسلاک زاده شد ، باختم جنگ سرد و پایان دنیای چند قطبی دیگر مطرح نیست.

ـ دیگر اینکه به شهادت تاریخ سیاسی هیچ اشغالگری با التماس ، دعا ، درود و چوف و پوف از موضع خود عقب نه نشسته است ، مگر با فشار جنگ دفاعی .
فعلاً « برای تأمین صلح » یگانه مرجع اعمال فشار جنگ بالای مهاجمین ، استفاده « مشروط » از مخالفین مسلح است که طی دوازده سال در دایره یک بازی کثیف استخباراتی به قربانی گرفته شده اند . البته درین بازی ، مزید بر محاسبه غلط و سوء تفاهم ، توطئه حلقات داخلی و خارجی آتش افروز و مشتاق زمینه سازی تفرقه قومی ، نقش خود را داشته است .

مقاومت دیگر دارای ساختار فکری یک دهه قبل نیست : مقاومت ، ناسیونالیزم و مذهب را با تکتیک مبارزه دشوار با شبه استعمار قرن ۲۱ که با شعار گلوبالیزیشن ، دیموکراسی و جنگ ضد تروریزم وارد قراء و قصبات بیدفاع افغان ها شده است بکار گرفته راهی است.

مقاومت مسلح تروریست نیست اما الزاماً در جنگ تحمیلی از حربه تکتیکی تروریزم غیر دولتی بر ضد تروریزم دولتی استفاده میکند . افراطی مذهبی نیست . از افراطیت به مثابه تکتیک تقویت پوتانسیل جنگی بر ضد اشغال بهره برداری مینماید .

مقاومت استمرار نسل بانسل میراث جهاد و مبارزات آزادیخواهانه بر حق مردم افغانستان علیه انگریزان ، روسان و فعلاً قوای اشغالگر ائتلاف بین المللی است .
امریکا در تلاش است با سوء استفاده از نیاز افغان ها به کمک اقتصادی و امنیتی یک معاهده غیر عادلانه را از « طریق جنگ » بالای افغانستان تحمیل کند . اجیران بیشماری را که اکثراً به اقوام اقلیت وابستگی دارند و طی ده سال از ترس آنچه هیولای طالب نامیده شده است (در واقع پشتون ها) ، به امریکا و متحدین پناه برده اند ، استخدام کرده است . این » قراردادی » ها که در پارلمان ، ادارات حکومتی و اورگانهای امنیتی نفوذ کرده اند ، حکومت موازی را میسازند که سوق و اداره آن در دست قوای مهاجم است. « قراردادی ها » مدیا و مطبوعات داخلی را کاملاً تحت کنترول دارند و درانجا بنام « کارشناس » وارد معرکه میشوند...

درین جا قصد ، نفی نفس اتحاد ستراتژیک در شرایط عادی با کشور های دیگر در دنیائیکه نیازمندی های متقابل

الزاماً جوامع انسانی را در پیوند با همدیگر قرار میدهد. نیست. اعتراض به سو استفاده از حالت زار افغانستان برای تحمیل یک معاهده شبه استعماری به قصد ادامه جنگ با استفاده از فشار جنگ است.

پس چه باید کرد؟

مشروط ساختن امضای معاهده به تآمین صلح یک اقدام واقعبینانه و منصفانه است. ایکاش چنین تصمیمی چندین سال قبل اتخاذ میشد تا مرگ به سراغ هزاران افغان نمیامد. با اینهم در دو ماهی که به «خطر» انتخابات (در واقع خطر جنگ با افزاری ساختن انتخابات) باقی مانده است برای ایجاد فشار بیشتر به مهاجمین خارجی به قصد تآمین صلح اقدامات عاجل ذیل رامیتوان رویدست گرفت:

ـ تدارک زمینه تدویر یک کانفرانس بین الافغانی و بین الحکومتی تحت سرپرستی موسسه ملل متحد.

درین کانفرانس علاوه بر دولت های شامل ائتلاف نظامی بین المللی، نماینده گان مقاومت مسلح، جامعه مدنی و سائر فعالین سیاسی به استثنای متهمین جنایات جنگی و خاینیین ملی اشتراک خواهند کرد. در صدر اجندا تشکیل یک حکومت موقتی «وحدت ملی» قرار خواهد داشت. سپس در کلیه جبهات جنگ اوربند اعلام خواهد گردید.

برای اجتناب از اعطای رسمیت و مشروعیت به مداخله کشور های همسایه آنها از اشتراک در کانفرانس کنار زده خواهند شد.

توافق صلح در محور تشکیل حکومت موقتی وحدت ملی با اقدامات بعدی ذیل اکمال میشود:

ـ اعلام حالت اضطرار و الغای انتخابات آینده.

ـ تقرر هواخواهان صلح در رآس اورگان های امنیتی به خصوص امنیت ملی.

ـ به مثابه تجویز وقایوی: به سمت قوماندان اعلی قوای مسلح، صدور فرمان عدم همکاری قوای مسلح افغانی با مهاجمین خارجی در عملیات نظامی علیه مخالفین مسلح و مردم افغانستان از جانب ولسمشر.

ـ صدور فرمان پیوستن بخش وفادار قوای مسلح به حکومت، به مقاومت مسلح در جبهات جنگ از طرف رئیس جمهور به صفت قوماندان عالی قوای مسلح. اعلام عفو تسلیم شد گان توسط مخالفین مسلح.

ـ غیر فعال سازی آن بخش قوای مسلح که به حکومت غیر وفادار باقی مانده است.

ـ رهائی کلیه زندانیان سیاسی.

ـ پرداخت جبران خساره به بازمانده گان قربانیان ملکی جنگ.

ـ استعفای جمعی حکومت فعلی با انتقال کلیه صلاحیت های حکومت دوران جنگ به حکومت موقتی دوران صلح.

این اقدامات مطمئناً هیچیک در حد توان ولسمشر نیست. رئیس جمهوری که نتوانست والی پروان را با الزام مسئولیت جنایت جنگی ولسوالی سیاگرد لااقل عزل کند، ظرفیت عملی ساختن پیشنهادات متذکره را نخواهد داشت. در همه مواردی که مستقیماً به سرنوشت جنگ و صلح ارتباط میگیرد، عجالتاً قوای اشغالگر حرف آخر را میزنند. در جنگی که ضد تروریزم نامیده شده و دران اطفال شیر خوار را بنام القاعده کشته راهی هستند به ولسمشر صرفاً نقش سر گلوله توپ) بلا تشبیه) اعطا شده است.

روستار ترکی

شام: د حدیثو په رڼا کي

باقي بالله فضلي

شام د سُرياني ژبي لفظ دی ، او د حضرت نوح (عليه السلام) زوی حضرت سام بن نوح ته يې نسبت کيږي ، د نوح (عليه السلام) پر قوم باندي د طوفان تر راتللو وروسته سام بن نوح په همدغه سيمه کي ميشت او اباد شوی دی ، او ځينو مؤرخينو يې د نوموني نوري وجې هم ويلي دي.

د شام د هيواد په اړه په نبوي احاديثو کي ګڼ شمېر فضايل ذکر شوي دي، د مقدس کتاب قرآنکريم په يوشمير اياتونو کي هم د شام ځمکه مبارکه او بېکمرغه بلل شوېده.

د شام مبارکه سيمه تر لومړي جنګ عظيم پوري د عثماني خلافت تر پالني او نظارت لاندي يو واحد او نه بېليدونکی دولت ؤ ، چي وروسته د انګريز او فرانس د (سره بېل يې کړه ايل يې کړه)استعماري سياست ښکار شو ، او پر څلورو برخو (سوريا، لبنان، فلسطين او اوردن) باندي ووېشل شو .

مګر په قرآن او سنت کي چي چيري هم د شام ذکر راغلی مراد ورڅخه همدغه ټوله سيمه ده کومه چي نن تر سوريا، لبنان، فلسطين او اردن لاندي ده .

